CoST Infrastructure Transparency Initiative
Afghanistan



# د ډاډ ورکولو دریم راپور

## په ټولګټو بنسټیزو پروژو کې د روڼتیا او حساب ورکوونې څېړنه

د ۲۰۲۱ کال مې میاشت

Infrastructure
Transparency
Initiative
Afghanistan

# کاسټ - افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت

**تمویلوونکي:**

GIZ Open Policy Advisory Fund (OPAF)

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT


**د ډاټا ورکوونې ډله:**

صبغت الله کريمي

ذبيح الله ژکفر

احمد الله موج

غلام رضا ميرزايي

روح الله وفا


Photo Cov

# لړلیک

لنډیزونه او تعریفونه ........ vi
دکاسټ (CoST) په هکله ........ x
د څېړنې ډله ........ xi
مننلیک ........ Error! Bookmark not defined.
د پېل خبرې ........ xiv
لنډیز ........ ۱
اساسي موندنې ........ ۱
سپارښتنې ........ ٤
لومړی څپرکی: د څېړنې پېژندنه ........ ۷
1.1. د وضعیت اررزونه ........ ۹
1.2. د څېړنې طرحه ........ ۱۰
1.3. د څېړنې میتودولوژي ........ ۱۱
1.3.1. د اړوندو سندو د څېړنو کتنه ........ ۱۱
1.3.2. د اطلاعاتو د نمونې ټاکنه ........ ۱۱
1.3.3. اطلاعاتو ټولونه ........ ۱۵
1.3.4. سیمه ییزې لیدنې ........ ۱۵
1.3.5. د اطلاعاتو تحلیل ........ ۱۵
1.3.6. سلا مشورې او د راپور پرمختیا ........ ۱٦
دویم څپرکی: د پروژې د اطلاعاتو خپرول ........ ۱۸
۱,۱ د زېربنا د اطلاعاتو خپرول ........ ۲۰
۲,۱ د ارزونې کاري سیمه ........ ۲۱
۳,۱ په فعاله توګه د اطلاعاتو خپرول ........ ۲۱
۱.۱,۳ د پروژو په کچه او د قرارداد په کچه د اطلاعاتو د خپرولو توپیر ........ ۲۳
۴,۱ د اطلاعاتو انفعالي خپرول ........ ۲۷
دریم څپرکی، د تدارکاتو مدیریت ........ ۳۲

۳,۲ د داوطلبۍ لړۍ ..... ۳۶
۱,۳,۲ د داوطلبۍ موده ..... ۳۶
۲,۳,۲ د آفر د ارزونې موده ..... ۳۸
۳,۳,۲ د قرارداد د ورکړې موده ..... ۳۹
۴,۳,۲ د کار د پيل موده ..... ۴۰
۴,۲ د لګښت اټکل ..... ۴۱
څلورم څپرکی: د قرارداد مديريت ..... ٤٤
4.1. د ارزونې سيمه ..... ٤٦
4.2. د مهالوېش مديريت ..... ٤٦
4.3. د لګښت مديريت ..... ٤٨
4.4. د بدلونونو مديريت ..... ۵۰
4.5. مالي مديريت ..... ۵۱
پنځم څپرکی: د پروژو د قضيو څېړنې ..... ۵٤
۱,۱. هغه پروژې، چې اطلاعاتو ته يې خلک لاسرسی لري ..... ۵٦
۲,۲. هغه پروژې، چې اطلاعاتو ته يې خلک لاسرسی نه لري ..... ۷۹
شپږم څپرکی: اساسي موندنې او سپارښتنې ..... ۸۲
ضمايم ..... ۹۱
دريمه ضميمه: د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د معيار توکي ..... ۹۳

## د انځورونو ليست

انځور ۱: د قرارداد د پرمختګ د څارنې يو ډيشبورډ په اجاپس انلاين پليټفورم کې.
انځور ۲: د اطلاعاتو سيمې، چې د پروژې په هر پړاو کې د تدارکاتي ادارو له خوا په خپله خپاره شي.
انځور ۳: د هرې تدارکاتي ادارې له خوا په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه.
انځور ۴: د يوې بنسټيزې پروژې د اطلاعاتو خپرول، د پروژې او قرارداد په کچه، د اطلاعاتو په تفکيک سره.
انځور ۵: د افغانستان د بنسټيزې روڼتيا د نوښت د اطلاعاتو سيمې؛ د غوښتنې په اساس، د اطلاعاتو د خپرولو لپاره.
انځور ٦: په عمومي ډول او د تدارکاتي ادارو په کچه د غوښتنې په اساس د اطلاعاتو د خپرولو کچه.
انځور ۷: په عمومي ډول، د پروژې په کچه او د قراداد په کچه د هرې پروژې لخوا د غوښتنې له مخې د اطلاعاتو د خپرولو کچه.
انځور ۸: د داوطلبۍ د سندونو شمېر، چې وېشل شوی او ګډون  پکې شوی.
انځور ۹: د عمومي او پروژې له مخې د داوطلبۍ موده.
انځور ۱۰: د تدارکاتي ادارو په کچه د داوطلبۍ موده.
انځور ۱۱: د پروژې په کچه د داو طللبۍيو د ارزونې موده.

انځور ۱۲: د پروژې په کچه د قرارداد د ورکړې موده.

انځور ۱۳: د پروژې په کچه د قرارداد د پيل موده.

انځور ۱۴: د پروژې په کچه د براورد شويو او قرارداد شويو لګښتونو ترمنځ د بدلونونو اندازه.

انځور ۱۵: د پروژې له مخې د وخت زياتوالی.

انځور ١٦: د تدارکاتي ادارو په کچه د وخت زياتوالی.

انځور ۱۷: د پروژې په کچه د لګښتونو زياتوالی.

انځور ۱۸: د تدارکاتي ادارې په کچه د لګښتونو زياتوالی.

انځور ۱۹: د بدلونونو عمومي شمېر، تکرار او ډول.

## د جدولونو لیسټ

لومړی جدول: دا جدول د تدارکاتي ادارو شمېر، د هغوي له خوا د ۲۱۹ پروژو په هکله د اطلاعاتو خپرول، چې د لومړي ډول اطلاعاتو (په فعاله توګه د اطلاعاتو خپرولو) لپاره ټاکل شوي دي.

دويم جدول: د ۲۰ ټاکل شويو ودانيزو پروژو شمېر، چې د دويم ډول اطلاعاتو د نمونې لپاره ټاکل شوي دي.

درېيم جدول: داوطلبی د اسندونو شمېر، چې وېشل شوی، ګډون په کې شوی او په داوطلبۍ کې د ګډون کچه.

## د چارټونو لیسټ

چارټ ۱: د دويم ډول اطلاعاتوو لپاره د پروژو د غوره کولو سرچينه.

چارټ ۲: د OC4IDS د معيار له مخې د پروژې د دوران اندازه کول.

CONFIDENTIAL

# لنډیزونه او تعریفونه

| | |
|---|---|
| ADB | اسیا پرمختیایي بانک |
| AFN | د افغانستان پولي واحد |
| AGEOPS | د افغانستان برېښنايي او پرانیستی تدارکاتي سیسټم |
| ARA | افغانستان د ریل پټلیو اداره |
| ARDS | د افغانستان د بیا رغوونې او پرمختیا خدمتونه |
| AT | د تضمین کیفیت ټیم |
| ATL | اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون |
| AUWSSC | افغانستان د ښاري اوبو رسولو او کانالیزاسیون اداره |
| BoQ | د مقدارونو لیسټ |
| CAA | د ملکي هوانوردۍ اداره |
| CDC | ټولنې د پرمختیا شورا |
| CMO | قراردادونو د مدیریت مرکز |
| CoST | کاسټ – د زیربناوو د روڼتیا نوښت |
| CRIDA | د مرکزي سیمو د پرمختیا خپلواکه اداره |
| CSO | مدني ټولنې |
| DABS | د افغانستان برېښنا شرکت |
| GIRA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| ICB | نړیواله سیالیزه داوطلبي |
| IDB | اسلامي پرمختیایي بانک |
| IDS | د زیربناوو د اطلاعاتو معیار |
| IFB | د داوطلبۍ بلنه |
| JV | ګډه هوکړه |
| KM | کابل ښاروالي |
| KUTEI | کابل د ښاري ترانسپورټ د اغېزمنتوب پرمختیا |
| LICB | نړیوال محدود سیالیزه داوطلبي |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت |
| MEC | اداري فساد پر وړاندې مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمېټه |
| MEW | د انرژۍ او اوبو وزارت |
| MCIT | د ارتباطاتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MoEc | د اقتصاد وزارت |
| MoJ | عدلي وزارت |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| MoT | د ټرانسپورټ وزارت |
| MoU | تفاهملیک |
| MoUDL | د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت |
| MRRD | د کلیو پرمختیا او بیارغوونې وزارت |

CONFIDENTIAL

| | |
|---|---|
| MSG | د څو بنکپلو اړخونو ډله |
| MSWG | د څو بنکپلو اړخونو کاري ډله |
| NCB | ملي سیالیزه داوطلبي |
| NPA | د تدارکاتو ملي اداره |
| NPC | د تدارکاتو ملي کمیسیون |
| NTA | ملي تخنیکي مرستندوی |
| NUG | د ملي یووالي حکومت |
| NTP | د مخکې تګ یادښت |
| OCP | د پرانیستې قرارداد مشارکت |
| PE | تدارکاتي اداره |
| PPE | د شخصي خوندیتوب وسایل |
| PPU | د تدارکاتي پالیسۍ واحد |
| PWD | د ټولګټو ریاست |
| SSM | د واحدې منبع میتود |
| TI | د روڼتیا نړیواله اداره |
| ToR | د دندو لایحه |
| UN | ملګري ملتونه |
| USD | امریکایي ډالر |
| WB | نړیوال بانک |
| PH | عامه روغتیا |
| NDC | د ملي پراختیا شرکت |
| TUTAP | د ترکمنستان، ازبکستان، تاجکستان، افغانستان او پاکستان پروژه |
| EPC | انجنیري، تدارکات او رغنیز |
| RoW | د لارې حق |
| CASA | مرکزي اسیا، سویلي اسیا |

CONFIDENTIAL

# تعریفونه

| | |
|---|---|
| **پروژه** | پروژه په یو ځانګړي ځای کې د ودانیزو توکو د یو شمېر فعالیتونو د لېږد اصطلاح ده، چې په عمومي ډول د یو مدیریتي واحد (د پروژې مالک) او بودیجوي اداري تر چتر لاندې اجرا کېږي. |
| **قرارداد** | قرارداد یو قانوني یا رسمي مکلف کوونکی هوکړه لیک دی، څو د یو لړ شرایطو له مخې، چې هوکړه لیک کې ذکر شوي وي، د یوې تدارکاتي اداري او قراردادي یا سلاکار ترمنځ د یو لړ فعالیتونو د اجرا لپاره تر سره کېږي. د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) له مخې، یوه رغنیزه پروژه ښایي له څو قراردادونو جوړه وي، کوم چې د اسانتیاوو د لېږد لپاره تر سره کېږي. |
| **د بنسټیزې روڼتیا نوښت د اطلاعاتو شریکولو معیار (CoST IDS)** | د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) د زیربناوو د اطلاعاتو معیار د اطلاعاتو د خپرولو معیار دی، چې د کاسټ له لورې پلي کېږي. د کاسټ افغانستان د زېربناوو د اطلاعاتو معیار د اطلاعاتو ۶۳ نښو اړخونو ته اړتیا لري، چې د پروژې د پېژندنې، چمتووالي، بشپړتوب، تدارکاتو او پلي کولو په ګډون د یوې زېربنایي پروژې د دوران په بېلابېلو پړاوونو کې باید شریک شي. |
| **د معلوماتو شریکول** | د معلوماتو خپرول هغه بهیر دی، چې داړ وړاندې کوي د زېربنایي پروژو د موخې، کچې، لګښتونو او اجرااتو په هکله اطلاعات پرانیستي او د خلکو د لاسرسي وړ دي، او پر وخت، په سمه او دوامداره توګه شریکېږي. تدارکاتي اداري باید ډاډه کړي، چې اطلاعات د لاسرسي وړ دي او په عامه ډومین کې پرانیستي دي. |
| **د اطلاعاتو د خپرولو پورټال** | ویبپاڼه، پرلیکه سیسټم یا هر پرانیستی او د لاسرسي وړ پلیټفورم دی، چې تدارکاتي اداري یې په عامه ډومین کې د اطلاعاتو د خپرولو لپاره کاروي. |
| **په خپله د اطلاعاتو خپرول** | په خپله د اطلاعاتو خپرول هغو اطلاعاتو ته راجع کېږي، چې د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) له لورې د پروژو د مالکانو او تدارکاتي ادارو څخه غوښتل شوي وي، چې د پروژې د دوران په بېلابېلو پړاوونو کې یې شریک او خپاره کړي. دا اطلاعات په یو واضح او کارنده بڼه د خلکو لپاره د لاسرسي وړ پورټالونو کې خپرېږي، لکه : پرلیکه پورټال، چې زیات شمېر ښکېلو اړخونو ته پرانیستی او د لاسرسي وړ وي. |
| **تدارکاتي اداري** | تدارکاتي اداره: هغه اداره ده، چې له عامه بودیجې څخه د زېربنایي پروژو لپاره د تدارکاتو چارې پر مخ وړي، د یو عامه قرارداد د لاسلیک او مدیریت مسؤلیت لري. د ټرانسپورټ وزارت، کابل ښاروالی او نورې اداري یې بېلګې دي. |
| **د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو شریکول** | په غوښتل شوي ډول د اطلاعاتو شریکول: هغو اطلاعاتو ته وایي، چې د پروژو له مالکانو او تدارکاتي ادارو څخه غوښتل کېږي، چې اړوندو اشخاصو یا ادارو ته د غوښتنې پر بنسټ اطلاعات ورکړي. په دې ډول د اطلاعاتو په خپرولو کې هغه اداري ته په کارنده بڼه او د لاسرسي وړ ځای کې او ځانګړو شرایطو کې د اضافي اطلاعاتو ورکول شامل دي چې غوښتنه یې کړې وي. |
| **OC4IDS** | د پرانیستي قرارداد او د زېربناوو د اطلاعاتو معیار د زېربناوو د روڼتیا یو نوی معیار دی کوم، چې د پروژې |

CONFIDENTIAL

د  ځانګړي کولو، چمتووالي، پلي کولو او لېږد په ګډون د پروژې په نورو پړاوونو کې د اندازې وړ اطلاعاتو په شريکولو کې مرسته کوي . په دې کې د بنسټيزې روڼتيا نوښت (کاسټ) د اطلاعاتو د خپرولو ځانګړې پوهې سره يو ځای د پرانيستي قرارداد او پرانيستي اطلاعاتو له لارښوونو کار اخيستل کېږي.

د ودانيزو اطلاعاتو د معيارونو لپاره پرانيستی قرارداد د  زېربناوو د روڼتيا معيار؛ حکومت ته واضحې لارښوونې وړاندې کوي، چې کوم اطلاعات بايد خپاره کړي او لا ډېر مهم يې دا چې څنګه يې د پروژې به بېلابېلو پړاوونو کې خپاره کړي. دا به مرسته وکړي، چې عامه بوديجه له پېل څخه تر پايه په سمه توګه ولګول شي، او په راتلونکې کې به هم ورته ډاډ رامنځته کړي. په دې هکله د نورو اطلاعاتو لپاره دلته کليک کړئ.

CONFIDENTIAL

## د بنسټیزې روڼتیا نوښت (CoST) په هکله

د بنسټیزې روڼتیا نوښت یوه مخکښه نړیواله اداره ده، چې په ټولګټو زېربنايي پروژو کې د روڼتیا او ځواب ویینې د ښه والي لپاره کار کوي. د بنسټیزې روڼتیا نوښت له حکومت، خصوصي سکتور او مدني ټولنو سره کار کوي، څو د زېربنايي پروژو څخه ترلاسه شوي اطلاعات خپاره، تایید او تفسیر کړي. دا له وګړو سره مرسته کوي، چې پوه شي او له تصمیم نیوونکو سره حساب وکړي.

د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) د خپلو غړو پر مټ په ټوله نړۍ کې فعالیت کوي. کاسټ د خپلو غړو سربېره د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې له کلیدي ادارو سره په ګډه کار کوي، څو په نړیواله کچه په زېربنايي پروژو کې د روڼتیا او ځواب ویینې د تجربو او پوهې تبادلې ته زمینه برابره کړي. د کاسټ په نړیوالو شریکانو کې آرټیکل ۱۹، د ټرونونو پرانیستې مشارکت، د روڼتیا نړیوال سازمان او هایوس شامل دي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت، اداري فساد پر وړاندې مبارزې د څارنې او ارزونې کمېټې (میک) د یوې سپارښتنې په ترڅ کې د اقتصاد وزارت پر مټ د ۲۰۱۳ کال په اکتوبر میاشت کې د بنسټیزې روڼتیا د نوښت غړیتوب ترلاسه کړ او په رسمي ډول یې یاد نوښت په ۲۰۱٦ کال پرانیست. له دغه وخت راهیسې یاد نوښت له حکومتي ادارو، خصوصي سکتور او مدني ټولنې سره په ګډه کار کوي څو په عامه زېربنايي پروژو کې د روڼتیا او ځواب ویینې کچه ښه کړي.

CONFIDENTIAL

# د څېړنې ډله

## صبغت الله کريمي - د څېړنې مدير

Photo

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

xxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

## احمد الله موج - لوړ پوړی څېړونکی

Photo

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

xxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

## ذبيح الله ژکفر، څېړونکی

Photo

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

xxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

CONFIDENTIAL

## روح الله وفا، د تدارکاتو متخصص

Photo

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

xxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

## غلام رضا میرزایي، د ارتباطاتو متخصص

Photo

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

xxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxxx

Xxxxxxxxxxxxxxxxxx

CONFIDENTIAL

# کور ودانی

د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) د ډاډ ورکوونې کلنی راپور د ټولګټو زېربنايي پروژو په سکتور کې د روڼتیا او ځواب ويينې د اندازه کولو لپاره د ګڼو ذينفعو خواوو کاري ډلې (MSG) هڅه ده. د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) د افغانستان ملي دارالانشاء، د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت، د ښاري پراختيا او ځمکو وزارت، د افغانستان برېښنا شرکت او د کابل ښاروالي د ټولو مرکزي او ولايتي دفترونو مننديوى دى، چې د اطلاعاتو، د پروژو د اسنادونو او کليدي معلوماتو د وړاندې کولو پر مټ يې د ډاډ ور کونې د دغه دريم راپور په پرمختيا او چمتو کولو کې مرسته کړې ده.

ياده دارالانشاء د افغانستان د اقتصاد وزيرې او د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د ګڼو ذينفعو خواوو د کاري ډلې مشرې جلالتماب ډاکټر کريمه حامد فاريابى، څخه د نومورې د دوامدار ملاتړ او د دې راپور په چمتو کولو کې د هغې د همکارۍ له امله مننه کوي. همدارنګه، دغه دارالانشاء د ګڼو ذينفعو خواوو کاري ډلې (MSG) د غړو، څارونکو، دولتي شريکانو، مدني ټولنو او خصوصي سکتور څخه د دې راپور د څېړنېز بهير او لومړۍ مسوده کې د هغوى د ارزښت لرونکې مرستې لپاره مننه کوي.

ياده دارالانشاء په دې توګه د کاسټ افغانستان، د روڼتيا سازمان څخه د څېړنې په ټول بهير او د راپور د چمتووالي پرمهال د هغوى د اداري او لوژستيکي مرستو له کبله مننه کوي. د جی آی زيډ افغانستان – (OPAF) څخه ځانګړې مننه کوو، چې په د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) باندې يې خپل باور څرګند کړ او د دې راپور د پرمختيا، چمتووالي او ترسره کولو لپاره يې مالي ملاتړ ته اووږه ورکړه، چې د دغه ملاتړ پرته يې بشپړول خورا ستونزمن وو.

# د پیل خبرې

د کاسټ افغانستان د مشرې جلالتمآب د اقتصاد وزیرې پیغام

د راپور په وروستۍ بڼه کې ور زیات شي

CONFIDENTIAL

# لنډيز

**د افغانستان حکومت د ۲۰۱۳ کال په اکتوبر میاشت کې د بنسټیزې روڼتیا د نوښت (کاسټ) غړیتوب ترلاسه کړ، څو په زېربنايي سکتور کې د روڼتیا او ځواب ویینې کچه زیاته کړي.** کاسټ افغانستان د ګڼو ذینفعو خواوو د کاري ډلې (MSG) له خوا اداره کېږي، چې د دولت، مدني ټولنې او خصوصي سکتورونو له استازو جوړه ده او مشري یې د افغانستان د اقتصاد وزارت کوي. کاسټ د خپلو څلور ځانګړنو پر مټ په زېربنايي سکتور کې د روڼتیا د زیاتوالي او د پیسو د ارزښت د لوړوالي لپاره کار کوي. دغه ځانګړنې په دې ډول دي: د ګڼو ذینفعو خواوو د ګډې کاري ډلې تګلاره، د اطلاعاتو خپرول، ډاډ ورکوونه او ټولنیزه ځوابوییته.

**دا راپور د کاسټ افغانستان له لوري د ډاډ ورکوونې د دریېم بهیر په ترڅ کې چمتو شوی دی.** د دې راپور اساسي موخه دا ده، چې د اړوندو تدارکاتي ادارو له لورې د ټولو زېربنايي پروژو په هکله اطلاعات له خلکو سره د افغانستان د برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم پرلیکه د پلیټفورم له لارې شریک شي او د ټاکلو زېربنايي پروژو د تدارکاتي او مدیریتي بهیرونو پرانیستوالی او اغېزمنتوب و ارزول شي. د دې راپور د چمتو کولو په پار لوی فعالیتونه د کاسټ نړیوالې ادارې د ډاډ ورکوونې د لارښود او کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولو لارښوود پربنسټ د ۲۰۲۰ کال د د سپټمبر او د ۲۰۲۱ کال د مې میاشتو ترمنځ تر سره شوي دي.

**په دې راپور کې ۲۲۹ ټولګټې زېربنايي پروژې تر پوښښ لاندې راوړل شوي دي، چې تدارکاتي ارزښت یې ۱ ملیارډ ډالرو ته رسېږي.** د ۲۱۹ زېربنايي پروژو تدارکاتي چارې د ۱۳۹۸ مالي کال پر مهال تر سره شوې دي، چې اطلاعات یې د افغانستان د برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې په فعال ډول د ۲۰۲۰ کال د اپرېل څخه تر مې میاشت پورې خپاره شوي دي. همدارنګه، ۱۰ نورې پروژې د هغه لیسټ څخه ورزیاتې شوې، چې د ګڼو ذینفعو خواوو د کاري ډلې او دولتي ادارو له خوا وړاندې شوې. د ټولو پروژو له ډلې، ۲۰ پروژې د دې لپاره ټاکل شوې؛ څو د غوښتل شویو اطلاعاتو د خپرولو کچه یې معلومه شي او د تدارکاتي او مدیریتي پروسو ارزونه یې ترسره شي.

## اساسي موندنې

**په فعاله ډول (په خپله) د اطلاعاتو د خپرولو ټوله کچه ۳۲٪ ثبت شوې.** دا شمېر د هغه اطلاعاتو د بشپړوالي کچه څرګندوي، چې د تدارکاتي ادارو له لورې د افغانستان د برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې خلکو سره په خپله د اطلاعاتو شریکولو د ۶۳ معیار پربنسټ خپاره شوې. د ډاډ ورکوونې د دویم راپور په پرتله په دې راپور کې ۳,۸٪ کموالی څرګند شوی دی، چې بنايي د اطلاعاتو د خپرولو په تړاو د تدارکاتي ادارو د وړتیا د کموالي، د پروژو په کچه د اطلاعاتو د نه خپرولو او د ملي تدارکاتو ادارې له مخې د ځینو ورکول شویو اطلاعاتو د اړوند سیمو پر ځای د اسنادونو د خپرولو او نورو لاملونو له کبله وي.

**د پروژو په کچه اطلاعات نه دي خپاره شوي.** د افغانستان په تدارکاتي سیستم کې د پروژې او قرارداد د مفاهیمو ترمنځ څرګند توپیر نه کېږي، په همدې اساس، د کاسټ له مخې د پروژې په کچه د تدارکاتي ادارو له خوا د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د سیمو نقطې نه اخېستل کېږي او نه خپرېږي. د افغانستان د برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې یواځې د قراردادونو اړوند اطلاعات

خپرېږي، چې په خپله خوښه يې په کې د پروژې په کچه ځينې حقايق ور زيات کړي وي. له بل پلوه، کاسټ افغانستان په دې غور کوي، چې څنګه د اطلاعاتو د خپرولو نوی موډل يعنې د زېربنايي پروژو د اطلاعاتو د معيارونو لپاره د پرانيستي قراردادونو تګلاره عملي کړي؟ چې خلکو ته لا ډېر دوامدار او اغېزناک د اطلاعاتو بسته وړاندې کوي.

**د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو مجموعي کچه تر ٦٦٪ ده.** دا کچه د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو د بشپړتيا کچه څرګندوي، چې د تدارکاتي ادارو له لوري د کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولو د ٢٧ معيار له مخې تر سره کېږي. په دې برخه کې د دويم راپور په پرتله ۹٪ زياتوالی ليدل کېږي، چې لامل يې ښايي د تدارکاتي ادارو د ځواب ورکولو او پرانيستوالي په کچه کې زياتوالی وي. که څه هم څو ځلې ترې غوښتنه شوې او اړيکه ورسره نيول شوې؛ خو د ولسمشرۍ د چارو ادارې د عملياتي واحد د کوويډ – ۱۹ د بېړنيو پېښو د ۴ زېربنايي پروژو په تړاو هېڅ ډول غوښتل شوي اطلاعات نه دي خپاره کړي.

**بولۍ لپاره د سيالۍ کچه په داوطلبيو کې د قرارداديانو د ګډون له منځنۍ کچې معلومېږي.** دا کچه د هغو بوليو د منځنۍ اندازې له نسبت څخه اخيستل شوې، چې د بولۍ اسناد ورته وېشل شوي دي. په منځنۍ کچه، په هره بولۍ کې ٦ داوطلبانو برخه اخيستې ده؛ خو ۳۳ داوطلبانو ته د بولۍ اسنادو وېشل شوي دي؛ کوم چې د تېر راپور په پرتله ۳۳٪ زياتوالی څرګندوي. د افغانستان برېښنا شرکت د پروژو د بوليو په تړاو تر ټولو ډېر (٦٨) داوطلبانو ته د بوليو اسنادو وېشل شوي دي. ورپسې د کابل ښاروالي، د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت راځي. د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د پروژو په بوليو کې تر ټولو ډېر(٨) داوطلبانو ګډون کړی، چې دې پسې د ښاري پراختيا او ځمکو وزارت، کابل ښاروالي او د افغانستان برېښنا شرکت په ترتيب سره راځي. د بوليو د اسنادو د وېش په کچه کې د زياتوالي لامل ښايي دا وي، چې د بوليو اسناد د ځينې تدارکاتي ادارو ، لکه: د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ له لوري په انلاين بڼه خپاره شوي، خو په دې برخه کې هغه نوښتونه او اقدامات هم برخه لري، چې د تدارکاتي ادارو، ملي تدارکاتو ادارې او کاسټ افغانستان له لوري د ټولګټو زېربنايي پروژو د داوطلبيو د اصلاح لپاره تر سره شوي دي. په نورو لاملونو کې ښايي دا هم شامل وي، چې د زېربنايي پروژو داوطلبيو بهير راکم شوی.

**د بولۍ منځنۍ موده ۲۰۵ ورځې ثبت شوې،** چې په دې کې د دويم راپور په پرتله د ۱۳۱ ورځو کموالی هم شامل دی. د افغانستان برېښنا شرکت پروژې، او ورپسې د کابل ښاروالۍ او کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د پروژو لپاره په داوطلبيو کې تر ډېر ځنډ تر سترګو شوی، په داسې حال کې، چې د ښاري پراختيا او ځمکو وزارت د پروژو دواطلبۍ په منځنۍ موده کې ترسره شوې ده. د داوطلبيو د مودې د اوږدوالي لپاره يو شمېر لاملونه، لکه: د داوطلبيو په ارزونه، د قرارداد په ورکړه او د کار په پيلولو کې ځنډ په ګوته شوي دي.

1. د افغانستان برېښنا شرکت، د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت د پروژو په داوطلبيو کې د منځنۍ کچې څخه زيات (تر ٦٠ يا ډېرو ورځو) ځنډ ليدل شوی، دا په داسې حال کې ده، چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په پروژو کې داوطلبي په منځنۍ موده (تر ۳۰) کې بشپړې شوې دي.

2. د داوطلبۍ د ارزونې پړاو او قرارداد د ورکړې د نېټې ترمنځ تر ۱۰۰ ورځو پورې ځنډ رامنځته شوی. د افغانستان برېښنا شرکت په لومړي سر کې او ورپسې د کابل ښاروالۍ او کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت پروژو په داوطلبیو کې تر ټولو ډېر ځنډ لیدل شوی دی، خو د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د پروژو په داوطلبیو کې د ځنډ کچه کمه ده.

3. د افغانستان برېښنا شرکت او ورپسې د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت د پروژو د قرارداد د ورکړې او د کار د پیلولو د نېټې ترمنځ تر ټولو اوږده موده تر سترګو شوې ده. برعکس، د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت او د کابل ښاروالۍ په ټولو پروژو کې (له عرفاني سړک پرته)، د کار د پیلولو یادښت (NTP) د قرارداد له ورکړې سره سم اجرا شوی دی.

د افغانستان برېښنا شرکت د پروژو په داوطلبیو کې دوامداره ځنډ ښایي له دې امله وي، چې د برېښنا لویې پروژې ځانګړې تدارکاتي بنې لري او تر ډېره پرې سیاسي او ټولنیز شرایط اغېز لري. خو، په نورو پروژو کې دا ډول ځنډ د عنعنوي اوږدو تګلارو له کبله رامنځته کېږي.

**د ودانیزو پروژو په نږدې ټولو نمونو کې لګښتونه تر ټاکلې اندازې ډېر اټکل شوي دي.** د اټکل شوي لګښت او د قرارداد د لګښتونو ترمنځ له ۲٪ تر ۳۲ ٪ توپیر لیدل کېږي، چې په ډېرو حالاتو کې له اټکل شوي لګښت څخه د قرارداد لګښت ډېر شوی نه دی، چې د عامه تدارکاتو په کړنلارو کې یې اټکل شوی. خو، په دوامداره توګه د زیات براورد دغه میلان د داوطلبۍ په سیالۍ باندې ناوړه اغېز لرلی شي، ځکه چې د داوطلبۍ د ارزونې ځانګړنې د پروژې د براورد شوي لګښت له مخې ټاکل کېږي.

**په منځنۍ کچه، ۴۶٪ د وخت ځنډ او ۱۰٪ د لګښتونو ډېروالی لیدل شوی،** چې د ډاډ ورکولو د دویم راپور په پرتله ۱۸,۳٪ د ځنډ کموالی او په لګښتونو کې ۶,۲٪ زیاتوالی څرګندوي. په ټوله کې، په ۱۲ پروژو کې پروژې له ټاکل شوي وخت څخه په ځنډ بشپړې شوې دي. په داسې حال کې، چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په پروژو کې تر ۹۶٪ ځنډ راغلی، ورپسې د کابل ښاروالۍ، افغانستان برېښنا شرکت او د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت پروژې په دې کتار کې راځي، چې په پروژو کې یې په ترتیب سره ځنډ رامنځته شوی. د دې ترڅنګ، د کلیو بیا رغونې او پرمختیا وزارت پرته، د ټولو تدارکاتي ادارو په پروژو کې لګښتونه زیات شوي. د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې تر ۱۷٪ لګښتونه تر ټاکلې اندازې اوښتي، ورپسې د کابل ښاروالۍ او ښار جوړولو او ځمکو وزارت پروژې دي.

که څه هم یو شمېر بهرني عوامل شتون لري، لکه د کووېډ – ۱۹ وبا خپرېدل، د حکومت په مالیاتو کې بدلون، ناوړه اقلیمي شرایط، خو د لګښتونو زیاتوالی تر ډېره د ناسمې سروې او کمزورې ډیزاین، د ځمکو نامناسب استملاک او بیا مېشت کولو د پلان، ناکافي څارنې او همدارنګه په ځنډ سره قراردادیانو ته د اوامرو بدلون اجرا او په ځنډ سره د پیسو ورکړې اړوند ناکافي او ناڅرګندې کړنلارې د دغه لګښتونو د ډېروالي لاملونه دي.

**قراردادیانو ته په ځنډ د پیسو ورکړه په خپل وخت د پروژو د بشپړېدو او داوطلبیو د سیالیو د کچې پر وړاندې خنډونه دي.** د خصوصي سکتور د استازو په وینا او د ځینې پروژو د اطلاعاتو له مخې، د قراردادونو د پیسو د ورکړې بهیر په منځنۍ کچه له ۳ تر ۵ میاشتې وخت نیسي. که څه هم د کابل ښاروالۍ او د افغانستان برېښنا شرکت په ځینې پروژو کې په منځنۍ کچه د قراردادونو د پیسو ورکړه لیدل شوې ده. د تدارکاتي ادارو او خصوصي سکتورونو استازو څرګنده کړې، چې د تدارکاتي ادارو له لورې په ځنډ سره د

CONFIDENTIAL

پیسو د ورکړې د تصدیق اجرا او د مالیي وزارت له لورې د پیسو د ورکړې اوږد بهیر په ټولو پروژو کې د پیسو په ورکړه کې د ځنډ دوه لوی لاملونه دي.

**زیاتره سیمه ییز شرکتونه د ټیټ ظرفیت لرونکي دي او حکومت سره د رغنیزو خبرو اترو له کمښت سره مخ دي.** د پـروژې د اطلاعـاتو او د ترسره شویو مرکو له مخې، په تدارکاتي ادارو کې د عامه تـدارکاتو پـه هکلـه ناکـافي پوهـه، ځینـې وختونـه د دې لامـل کېـږي، چـې نیمګړې او ناسمې داوطلبۍ تر لاسه شي. همدارنګه، د پروژو د مدیریت کمزوری ظرفیت، په ځانګړې ډول د ستراتیژیو او ګوابښونو د مدیریت، کیفیت د مدیریت او اړیکو د وړتیاوو کمښت؛ هغه لاملونه دي، چې قراردادیان او خصوصي سکتور یـې لـه ګـوابښ سره مـخ کړی دی.

**د مدني ټولنې له خوا ناکافي ښکېلتیا او د څارنې کموالی.** د افغانستان د برېښنایي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې د اطلاعـاتو خپرول او اطلاعـاتو ته د لاسرسي قانون د مدني ټولنو لپاره پیاوړې وسیلې دي، چې پر مټ یې کولی شو په ټولګټو زېربنـایي پـروژو کې د روڼتیا او ځواب ویینې کچه زیاته کړي. خو د زېربنایي پروژو په تاکل شویو نمونو کـې لیـدل شـوي، چـې د پـلان جـوړونې او څارنې په برخه کې مدني ټولنو ډېره ونډه نه ده لرلې.

## سپارښتنې

1. **په خپله د اطلاعاتو د خپرولو د کچې معلوملو لپاره،** تدارکاتي ادارو ته سپارښتنه کېږي، چې په منظم ډول د ټولګټو زېربنـایي پروژو په هکله د اطلاعاتو د خپرولو اړوند د وړتیا لوړونې لپاره کار وکړي. د ملي تـدارکاتو ادارې تـه وړانـدیز کېـږي، چـې د عامه تدارکاتو د قوانینو او کړنلارو د تعدیل لپاره زمینه برابره کړي، څو د تدارکاتو اجرات او د قـرارداد د مـدیریت بهیرونـه داسې برابر شي، چې تدارکاتي ادارو له لورې نوي او کره اطلاعات د افغانستان د برېښنایي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې خپاره شي. همدارنګه، د ملي تدارکاتو ادارې ته وړاندیز کېږي، چې د اطلاعاتو هغـه نښـې/اړخونه د افغانسـتان د برېښنایي او پرانیستي تدارکاتي سیستم له لارې خپاره کړي، چې د کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولـو معیـارونو لـه مخې یې غوښتنه شوي ده.

**د غوښتنې پربنسټ د پروژې په کچه د اطلاعاتو د خپرولو په برخه کې د کموالي ارزونه،** اقتصاد وزارت ته سپارښتنه کېږي چې د مالیي وزارت، د چارو ادارې، ملي تدارکاتو ادارې او نورو اړوندو تقنیني بنسټونو په همکارۍ، د پرانیستې قرارداد او د زېربناوو د اطلاعاتو معیارونو (OC4IDS) د پروژې او قرارداد د مفاهیمو د واضح کولو بهیر ترسره کړي، کوم چې یو هر اړخیز او زېربناوو اړوند د اطلاعاتو معیار دی. همدارنګه، د ملي تدارکاتو ادارې ته سپارښتنه کېږي چې له اړوندو ادارو سره د نږدې همکارۍ پر مټ د افغانستان د برېښنایي او پرانیستي تدارکاتي سیسټم کې د د پرانیستې قرارداد او د زېربناوو د اطلاعاتو معیار (OC4IDS) د اطلاعاتو د خپرولو موډل شامل کړي.

2. **د تدارکاتي ادارو له لورې د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو د کموالي د ارزونې لپاره،** اطلاعـاتو تـه د لاسرسي کمیسـیون ته سپارښتنه کېږي چې د اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره د خلکو غوښتنې په منظمه توګه وڅاري، او په هغو تدارکاتي ادارو باندې مجازات او قانوني کړنې پلي کړي چې موندل شي د اطلاعاتو د خپرولو قوانین او کړنلارې نـه پـلي کـوي. دا اقـدام ښایي د تدارکاتي ادارو د ځواب ورکولو او ځواب ویینې کچه زیاته کړي.

CONFIDENTIAL

3. **په عامه تدارکاتو کې د سيمه ييزو شرکتونو د ګډون د ډېروالي په موخه،** سپارښتنه کېږي چې تدارکاتي اداري دې د داوطلبۍ د ځانګړنو د ارزونې پرمهال له نرمۍ کار واخلي او د يو شان پروژو اړتياوې دې د يو شان کړنو په اړتياوو بدلې کړي، او د کلنۍ بيا کتنې موده دې له پنځو کلونو څخه لس کلونو ته وغځوي. همدارنګه، سيمه ييز شرکتونو ته وړانديز کېږي چې له نړيوالو شرکتونو سره ګډ تفاهم رامنځته کړي څو د لويو زېربنايي پروژو لکه بندونو، د برېښنا لېږد، ملي لويو لارو او نورو په داوطلبيو کې د ګډون جوګه شي.

4. **د پروژو د لګښتونو د زيات براورد د مخنيوي لپاره**، تدارکاتي ادارو ته سپارښتنه کېږي چې د لګښتونو د براورد او محاسبې لپاره له نوې مېتود څخه کار واخلي، او په عامه زېربنايي پروژو کې د زيات براورد د کچې د کمولو لپاره اړين ګامونه پورته کړي. له حده ډېر براورد د ټولګټو زېربنايي پروژو په داوطلبيو کې د زيات شمېر داوطلبانو د ګډون مخه نيسي.

5. **په پروژو کې د ځنډ او لګښتونو د ډېروالي د مخنيوي لپاره،** تدارکاتي ادارو ته سپارښتنه کېږي چې په هر اړخيز ډول د پروژو د ځانګړي کولو او چمتو والي د پړاوونو لپاره مفصل بهيرونه له سره وضع کړي چې د سروې، ډيزاين، د لګښتونو براورد، مهالوېش ټاکل او ځمکو د استملاک په پړاوونو کې له تېرو تجربو او دوامداره ځنډونو څخه د تړلاسه شويو زده کړو څخه په کې ګټه اخېستل شوې وي. تدارکاتي ادارو ته وړانديز کېږي چې د قراردادونو د څارنې په هر اړخيز ميکانيزم له سره غور وکړي او د تدارکاتي ادارو او د هغوي د سلاکارانو د اصلاح شوې دندې، سرچينې، مېتودونه او لارې چارې له سره تعريف کړي.

6. **د پيسو په ورکړه کې د ځنډ د ستونزې هوارولو په موخه**، تدارکاتي ادارو ته سپارښتنه کېږي د ماليې وزارت او ملي تدارکاتو ادارې سره په همغږۍ، قرارداديانو ته د پيسو د ورکړې اوسنې عنعنوي مېتودونه نوي کړي او د پيسو د ورکړې لپاره پر ليکه ميکانيزم چمتو کړي څو قراردادونه په ښه شکل وڅارل شي او پيسې يې په اسانۍ ورکړل شي. پر وخت او اغېزناک ډول د پيسو ورکړه د عامه پروژو په داوطلبيو د باور کچه ډېروي او د غير ضروري ځنډونو او لګښتونو د زياتوالي مخه نيسي.

7. **د خصوصي سکتور د وړتيا لوړولو او ملاتړ په موخه،** د افغانستان د ساختماني شرکتونو ټولنې او د افغانستان د انجنيرانو ټولنې ته سپارښتنه کېږي چې د سيمه ييزو شرکتونو لپاره منظم اقدامات چمتو کړي څو د تدارکاتو او مديريتي پوهې او وړتياوو اړوند د هغوي ظرفيت لوړونه وشي. د افغانستان د ساختماني شرکتونو ټولنې ته همدارنګه وړانديز کېږي چې د ټولګټو زېربنايي پروژو د تدارکاتو په هکله د تجربو او انديښنو د شريکولو په موخه د شرکتونو، قراردادیانو، تدارکاتي ادارو، د ملي تدارکاتو ادارې او ماليې وزارت ترمنځ د منظمو غونډو لپاره زمينه برابره کړي.

8. **مدني ټولنې ته سپارښتنه کېږي چې په ټولګټو زېربنايي پروژو کې د ټولنيزې ځواب ويينې د ډېروالي لپاره کار وکړي،** مدني ټولنې ته سپارښتنه کېږي چې داسې برنامې پر لار واچوي چې خلکو سره د شريکو شويو اطلاعاتو په کارولو خلکو ته د زېربناوو د مديريت سيسټمونو او تدارکاتو د اغېزناکتوب او پرانيستوالي په تړاو په منظم ډول داډ ورکړي. همدارنګه،

CONFIDENTIAL

سپارښتنه کېږي چې مدني ټولنه دې د کاسټ افغانستان د ډاډ ورکوونې راپورونو د سپارښتنو د پلي کولو په تړاو سلا مشورې وکړي.

CONFIDENTIAL

# لومړی څپرکی: د څېړنې پېژندنه



د ډاټا ورکوونې ټیم د بنسټیزې روښتیا نوښت (کاسټ) د څو ښکېلو اړخونو ډلې ته د ډاټا  ورکوونې بهیر او څېړنې د مېتودولوژۍ د وړاندې کولو پرمهال

د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر ۱۵مه، د اقتصاد وزارت، کابل - افغانستان

# لنډه کتنه

په دې څېړکي کې په لنډ ډول په افغانستان کې د زېربناوو د پراختيا د رول او وضعيت په هکله بحث شوی دی. په دې کې د وروستيو اقداماتو په اړه اطلاعات وړاندې شوي دي؛ کوم چې د روڼتيا او حساب ورکوونې د زياتوالي په موخه د حکومت او مدني ټولنې له خوا د زېربناوو اړوند اطلاعاتو د خپرولو په تړاو تر سره شوي دي. د دې څېرکي ډېره برخه د څېړنې مېتودولوژي او د دې راپور د چمتو کولو لپاره ترسره شوې پروسې تشريح کوي.

CONFIDENTIAL

## 1.1. په ودانیز سکټور کې د وضعیت ارزونه

ودانیزه پراختیا، اقتصادي پرمختګ ته د رسېدو لپاره اساسي اړتیا او لومړیتوب بلل کېږي. په داسې حال کې چې د دوام لرونکې پراختیا ډېرى نړيوالې موخې (SDG) په ودانیز سکتور کې د اصلاحاتو وړاندیز کوي. یوه تازه څېړنه، چې د زېربناوو د نړیوالې شبکې لخوا ترسره شوې ده، اټکل کوي، چې د زېربناوو په برخه کې ۹۷ تریلیون ډالرو ته اړتیا ده، څو د ۲۰۴۰ کال دوام لرونکې پراختیا موخې تر لاسه شي، خو ډېر احتمال شته، چې په دغه برخه کې به یواځې ۱۸ تریلیون ډالره پانګونه وشي . د کاسټ تجربې څرګندوي، چې د دغه پیسو ۱۰-۳۰ سلنه به د ناسم مدیریت او ناکافي پانګونې له کبله ضایع شي . ٣

په افغانستان کې د زېربناوو د ملي پلان (NIP 2017-2021) له مخې، په منځنۍ توګه د ملي پراختیایي بودیجې ۴۵٪ د زېربناوو په پراختیا باندې لګول کېږي. اټکل کېږي، چې هر کال تر ۸۰۰ ملیون ډالرو پورې د زېربناوو په پراختیا مصرفیږي، چې له ډلې یې ۶۰۰ ملیونه ډالره له پلان شوې بودیجې او ۲۰۰ ملیونه ډالره له بهرنیو مرستو څخه تر لاسه کېږي . په دې برخه کې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د شویو پرمختګونو سربېره هم افغانستان د زېربناوو له سخت کمښت سره مخ دی.

د افغانستان د ژوند د شرایطو د یوې سروې له مخې چې له ۲۰۱٦ څخه تر ۲۰۱۷ پورې ترسره شوې، یواځې ۳٦٪ وګړي د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی لري، چې له ډلې یې د ښار ۷۵٪ او په کلیوالي سیمو کې یواځې ۲۵٪ وګړي د څښاک لپاره پاکې اوبه ترلاسه کوي. همدارنګه، یواځې ۳۱٪ وګړي د برېښنا له شبکې سره وصل دي، کوم چې په ښاري سیمو کې د برېښنا اساسي سرچینه ده، چې د ښاري سیمو ۹۲٪ وګړي ترې ګټه پورته کوي، خو په کلیوالي سیمو کې دا شمېر یواځې ۱۳٪ دی. د کلیوالي سیمو یواځې ٦۳٪ وګړي په داسې سیمو کې ژوند کوي، چې سړک ترې دوه کیلو متره لرې دی، او د سړکونو کچه په هر ۱۰۰ کیلومتر مربع کې تر ۱۵ کیلومترو پورې محدوده ده، چې دا حتی د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو څخه هم کم دي . ٥

د دې ترڅنګ، په افغانستان کې د زېربناوو عمومي وضعیت کمزوری دی. د نړیوال بانک د لوژستیکي کړنو د شاخص له مخې، ٦ افغانستان د سوداګرۍ او ټرانسپورټ لپاره د زېربناوو د کیفیت له پلوه په درجه بندۍ کې تر ټولو وروسته دی . د دغو ځنډونو په ځواب کې، حکومت د ټولګټو زېربناوو د پراختیا لپاره یو لړ اقدامات تر سره کړي دي. په ۲۰۱۴ کې، د تدارکاتي چارو د سمون لپاره د تدارکاتو ملي ادارې په نوم یوه مرکزي اداره جوړه شوې ده.

د تدارکاتو ملي ادارې تر دې دمه یو لړ اقدامات ترسره کړي چې په هغې کې د پرلیکه (انلاین) تدارکاتي پورتال ، په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم او په ۲۰۲۰ کال کې د برېښنايي داوطلبۍ د سیستم پرانیسته او فعالول

CONFIDENTIAL

[1] د اقتصادي څېرکتیا واحد، ۲۰۱۹، د دوامدارې پراختیا د موخو لپاره د زېربناوو اړین رول: https://www.unops.org/news-and-stories/publications/the-critical-role-of-infrastructure-for-the-sdgs

[2] Global Infrastructure Hub, available at: https://outlook.gihub.org/

[3] Global Infrastructure Hub, available at: https://outlook.gihub.org/

[٤] د زېربناوو ملي پلان، ماليي وزارت، ص. ٦، : http://policymof.gov.af/home/wp-content/uploads/2019/01/Natioal-Infrastructure-NPP.pdf

[5] Central Statistic Organization, Afghanistan Living Conditions Survey (2016 – 2017), available at:

[٦] د سیالۍ لپاره نښلیدل، ۲۰۱٦، سوداګري او لوژستیک په نړیوال اقتصاد کې، د لوژستیکي کړنو شاخص او ښودونکي، ص.۳۸-۵۴، https://documents.worldbank.org/curated/en/819531467075312039/pdf/106646-WP-P157496-PUBLIC-LogisticsPerformanceIndexLPI.pdf

شامل دي. اوسمهال، د اجناسو، خدماتو او چارو د شاوخوا ۵۰۰۰ قراردادونو اطلاعات د یادو ملي پرلیکه پورتالونو لـه لارې خپـاره شوي دي. دا د څرګندولو بهیر او د زېربنایي پروژو په لېږد کې د خلکو د ګډون د بنسټیز کولو پر لور ستر ګام بلل کېږي.

د اداري فساد پر وړاندې مبارزې د څارنې او ارزونې کمېټې (میک) د سپارښتنې پربنسټ، افغانستان په ۲۰۱۳ کال کې د بنسـټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) غړیتوب ترلاسه کړ. کاسټ افغانستان د ګڼو ذینفعو خواوو ګډې کاري ډلې (MSG) له خوا پر مخ وړل کېږي، د یوې ملي دارالانشاء له خوا اداره کېږي او موډل یې د کاسټ د نړیوالو ځانګړنو او معیارونو له مخې چمتو شـوی دی. موخـه یـې دا ده چې د عامه سکتور په رغنیزو پروژو کې د روڼتیا او حساب ورکوونې د ډېروالي پر مټ په زېربناوو باندې د لګول کېـدونکو پیسـو ارزښت زیات شي. دا د یو داسې سوداګریز چاپېریال په رامنځته کولو کې مرسته کوي، چې د اداري فساد د پېښېدو امکـان پـه کـې کمېږي او د مدیریت او اغېزمنتوب کچه یې زیاتېږي.

د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) خپلې موخې ته د څلور اساسي ځانګړنو پرمټ ځان رسوي، چې دغه ځـانګړنې پـه دې ډول دي: ۱) پرانیستوالی، ۲) د پروسې د کیفیت تضمین، ۳) د څو ښکېلو اړخونو ډله او ۴) ټولنیزه حساب ورکوونه. د کاسټ له ځـانګړنو سره د سمون لپاره اړینه ده، چې د پروژو او تدارکاتي تصدیو خاوندان د زېربنایي پروژو اطلاعات په عامه کانـالونو کـې څرګنـد او خپـاره کړي. د د بنسټیزې روڼتیا نوښت د ډاډ ورکوونې بهیر د ګڼو ذینفعو خواوو د ګډې کاري ډلې (MSG) او خلکو سره مرسته کوي، چې په خپرو شویو اطلاعاتو پوه شي، د لېوالتیا وړ موضوعات یا اندېښنې یې ځانګړې کړي او د زېربنـایي سـکتور د روڼتیـا او حسـاب ورکوونې اړوند اساسي پیغامونه ولېږدوي. په ورته وخت کې، کاسټ د پیسـو ارزښـت زیـاتوي او پـه پایلـه کـې ښـه کیفیـت لرونکـي زېربنایي جوړښتونه او خدمات وړاندې کوي.

## 1.2. د څېړنې طرحه

د ۲۰۱٦ کال له منځیو راهیسې، د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) تر دې دمه د زېربنایي پروژو په هکله د ډاډ ورکوونې دوه راپورونه چمتو کړي دي. د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر میاشت کې، د ګڼو ذینفعو خواوو د ګډې کاري ډلې (MSG) د څېړنې یوه ډله (د ډاډ ورکونې ډله) وګمارله څو د ډاډ ورکوونې دغه درېیم راپور چمتو کـړي. د دې راپـور موخـه دا ده، چـې د افغانسـتان پـه زېربنـایي سکتور کې د روڼتیا او حساب ورکوونې د وضعیت یوه لنډه کتنه وړاندې شي. په دې راپور کـې د ۲۲۹ عامـه زېربنـایي پـروژو اړونـد خپرو شویو اطلاعاتو فعاله ارزونه شوې ده، چې ارزښت یې نږدې یو ملیارد ډالرو ته رسېږي. همدارنګه د دغـو پـروژو د تـدارکاتي او مدیریتي پروسو پرانیستوالي او اغېزمنتوب ته کتنه شوې ده او په ټاکل شویو ۲۰ زېربنایي پروژو کې د احتمالي اندېښنو د حـل پـه موخه سپارښتنې وړاندې شوې دي. د دې راپور لپاره څېړنه د ۲۰۲۰ کال د سـپتمبر او د ۲۰۲۱ کـال د مـی میاشـتو تـرمنځ تـرسره شوې ده. د اطلاعاتو لومړنی ټولوونه د ۲۰۲۰ کال له اپریل څخه تر می میاشتو کې بشپړه شوې ده. د دې راپور لپاره څېړنه د کمي مېتود پربنسټ تر سره شوې ده، خو له کیفي تګلارې هم کار اخېستل شوی دی. په څېړنه کې د اړوندو څېړنو مطالعه، د میـز د سر کتنې، ساحوي کتنې، مرکې، د اطلاعاتو تحلیل، سلامشورې او د راپور چمتو کول شامل دي. د ډاډ ورکوونې ډلې لپاره کاري سیمه او کاري پلان د دندو د لایحې او لومړني راپور له مخې چمتو شوي دي، چې دواړه د ګڼو ذینفعو خـواوو د ګـډې کـاري ډلـې (MSG) لـه لوري منظور شوي دي.

دا راپور په شپږ څپرکیو او ملپاڼو کې ترتیب شوی دی. په لومړی څپرکي کې، د راپور لنډه پېژندنه او مېتودولوژي وړاندې شوې ده. په دویم څپرکي کې د ۲۰۱۹ کال د پروژو اړوند اطلاعاتو د څرګندولو کچه او بشپړتیا په نښه شوې، چې د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د معیارونو له مخې تر سره شوې ده. په درېیم څپرکي کې د ۲۰ پروژو تدارکاتي بهیر ځانګړې برخې ارزول شوې دي، کوم چې د دې راپور لپاره ټاکل شوې وې. په څلورم څپرکي کې د یادو ۲۰ نمونه ای پروژو د مدیریت اړوند اساسي موضوعات رابرسېره شوې دي. په وروستي څپرکي کې د راپور موندنې او د اصلاحاتو په موخه اړوند سپارښتنې راوړل شوې دي.

د دې راپور اصلي بڼه په انګلیسي ژبه چمتو شوې ده، په همدې اساس که چېرې د دې راپور په رسمي ژباړو کې کومه تېروتنه ولیدل شي، په هکله به یې انګلیسي راپور ته اعتبار ورکول کېږي.

## 1.3. د څېړنې مېتودولوژي

دا څېړنه د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) د نړیوالې برخې له لوري د کیفیت لار ښوّود[۷] تر چمتو کولو او د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د د ګڼو ذینفعو خواوو د ګډې کاري ډلې (MSG) لخوا د اطلاعاتو د څرګندولو لارښود تر بشپړولو وروسته طرحه شوې ده. په دې څېړنه کې لاندې پنځه اساسي پړاوونه شامل دي: ۱) د اړوندو څېړنو مطالعه او د راپور د لومړی برخې چمتو کول، ۲) د نمونو ټاکنه، ۳) د اطلاعاتو ټولونه (د مېز د سر کتنې، سیمه ییزې کتنې او مرکې)، ۴) د اطلاعاتو تحلیل او ۵) سلامشورې او د راپور لیکل. په لومړی ضمیمه کې هغه ټول پړاوونه څرګند شوي دي، چې د څېړنې په هره برخه کې راغلي دي.

### 1.3.1. د اړوندو اسنادونو او څېړنو کتنه

په دې څېړنه کې په افغانستان کې د زېربنایي سکتور مدیریت ته لنډه کتنه شوې ده څو په دې اړه د شالید اړوند نوي اطلاعات ترلاسه شي او د ملي اقتصاد په پراختیا کې د زېربناوو په رول باندې پوه شو. د داړ ورکوونې ډلې په افغانستان کې د زېربناوو د سکتور اړوند فعالانو، لګول شویو پیسو، د تمویل د مېکانیزمونو، تدارکاتي او پروژې د مدیریت جوړښتونو، او همدارنګه د قوانینو او پالیسیو اړوند شته لیکنو ارزونه کړې ده. راټول شویو اطلاعاتو د څېړنې په نورو پروسو لکه د اطلاعاتو ټولولو لپاره وسایل او مېتودونه او د راپور په لیکلو کې مرسته کړې ده.

### 1.3.2. د اطلاعاتو د نمونې ټاکنه

د دې څېړنې لپاره د اطلاعاتو دوه ډوله نمونې ټاکل شوې دي:

**د لومړي ډول اطلاعاتو نمونه: (په خپله د اطلاعاتو خپرول د ارزونې لپاره):** په دې څېړنه کې هغه زېربنایي پروژې ټاکل شوې دي، چې تدارکاتي چارې یې د ۱۳۹۸ مالي کال پرمهال تر سره شوې دي او له وړاندې په افغانستان د برېښنایي او پرانیستو تدارکاتو سیسټم (AGEOPS) کې په فعاله ډول خپرې شوې دي. د داړ ورکوونې ډلې وموندل، چې د ۲۰۲۰ کال له اپرېل میاشتې څخه تر می میاشتې پورې د ۱۱تدارکاتي ادارو د ۲۱۹ پروژو اطلاعات ښکاره کړې دي، چې بشپړې شوې دي یا پرې کار روان دی. د دې لپاره هغه پروژې نه دي ټاکل شوې، چې ځنډول شوې، کار پرې بند شوی یا مسترد شوې دي. په همدې اساس، د هغو پروژو شمېر، چې د لومړي ډول اطلاعاتو د نمونې لپاره ټاکل شوې، شمېر یې د

[۷] CoST – the Infrastructure Transparency Initiative, Assurance Manual, 2020 available at: https://infrastructuretransparency.org/wp-content/uploads/2020/09/Assurance-Manual-FINAL.pdf

CONFIDENTIAL

هغو ټولو پروژو سره مساوي نه دی، چې کار پرې روان دی یا بشپړې شوې دي او په افغانستان د برېښنايي او پرانيستو تدارکاتو سيستم (AGEOPS) کې خپرې شوې دي. په لومړي جدول کې د تدارکاتي ادارو او د هغوی د زېربنايي پروژو په هکله اطلاعات راوړل شوي دي، چې په افغانستان د برېښنايي او پرانيستو تدارکاتو سيستم (AGEOPS)کې خرګند او خپاره شوي دي.

لومړی جدول: د ۱۱ تدارکاتي ادارو او د هغوی د ۲۱۹ پروژو لیسټ چې د لومړي ډول اطلاعاتو ټولوونې د سمپل په توګه ټاکل شوي دي

| ګڼه | تدارکاتي اداره | | د هغو پروژو شمېر چې اطلاعات یې خرګند شوي | د هغو پروژو شمېر چې کار پرې روان دی | د بشپړو شوو پروژو شمېر | د هغو ټولو پروژو ټول لګښت چې اطلاعات یې خرګند شوي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د ټرانسپورټ وزارت | د سرکونو ملي اداره | 26 | 24 | 0 | 32,816,139,961.0 |
| | | د لویو لارو د ټرانسپورټ اداره | - | - | - | |
| | | د ملکي هوانوردی اداره | 1 | 1 | 0 | |
| | | د افغانستان د ریل پټلی اداره | - | - | - | |
| 2 | د اوبو چارو د تنظیم ملي اداره | | 9 | 8 | 0 | 23,138,344,063.0 |
| 3 | د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت | | 52 | 51 | 0 | 4,177,163,805.74 |
| 4 | د عامې روغتيا وزارت | | 8 | 7 | 0 | 728,440,880.15 |
| 5 | د پوهنې وزارت | | 48 | 44 | 4 | 866,071,978.17 |
| 6 | د ښار جوړونې او ځمکو چارو وزارت | | 2 | 2 | 0 | 151,059,172.75 |
| 7 | د ښاري اوبو رسولو او کاناليزاسيون شرکت | | 7 | 4 | 0 | 2,821,849,132.25 |
| 8 | د مرکزي زون د پراختيا خپلواکه اداره | | 3 | 3 | 0 | 578,296,534.99 |
| 9 | د افغانستان برېښنا شرکت | | 8 | 6 | 0 | 5,310,322,078.03 |
| 10 | کابل ښاروالي | | 10 | 6 | 0 | 1,702,411,788.95 |
| 11 | د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | | 45 | 40 | 0 | 183,748,578.72 |
| | د ټولو پروژو شمېر | | 219 | 196 | 5 | 72,473,847,973.8 |
| | ټول ارزښت (امريکايي ډالر) | | | | | 953,603,262.81 |

**د دويم ډول اطلاعاتو نمونه (د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو د ارزونې لپاره):** په دې څېړنه کې ۲۰ زېربنـايي پـروژې د تفصـيلي ارزونې په موخه وټاکل شوې څو د پروژې د ځانګړی کولو، چمتو کولو، تدارکاتي چارو، پلي کولو او بشپړولو په ګډون د پروژو بشـپړ دورانونه يې و ارزول شي، کوم چې په ترتيب سره د تدارکاتي ادارو له لورې د ۲۰۲۰ کال په سپتمبر او د ۲۰۲۱ کـال پـه مـی مياشـت کې وړانديز شوي دي. د ډاډ ورکونې ډلې او د ګڼو ذينفعو خواوو د ګډې کـاري ډلـې (MSG) پـه خپـل وار ۱۷ او ۳ زېربنـايي پـروژې وړانديز کړې دي کوم چې د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر په ۱۵ نېټه د يادې ډلې په دېرشمه غونډه کې منظور شوي دي.

د ډاډ ور کونې ډلې لس پروژې وړانديز کړې دي کوم چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د افغانستان د برېښنايي او پرانيستو تدارکاتو سيسټم (AGEOPS) کې خپرې شوي دي او له وړاندې ټاکل شويو ځانګړنو سره پرتله شوي دي چې د پروژې ټول ارزښت، جغرافيوي موقيعيت، د

لاسرسي کچه او د  زیربنا ډول ته پاملرنه شوې. د هغو پروژو څخه درې پروژې ټاکل شوي دي چې لیسټ یې له تدارکاتي ادارو غوښتل شوی و او د ۱۳۹۸ مالي کال پرمهال یې تدارکاتي چارې ترسره شوي دي او له یادو ځانګړنو سره پرتله شوي دي. سربېره پر دې، د رواني وبا له کبله د عامه بودیجې ډېره برخه او تمویل د روغتیایي  زیربنا جوړولو او وسایلو ته ځانګړې شوې ده. په همدې اساس، د کیفیت د تضمین ډلې د دې راپور لپاره ۴ زیربنایي پروژې ټاکل شوي دي د کووید -۱۹ وبا لپاره ځانګړې شوي دي.

له بل پلوه، د ځو ښکېلو اړخونو ډلې د دې راپور لپاره درې پروژې وړانـدیز کـړي دي څکـه چـې پـه هکلـه یـې یـو شـمېر اندېښـنې موجودې وې او بل دا چې ټولنیز او اقتصادي ارزښت یې هم درلود. په لاندې جدول کې هغه پروژې ښودل شـوي دي چـې د دویـم ډول اطلاعاتو نمونه ترېنه راټوله شوي ده.

۳ پروژې د ځو ښکېلو اړخونو د ډلې له خوا وړاندیز شوي

۳ پروژې چې احتمالي اندېښنې په کې  موجودې وې، او اقتصادي او ټولنیز ارزښت یې درلود

۱۷ پروژې چې د دولت ورکوونکي ډلې لخوا په نښه شوي

۱۰ پروژې له هغو څخه ټاکل شوي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې په (AGEOPS) خپرې شوي دي.

هغه پروژې چې د هغو پروژو له لیس څخه ټاکل شوي چې له تدارکاتي څخه یې معلومات غوښتل شوي

۳ پروژې د هغو پروژو له لیسټ څخه چې له تدارکاتي ادارو څخه یې معلومات غوښتل شوي

۴ پروژې د هغو پروژو څخه غوره شوي چې د کوویډ ۱۹ لپاره په بیړنی توګه ترسره شوي

سرچینه ۱۰: د دویم ډول اطلاعاتو د نمونې لپاره ټاکل شوو پروژو سرچینه

**د دویم ډول اطلاعاتو د نمونې لپاره** ۲۰ زیربنایي پروژې ټاکل شو دي چې په هغې کې پنځه پروژې د تدارکاتي ادارو، چې هر یوه یې ۴ پروژې لرلې او په دویم جدول کې وړاندې شوي دي.

1. د کلیو  بیا رغونې او وزارت وزارت
2. د  ښار جوړولو او ځمکو وزارت
3. د افغانستان برېښنا شرکت
4. کابل ښاروالي
5. د عامې روغتیا وزارت

دویم جدول: د ۲۰ ټاکل شویو زیربنایي پروژو لیست چې د دویم ډول بېټا د نمونې لپاره غوره شوي وې (reactive data disclosure )

| ګڼه | د پروژې نوم | د زېربنا ډول | موقعیت | وضعیت | د قرارداد اصلي بیه | د ټاکلو سرچینه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د کلیوبیا رغونې او  پراختیا وزارت** | | | | | | |
| 1 | په بهسودو ولسوالی کې د ننګرهار له سړک څخه تر معیوبینو کمپلیکس پورې د ۲,۳۷ کیلومتره کانکریټي سرکت جوړیدل | کانکریټي سرک | ننګرهار | کار پرې روان دی | 35,599,400.00 | AGEOPS |
| 2 | د ٦,٧ کیلومتره کانکریټي سرک او د هغې فرعي جوړښت جوړول په دیوبګي مزار کې | کانکریټي سرک | بدخشان | کار پرې روان دی | 91,147,975.00 | AGEOPS |
| 3 | د ۵۱ متره ار سي سي پل جوړول او ورسره د ۱,٦ کیلومتره جغلي سرک جوړول په اشکاشو خنج ولسوالی کې | پل او سرک | پنجشیر | کار پرې روان دی | 19,042,050.00 | AGEOPS |
| 4 | د بامیان ښار په شهیدان ولسوالی کې د اوبو رسولو د یوې شبکې جوړول | اوبه رسونه | باميا | کار پرې روان دی | 45,875,663.00 | AGEOPS |
| **د ښار جوړولو او ځمکو وزارت** | | | | | | |

| ګڼه | د پروژې نوم | د زیربنا ډول | موقعیت | وضعیت | د قرارداد اصلي بیه | د ټاکلو سرچینه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | د نجونو د لیسې لپاره د ۲۴ اطاقه ودانۍ جوړول او ورسره وسایل د هرات ښار په شپږمه ناحیه کې | ښوونځی | هرات | کار پرې روان دی | 27,164,939.00 | PE |
| 6 | د کاپیسا ولایت اداري ودانۍ | وداني | کاپیسا | کار پرې روان دی | 32,664,950.00 | PE |
| 7 | د بلخ طب فاکولتي لپاره وداني | وداني | بلخ | ختډول شوي | 115,351,786.4 | MSG |
| 8 | د روغتیایي درملو او تولیداتو د کیفیت لابراتوار جوړل | وداني | کندهار | ختډول شوي | 94,308,800.0 | MSG |
| **د افغانستان بریښنا شرکت** | | | | | | |
| 9 | د ۲۰/۲۲۰ کیلو ولټ غبرګت برېښنا لین طرحه، چمتو کول، نصبول او فعالول له جلال آباد څخه د کنړ تر اسد اباد پورې | د لېږد مزی | کنړ | کار پرې روان دی | 2,306,123,090 | AGEOPS |
| 10 | د ۵ میګاواټ سولري برېښنا د دستګاه نصبول | نوې کېدونکې انرژي | غور | په انتظار کې | 815,400,000.0 | AGEOPS |
| 11 | له مرکزي اسیا څخه سویلي اسیا ته د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا د لېږد مزی (کاسا ۱۰۰۰) | د لېږد مزی | ملي | کار پرې روان دی | 17,111,616,866.0 | PE |
| 12 | د بغلان ولایت له دشت الوان څخه د کابل تر ارغندي پورې د ۵۰۰ کیلو ولټ برېښنا د لېږد مزی | د لېږد مزی | ملي | کار پرې روان دی | 8,977,921,686.0 | MSG |
| **کابل ښاروالي** | | | | | | |
| 13 | د ۲,٦۵۴ کیلومتره عرفاني سرک جوړول په ۱۳ ناحیه کې | سرک | کابل | کار پرې روان دی | 250,751,820.85 | AGEOPS |
| 14 | د ۳,۹٦ کیلومتره قیر سرک جوړول سره د اوبو ویستلو د جوړښت سره چې قرغه د سپین کلي چوک له لارې له کمپنۍ سرک سره وصلوي | قیر سرک | کابل | بشپړه شوي | 288,465,920.00 | AGEOPS |
| 15 | له دشت برچي څخه تر کندهاري کوڅې پورې د ۳,۷۹۱ کیلومترو په اوږدوالي د ۴۰ متره کوڅې جوړول ، په ۱۳ ناحیه کې | قیر سرک | کابل | کار پرې روان دی | 284,983,554.10 | AGEOPS |
| 16 | د ۲,۲ کیلومتره قیر سرک او ورسره د اوبو ویستلو د ویالو جوړول د قلعه نجارها د ۱۱ لاټ څخه تر کاینات چهاراهای او خواجه بغرا چهاراهی پورې | قیر سرک | کابل | بشپړه شوي | 211,963,483.0 | AGEOPS |
| **د ټولګټو وزارت** | | | | | | |
| 17 | په هرات ولایت کې د کوویډ – ۱۹ ناروغانو لپاره د ۲۰۰ بستریز روغتون جوړول | وداني | هرات | کار پرې روان دی | 78,332,125.00 | |
| 18 | په نیمروز ولایت کې د کوویډ-۱۹ ناروغانو لپاره د ۱۰۰ بستریز روغتون جوړول | وداني | نیمروز | کار پرې روان دی | 78,332,125.00 | CoVID-19 Projects List (NDC) |
| 19 | د ۱۲ ناحیې په شاهنان سیمه کې د کوویډ-۱۹ ناروغانو د پاملرنې لباره د ۵۰ بستریز روغتون د ودانۍ جوړول | وداني | کابل | کار پرې روان دی | 55,000,000.00 | |
| 20 | په تخار ولایت کې د ۱۰۰ بستریز روغتون د بنسټیزې رغوونې چارې | وداني | تخار | کار پرې روان دی | 14,773,478.00 | CoVID-19 Projects List (NPA) |
| **د پروژو ټول لګښت (افغانۍ)** | | | | | | 30,934,819,711.35 |
| **د پروژو ټول لګښت (امریکایي ډالر )** [8] | | | | | | 407,037,101.47 |

[8] ۱ امریکایي ډالر په ۷٦ افغانۍ

### .1.3.3 اطلاعاتو ټولونه

د لومړي پړول نمونې لپاره (د ۲۱۹ زېربنايي پروژو) اطلاعاتو ټولونه له افغانستان د برېښنايي او پرانيستو تداركاتو سيسټم (AGEOPS) څخه ترلاسه شوې ده، په داسې حال کې چې د دويم پړول نمونې لپاره له اړوندو تداركاتي ادارو څخه غوښتنه شوې څو د (۲۰ ټاكلو زېربنايي پروژو) اطلاعات په لاس راكړي. له تداركاتي ادارو څخه په غوښتنه کې دا هم شامل و چې د کاسټ افغانستان د خپرولو لاربښوود پربنسټ د اطلاعاتو د سندونو ليست او اسناد هم شريک کړي، ځکه چې دا د ټاكل شويو پروژو په تداركاتي او مديريتي پروسو کې د پروژو او قراردادونو په کچه د ځينې ځانګړو مفاهيمو ارزونې ته لار هواروي. په هغه صورت کې چې کوم اطلاعات ورک شوي و يا ورته اړتيا وه، اړوندو تداركاتي ادارو ته د دغه اطلاعاتو د ترلاسه کولو په موخه نور غوښتنليكونه استول شوي دي.

### .1.3.4 سيمه ييزې ليدنې

د کيفيت د تضمين ډلې د ۲۰ زېربنايي پروژو له ډلې د ۱۰ پروژو ساحوي ليدنې ترسره کړي دي څو خپاره شوي اطلاعاتو تاييد کړای شي، د ولايتي چارواكو سره مركې ترسره شوي، د سيمه ييزې ټولنې او د مستفيدينو نظرونه راخپستل شوي او هغه برخې هم په نښه شوې چې د پام وړ اندېښنې په کې موجودې وې يا د سرو بيرغونو په توګه په نښه شوي دي. د پروژې د اطلاعاتو کمښت، ناامني، د هوا د حالاتو خرابوالی او د سفر اړوندو محدوديتونو د يو شمېر پروژو سيمو ته ورتګ پر وړاندې خنډونه رامنځته کړي وو، خو يو شمېر نورې پروژې داسې وې چې ساحوي ليدنو ته يې اړتيا نه لرله.

د ډاډ وركوونې ډلې د پروژې د موجوده اطلاعاتو پر بنسټ د ساحوي ليدنو لپاره يو غوښتنليک او چيک ليسټ چمتو کړل. د ساحوي ليدنو پرمهال، د اطلاعاتو د مديريت او کيفيت د کنټرول بهيرونو ، د ساحې د خونديتوب چارو، د ټولنې د ګډون ساحې او په ټوله کې د پروژې د لېږد ارزونه ترسره شوې ده. د جي پي ايس په ملتيا د نيټې او وخت په استناد له بېلابېلو برخو او فعاليتونو انځورونه اخېستل شوي دي. همدارنګه، له سيمه ايزو چارواكو يا د پروژې له مستفدينو سره مركې ترسره شوي او ثبت شوي دي څو د پروژې د پلان جوړونې، تداركاتو او ساختماني چارو په هكله نظرونه، شكايتونه او غبرګونونه ترلاسه شي.

### .1.3.5 د اطلاعاتو تحليل

د دواړو پړولو ټاكل شويو نمونو لپاره اطلاعات راټول شوي، ليكل شوي، ترتيب شوي او په لاندې دوه پړاوونو کې پروسس شوي دي:

**لومړی پړاو -د اطلاعاتو د خپرولو ارزونه (په خپله د مهالوېش له مخې):** د ډاډ وركونې ډلې د ۲۱۹ زېربنايي پروژو اطلاعاتو د بشپړتيا د کچې ارزونه شوې کوم چې په پلان شوې توګه په AGEOPS کې خپاره شوي او د کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولو لاربښود له مخې د اطلاعاتو د خپرولو له ٦٣ نښو سره پرتله شوې چې د زېربنايي پروژې په ټولو پنځو پړاوونو کې د پروژې په کچه (د پروژې پېژندنه او چمتووالی، د پروژې بشپړتيا) او د قرارداد په کچه (لکه تداركاتي چارې/ د قرارداد وركړه او پلي کېدل) پړاوونه تر پوښښ لاندې راولي. د دې فعاليت په پايله کې، د کيفيت د تضمين ډلې له وړاندې د ټاكل شوو اطلاعاتو خپرول ارزولي دي کوم چې د هرې تداركاتی اداري له لوري وړاندې شوي او د پروژې د کچې او قرارداد د کچې له اطلاعاتو سره پرتله شوي دي.

**دويم پړاو - د اطلاعاتو د خپرولو ارزونه (د غوښتنې له مخې):** په دې پړاو کې، د ټاكل شويو ۲۰ زيربنايي پروژو ډېره برخه د اطلاعاتو ټولونې او د ساحوي ليدنو پرمهال ترلاسه شوي ده، ترتيب شوې، پاكه شوې او پروسس شوي ده څو د هغه اطلاعاتو اړوندتوب او

CONFIDENTIAL

بشپړتوب و ارزول شوي کوم چې د تدارکاتي ادارو له لورې د اطلاعاتو د خپرولو د ۲۷ ټکو سره پرتله شوي چې د کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولو لاربښود له مخې برابره شوې او د پروژې د کچې او قراداد د کچې په ګډون د زېربنایي پروژو ټول پنځه پړاوونه په کې شامل دي. همدارنګه، د ټاکل شويو پروژو د تدارکاتي او مديريتي پروسو اړوند احتمالي اندېښنې تحليل شوي دي او د هرې تدارکاتي ادارې/پروژې کليدي پيغامونو ته پراختيا ورکړل شوي ده.

### 1.3.6. سلا مشورې او د راپور پرمختيا

د څېړنې د جريان د چارټ له مخې چې په لومړۍ ضميمه کې وړاندې شوی دی، د ډاډ ورکونې ډلې د اړوندو تدارکاتي ادارو او خصوصي سکتور له استازو سره رسمي مرکې ترسره کړي دي څو د ټولو ښکېلو اړخونو نظرونه او غبرګونونه په کې ترلاسه کړای شي او يو متوازن او هر اړخيز راپور چمتو شي. د راپور لومړۍ مسوده د ګڼو ذينفعو خواوو د ګډې کاري ډلې (MSG)، تدارکاتي ادارو، GIZ-OPAF او کاسټ نړيوالې ادارې سره د هغوي د مشورو او غبرګونونو د ترلاسه کولو په موخه شريکه شوي ده. د ډاډ ورکونې ډلې د راپور د موندنو او سپارښتنو په هکله غبرګونونه ترلاسه کړي دي چې په مناسبه توګه ورته رسېدنه شوې او په وروستي راپور کې ورته ځای ورکړل شوی. وروستۍ مسوده د څو ښکېلو اړخونو ډلې ته د هغوي د کتنې لپاره وړاندې شوې او د ۲۰۲۱ کال د مې مياشتې په ۲۳ مه نېټه د څو ښکېلو اړخونو د ډلې په ۳۲ غونډه کې منظور شوي ده.

CONFIDENTIAL

## لنډیز

د ۲۰۰۱ کال راهیسې، د اقتصادي پرمختګ او خدماتو د لېږد لپاره د زېربناوو پراختیا په افغانستان کې د حکومت بنسټیزه برخه ګرځېدلې ده. په تېرو دوو لسیزو کې دا په دوامداره توګه د ملي بودیجې او نړیوالو مرستو لویه برخه تشکیلوي. د زیات پرمختګ سربېره هم، د څو څېړنو او نړیوالو معیارونو پربنسټ، اساسي او باکیفیته زېربناوو ته لاسرسی لا هم کمزوری دی. کاسټ افغانستان د ګڼو ذینفعو خواوو د ګډې کاري ډلې (MSG) د یو چتر په توګه چې د اطلاعاتو د خپرولو لپاره معیارونه لري؛ څو په عامه زېربناوو پروژو کې د ډاډ ورکوونې د مهالنیو بهیرونو پرمټ روڼتیا او حساب ورکوونه ډېره کړي او خلکو ته یې په هکله راپور ورکړي.

دا راپور د ډاډ ورکوونې بهیر په ترڅ کې په عامه زېربنایي پروژو کې بشپړ شوی، چې ارزښت یې شاوخوا ۱ ملیارد ډالر دی. د دې راپور لپاره څېړنه د کاسټ نړیوالې اداري د ډاډ ورکوونې لارښود او د کاسټ افغانستان د اطلاعاتو د خپرولو لارښود له مخې تر سره شوی، چې ټول شپږ پړاوونه لري. د ډاډ ورکوونې ډلې په افغانستان کې د زېربنايي سکتور په هکله د موجوده څېړنو او راپورونو مطالعه تر سره کړې ده. په ټوله کې د دې راپور لپاره ۲۲۹ عامه زېربنایي پروژې ټاکل شوې دي، چې له ډلې یې د ۲۱۹ پروژې تدارکاتي چارې په ۱۳۹۸ مالي کال کې ترسره شوې دي او په هکله یې اړوند اطلاعات له افغانستان د برېښنایي او پرانیستو تدارکاتو سیستم (AGEOPS) څخه ترلاسه شوي او لس نورې پروژې له نورو سرچینو، لکه: د څو ښکېلو اړخونو د ډلې، او حکومتي ادارو څخه ټاکل شوي دي.

د ډاډ ورکوونې ډلې په ټول افغانستان کې د ۱۰ پروژو له سیمو څخه لیدنې ترسره کړې دي او له مخې یې ارزونې کړې، مرکې یې کړي او د شواهدو په توګه یې د بېلابېلو سیمو او فعالیتونو انځورونه تر لاسه کړي دي. راټول شوي اطلاعات لیکل شوي، تصفیه شوي او په دوه پړاوونو کې پروسس شوي دي.

د تدارکاتي ادارو له لوري په خپله خوښه خپاره شوي اطلاعات د بشپړتیا د کچې د معلوملو او د ۲۰۱۹ کال د زېربنایي پروژو اطلاعات پرتله شوي، کوم چې د کاسټ افغانستان د ٦۳ عامه پروژو د اطلاعاتو د خپرولو له معیارونو سره سمون لري. د ټاکل شویو پروژو په هکله چې کوم اطلاعات د تدارکاتي ادارو له لوري وړاندې شوي، د کاسټ افغانستان د ۲۷ پروژو د اطلاعاتو خپرولو له معیارونوسره پرتله شوي، څو د بشپړتیا کچه یې معلومه شي او ورپسې د تدارکاتي او مدیریتي پروسو د اغېزمنتوب لپاره ارزول شوي دي.

په لنډ ډول د څېړنې بهیر په هکله وایو، چې، د ډاډ ورکوونې ډلې له بېلابېلو ښکیلو اړخونو سره مرکې کړې دي او د راپور د مسودې په هکله یې تبصرې او غبرګونونه ترلاسه کړي؛ کوم چې په نهایي راپور کې ځای پر ځای شوي دي. دا راپور د کاسټ افغانستان د ګڼو ذینفعو خواو ګډې کاري ډلې (MSG) په ی.

# دویم څپرکی: د پروژې د اطلاعاتو خپرول



”د راپور د ډاټا ورکونې د ټیم غړي د اسنادو د بیاکتنې پر مهال“
نومبر ۲۰۲۱- د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD)- کابل، افغانستان

## لنډه کتنه

«محرمیت» په نړۍ کې د دولتي رازونو د پټوالي او کنټرول لپاره د یوې ښکاره پلمې په توګه کارول کېږي. د دې برعکس، د اطلاعاتو خپرول (افشاء کول) د عامو خلکو پر وړاندې دولت ځواب ویوونکی کوي، په عامو چارو کې روڼتیا او مسؤلیت منځته راوړي او د تولنیز باور د ډېرېدو لامل ګرځي. دا څپرکی په دوو اړخونو: په فعاله توګه (په خپله خوښه) اطلاعاتو خپرولو او انفعالي توګه (د غوښتنې پربنسټ) اطلاعاتو خپرولو کې د افغانستان د زېربناوو په سکتور کې د اطلاعاتو د خپرولو حالت تر بحث لاندې نیسي.

CONFIDENTIAL

د اقتصادي همکاريو او پراختيا سازمان (OECD) عامو خلکو ته د اطلاعاتو خپرول داسې تعريفوي «ټولو اړوندو اشخاصو او ادارو ته  په ازاده توګه د اطلاعاتو او ارقامو په واک کې ورکول او د دوی د لاسرسي وړ ګرځول». په افغانستان کې د عامو زېربنايي پروژو د اطلاعاتو د خپرولو حقوقي اړانه د اساسي قانون، تدارکاتو قانون، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون او د عامه مالي مديريت او لګښتونو د قانون د حکمونو له مخې تنظيمېږي.[٩]

همدارنګه د افغانستان دولت د پرانيستې او ښې حکومتولۍ د لا ښه والي لپاره د اطلاعاتو د خپرولو د نړيوالو کړنو او معيارونو په ګډون لکه؛ د  زېربناوو د روڼتيا نوښت، د قرارداد ورکولو پرانيستې مشارکت (OCP) نړيوالې ژمنې لري او د دې ژمنو له مخې، تدارکاتي اداري له کلونو راهيسې په بېلابېلو انلاين بڼو سره په تيت و پرک او يا نقل شوې توګه د عامو زېربنايي پروژو  په اړه يو لړ اطلاعات خپروي.[١]

د تدارکاتو ملي اداري په ۲۰۱۸ کال کې مرکزي انلاين سيستم، د افغانستان دولتي برېښنايي[١]او پرانيستی تدارکاتي سيستم[١]، پيل کړ چې د نورو کارونو ترڅنګ د ټولو دولتي تدارکاتو  د تدارکاتي مسايلو او قرارداد د پړاونو اطلاعات لکه؛ د زېربنايي پروژو د ډيزاين، ساختمان او څارنې په ګډون خدمتونه، توکي او خدمات په فعاله او دوامداره توګه خپروي. د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانيستی تدارکاتي سيستم پيلېدو تدارکاتي ادارو له خوا په بې ساري توګه د پام وړ اطلاعاتو خپرولو ته زمينه برابره کړې، چې د يو اټکل له مخې له ۵۰۰۰ څخه د ډېرو قراردادونو اطلاعات خپاره شوي چې دا چاره د تدارکاتو او زېربنايي پروژو د مديريت په برخه کې عامه څېړنه او پوهاوی لوړوي. د تدارکاتو د ملي اداري د اجرائيه رئيس په وينا دې سېستم په افغانستان کې د اطلاعاتو خپرولو په برخه کې يو انقلاب رامنځته کړی




/ شکل: د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانيستي تدارکاتي سيستم په انلاين بڼه کې د قرارداد د پرمختيا د څارنې د سيستم يو انځور

[٩] CoST- د افغانستان د زېربناوو د روڼتيا پروګرام، ارزونه، ۲۰۱۷ مارچ، ۱ مخ، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: http://cost.af/english/wp-content/uploads/2018/01/Scoping-Study__English__print.pdf

[١] CoST- د افغانستان د زېربناوو د روڼتيا پروګرام، د ډاډ ورکونې دويم راپور، ۱ مخ او ۴۵ مخ، ۲۰۱۹، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: www.cost.af

[١] د تدارکاتو ملي اداره، د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانيستی تدارکاتي سيستم، په لاندې پته د لاسرسي وړ ده: https://ageops.net

دی. ۱ شکل د ۲۰۲۱ کال د مارچ تر میاشتې پورې د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانیستی تدارکاتي سیستم کې د قراردادونو د کار د پرمختیا د څارنې د ډشبورډ یو انځور ښيي.

سره له دې چې د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم کې د زېربناوو اړوند خپرو شویو اطلاعاتو کچه او کیفیت د تدارکاتو ملي ادارې د بې سارې هڅو په لړ کې د وخت په تېرېدو سره ډېر شوی، په تدارکاتي ادارو کې د اطلاعاتو خپرول تر ډېرې کچې بنسټيز شوي، خو د لا ښه والي لپاره لا هم کار ته اړتیا ده. د زېربناوو د روڼتیا نوښت د ډاډ ورکونې لړۍ د موجوده اصلاحي پروګرامونو او حق غوښتنې په لړ کې د ۲۰۱۷ کال له لومړي راپور راهيسې له دولت او نورو اړوندو ذينفعانو سره مرسته کړې څو دا و ارزوي چې قانوني او نړیوال مکلفیتونه او په ځانګړې توګه د زېربناوو د روڼتیا نوښت برخې (د څوګونو ذينفعانو تګلاره، د اطلاعاتو خپرول، د کیفیت تضمین او ټولنیز مسؤلیت) د تدارک کوونکو ادارو لخوا تر کومې کچې عملي شوي دي او دا وړاندیز وکړي چې کاري، سیستماتیکې او اداري ننګونې چې د زېربناوو په سکتور کې په ګوته شوي، څه ډول له منځه وړل کیدای شي.


## ۲,۱ د ارزونې کچه

د زېربناوو د روڼتیا نوښت د ډاډ ورکونې لړۍ په دې هڅه کې ده څو د زېربناوو اړوند خپرو شویو اطلاعاتو د بشپړوالي او کره والي په برخه کې شته ستونزې او تشې په ډاګه او د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم چلوونکو او جوړونکو ته اصلاحي سپارښتنې وکړي. د تدارکاتي ادارو لخوا د اطلاعاتو خپرول د بنسټيزې روڼتیا نوښت د اطلاعاتو د معیار د دوو اړخونو: الف. په خپله خوښه فعاله خپرول، ب. د غوښتنې پربنسټ خپرولو [۱] له مخې ارزول کېږي. په دې راپور کې د زېربناوو اړوند هغه اطلاعات ثبت شوي چې د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانیستي تدارکاتي سیستم کې په فعاله او دوامداره توګه خپاره شوي او همدارنګه د پروژو اړوند هغه اطلاعات چې هرې تدارک کوونکې ادارې د ډاډ ورکونې د ټیم د رسمي غوښتنې په صورت کې وړاندې کړي دي. په ترلاسه شویو اطلاعاتو کې د تړاونو، بدلونونو او اندېښنو تحلیل او شننه د دې څېرکي په راتلونکو برخو کې وړاندې کېږي.

## ۳,۱ په فعاله توګه (په خپله خوښه) د اطلاعاتو خپرول

د بنسټيزې روڼتیا نوښت لارښوود د ۲۰۱۷ کال په اګسټ کې د څو ګونو ذينفعانو د ډلې لخوا تائید شوی چې په کې د رغنيزو/زېربنايي پروژو د دوام په پنځو پړاوونو کې د تدارک کوونکو ادارو لخوا په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د زېربنايي اطلاعاتو ٦٣ معیارونه ټاکل شوي دي. په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د زېربنايي پروژې په هر پړاو کې د اطلاعاتو د ټاکل شویو برخو شمېر په ۲ انځور کې وړاندې کېږي. په فعاله توګه (په خپله خوښه) د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د ټولو ٦٣ اطلاعاتي برخو د بشپړ لیست د کتلو لپاره ۲ ضمیمه وګورئ.

[۱] CoST ـ د افغانستان د زېربنايي پروژو د روڼتیا پروګرام، د اطلاعاتو د خپرولو لارښود، ۲۰۱۷، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
http://cost.af/english/wp-content/uploads/2018/01/Disclosure-Manual-design-English-final.pdf





۲ انځور: د پروژې په هر پړاو کې د تدارکاتي ادارو لخوا په فعاله توګه د خپرېدونکو اطلاعاتو برخې

د افغانستان د زېربناوو د روڼتيا نوښت د اطلاعاتو د خپرولو ٦٣ عام معيارونو له مخې د تدارکاتي ادارو لخوا په فعاله توګه د خپرو شويو اطلاعاتو د برخو د بشپړوالي کتنه او ارزونه د دې معيارونو ۳۲ سلنه رعايتول او پلي کول په ډاګه کوي چې د ډاډ ورکونې د تېر راپور پۀ پرتله ۳,۸ سلنه کموالی ښيي.[١] د زېربنايي پروژو د اطلاعاتو اوسط او د قرارداد په کچه په خپله خوښه د اطلاعاتو خپرول ۴۵ سلنه ښوودل شوي په داسې حال کې چې د پروژې په کچه کوم اطلاعات خپاره شوي نه دي. د تدارکاتي ادارو له ډلې د پلازمېنې زون د پراختيا خپلواکه اداره (CRIDA) په فعاله توګه د اطلاعاتو په خپرولو کې تر ټولو لوړې ۴۷ سلنه نمرې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو په کچه کې تر ټولو کمې ۴۱ سلنه نمرې ترلاسه کړې دي.

د تدارکاتي ادارو او تدارکاتو ملي ادارې له استازو سره د ترسره شويو مرکو پر بنسټ په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو په کچه کې د کموالي اصلي لامل په تدارکاتي ادارو کې د کافي ظرفيت نشتون او د پروژو په کچه د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د حقوقي او قانوني شرايطو او توپير نشتون بلل کېږي. سره له دې چې د ډاډ ورکونې ټيم مونډلې چې د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانيستې تدارکاتي سيستم، په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو د ارزونې لپاره د راټولو شويو اطلاعاتو سرچينې، د اطلاعاتو د څو سرچينو خپرول (لکه اسناد) چې ښايي د پروژو په کچه ځينې اطلاعات ولري، خو له دې امله چې د اطلاعاتو د يوې برخې په توګه خپاره شوي نه دي او په اسانۍ سره ترلاسه کېدای شي، له همدې امله دغه ډول اطلاعات خپاره شوي نه بلل کېږي او په دې توګه د ټوليزې درجه بندۍ څخه ټيټ دي. د هرې تدارکاتي ادارې لخوا په فعاله توګه د خپرو شويو اطلاعاتو کچه په ۳ انځور کې ښوودل کېږي.

[١٣] CoST- د افغانستان د زېربناوو د روڼتيا نوښت، د ډاډ ورکونې دويم راپور، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
http://cost.af/english/wp-content/uploads/2019/11/CoST-Afghanistan-2nd-Assurance-Report-English-2019.pdf




۳ شکل: د هرې تدارکاتي اداري لخوا په فعاله توګه د خپرو شویو اطلاعاتو کچه

## ۱،۳،۱ د پروژو په کچه او د قرارداد په کچه د اطلاعاتو خپرولو توپیر

د ۱۱ تدارکاتي ادارو، چې په خپله د ودانیزو پروژو اطلاعات خپروي، د پروژو په کچه هیڅ اطلاعات خپاره کړي نه دي. د پروژو په کچه د اطلاعاتو د نه خپرولو اصلي لامل په افغانستان کې د پروژو د مدیریت د ناتوپیري حالت او حقوقي اړانه بلل کېږي چې تر اوسه په کې د پروژو په کچه اطلاعات او د یوې پروژې د څو قراردادونو اطلاعات تعریف شوي او یا هم یو له بله بېل شوي نه دي. په اوسني حالت کې د یوې واحدې پروژې څو قراردادونه د بېلابېلو پروژو په توګه خپاره شوي دي. د قراردادونو په کچه دغه ډول تیت و پرک او نامنظم اطلاعات عامو خلکو ته د نیمګړو، بې وخته او ناسمو اطلاعاتو ورکولو ته زمینه برابروي او د زېربنایي پروژو په روڼتیا او حساب ورکونه باندې ناوړه اغېزې پرېباسي.

په دې برخه کې یوه حقیقي بېلګه د افغانستان د برېښنا شرکت له لورې د ۲۲۵ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د انرژۍ د انتقال سیمه ایزه پروژه (کاسا- ۱۰۰۰) ده چې لږ تر لږه د ډیزاین او ساختماني چارو او څارنې قرارداد لري. د دې راپور تر چمتو کولو پورې د دې قراردادونو اطلاعات د افغانستان دولتي برېښنایي او پرانیستي تدارکاتي سیستم کې خپاره شوي نه دي او که خپاره شوي هم وي، دا دواړه قراردادونه به د جلا پروژو په توګه وړاندې شوي وي. د یوې تدارکاتي اداري په توګه، د افغانسـتان برېښـنا شرکت او د افغانستان دولتي برېښنایي او پرانیستی تدارکاتي سیستم د اطلاعاتو سیستم د قانون له مخې د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې تـر عنـوان او

یا کود لاندې د دواړو قراردادونو د اطلاعاتو د خپرولو حق نلري. د یوې پروژې د قراردادونو ترمنځ د اړیکې نشتون په څو سیستمونو کې اطلاعات همزمان او دوامداره نه ساتي، عامه څېړنیزه پوهه راکموي او د عامو خلکو او نورو ذینفع شریکانو لخوا د اطلاعاتو څخه ګټه اخیستل ننګوي.

په خپله د اطلاعاتو خپرولو په تړاو تقنیني تحلیل او شننه چې پر بنسټ یې د پروژو په کچه د اطلاعاتو خپرول اړین او اجباري نه دي، په لاندې ډول وړاندې کېږي:

- د تدارکاتو د قانون پر بنسټ په فعاله توګه د اطلاعاتو خپرول د تدارکاتو د پروسې یواځې په دوو پړاوونو کې ترسره کېدای شي: د تدارکاتو اعلان او د ګټونکي داوطلب اعلان.
- اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون له مخې ټولې دولتي ادارې باید هر کال عامو خلکو ته په فعاله او دوامدره توګه لاندې قراردادي او اداري اطلاعات لکه: قراردادونه، ملي او نړیوال پروتوکولونه او هوکړه لیکونه ، پالیسي، ستراتیژۍ، او کاري پلانونه خپاره کړي.
- د عامه مالي مدیریت د قانون پر بنسټ د ملي شورا لخوا له تصویب وروسته د ملي بودیجې په اړه اطلاعات خپاره شي چې په غیر مستقیم ډول دا په ډاګه کوي چې د اطلاعاتو ځینې برخې لکه د پروژو اټکل شوی لګښت، د مالي تمویل سرچینه او د پروژې (نهایي) د منظورۍ نېټې له عامو خلکو سره شریکې شوې دي.

له بلې خوا، د بنسټیزې روڼتیا نوښت پر بنسټ، یوه ودانیزه پروژه د یوې ودانۍ د جوړولو لپاره څو قراردادونه لري. د یاد نوښت پر بنسټ، «پروژه» په یو ټاکل شوي موقعیت کې معمولاً د یوې واحدې اداره کوونکې ادارې (د پروژې د څښتن) او د بودیجوي اداري تر مدیریت لاندې د یو شمېر زېربنایي شتمنیو جوړولو ته ویل کېږي" په داسې حال کې چې «قرارداد» یو حقوقي او یا رسمي سند دی چې پر بنسټ یې د تدارکاتي اداري او قراردادي یا مشوره ورکوونکي ترمنځ په قرارداد کې د ټاکل شویو شرایطو له مخې یو لړ فعالیتونه ترسره کېږي". له همدې کبله، د پروژې د اطلاعاتو یوه بشپړه ټولګه به د پروژو د اطلاعاتو یوه ټولګه او د قرارداد د اطلاعاتو څو ټولګې ولري. [1] ٤


د بنسټیزې روڼتیا نوښت په نړیوال اصل کې د یوې ودانیزې/زېربنایي پروژې د جوړولو لپاره پنځه پړاوونه ټاکل شوي چې پر بنسټ یې د پام وړ اطلاعات ترتیب او باید عامو خلکو ته خپاره شي. دا نوښت د پروژې د پیل او پای اړوند اطلاعاتو برخې په دوو پړاوونو: د پروژې د تعینولو او طرحه کولو پړاو او د پروژې د بشپړولو پړاو باندې ویشي- د قراردادونو اړوند اطلاعاتو برخې (د قرارداد په کچه اطلاعات) په دریو پړاوونو: تدارکات/قرارداد کول، د قرارداد پلي کول او د قرارداد بشپړولو، باندې وېشل کېږي، چې د قرارداد دا درې پړاوونه د ټولې پروژې د اطلاعاتو د خپرولو د پړاوونو برخه ده.

د ودانیز/زېربنایي سکټور د پروژو په کچه د اطلاعاتو د خپرولو پنځه پړاوونه او د قرارداد په کچه د اطلاعاتو د خپرولو درې پړاوونه په ۴ انځور کې ښودل کېږي.

[1] CoST-د افغانستان د زېربنایي پروژو د روڼتیا پروګرام، د اطلاعاتو د خپرولو لارښود، ۲۰۱۷، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:
http://cost.af/english/wp-content/uploads/2018/01/Disclosure-Manual-design-English-final.pdf



CONFIDENTIAL




۴ انځور: د پروژو په کچه اطلاعاتو او د قرارداد په کچه اطلاعاتو د توپیر ترڅنګ د یوې زیربنایي پروژې د اطلاعاتو د خپرولو پړاوونه

د بنسټیزې روڼتیا نوښت او اړوندې اداري (د قرارداد کولو پرانیستی مشارکت) په دې وروستیو کې د اطلاعاتو د خپرولو یو نوی معیار (د پرانیستي قرارداد او د زیربناوو د اطلاعاتو معیارونو) یا OC4IDS جوړ کړي دي. په دې هر اړخیز معیار کې د بنسټیزې روڼتیا نوښت د شته معیارونو، د زیربنایي اطلاعاتو د معیارونو ترڅنګ د اطلاعاتو د معیارونو د پرانیستي قرارداد کولو ګټې او ځانګړتیاوې شتون لري چې د پروژو په کچه او د قراردادونو په کچه د اطلاعاتو خپرول ډېروي او د اندازې وړ اطلاعاتو په خپرولو کې مرسته کوي چې د یوې زیربنایي پروژې د ټولو پړاوونو په څارنه کې ډېر ګټور دي. د زیربنایي اطلاعاتو د معیارونو لپاره پرانیستی قرارداد کول په دې اړه دولت ته روښانه لارښوونې کوي چې د زیربنايي پروژې په هر پړاو کې کوم اطلاعات او څه ډول باید خپاره شي.


د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د ګډو ذینفعو خواوو ګډه کاري ډله چې مشري یې اقتصاد وزارت کوي او له څو مهمو وزارتونو او دولتي ادارو څخه تشکیل شوې، د ۲۰۱۹ کال د اګسټ په ٦ نېټه په خپله ۲۵ غونډه کې د زیربنایي اطلاعاتو د معیارونو لپاره د پرانیستی قرارداد د ترسره کولو په سمون او بدلون باندې بحث کړی. ورپسې د یادې ډلې په ۲۹ غونډه کې چې د ۲۰۲۰ کال د جولای په ۱۳ نېټه جوړه شوې، د مهمو ادارو له استازو څخه یوه کمېټه جوړه شوې څو په رسمي توګه د زیربنایي اطلاعاتو د معیارونو لپاره پرانیستی قرارداد کولو پلي کول وڅاري. سربېره پر دې، د افغانستان د زیربناوو د روڼتیا نوښت سکرتریت د لابي کولو څو غونډې جوړې کړي او په افغانستان کې یې د د پرانیستی قرارداد او د زیربناوو د اطلاعاتو معیار (OC4IDS) د تطبیق د لا ګړندي کولو لپاره یوه طرحه جوړه کړې ده.

که څه هم د د پرانیستی قرارداد او د زیربناوو د اطلاعاتو (OC4IDS) معیارونو پلي کول د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د حقوقي بستر د نشتون او همدارنګه د قرارداد د اطلاعاتو او د پروژې د اطلاعاتو ترمنځ د نه توپیر له امله له ځنډ سره مخ شوی دی. که چېرې OC4IDS میعارونه چې د بنسټیزې روڼتیا نوښت د غړو هېوادونو [۱] لخوا ازمویل شوی دی، د افغانستان د پروژو د مدیریت په سیستم کې تطبیق شي، د یوې ځانګړې پروژې ټول قراردادونه به «د پروژې د ټاکونکي» له لارې په ډیجیټلي بڼه ونښلول شي او په قراردادي اطلاعاتو کې به د پروژې ټاکونکی د یوې پروژې د ډیزاین، رغونې، څارنې، کار او حفظ و مراقبت د قراردادونو نښلول شوني کړي. دویم جدول دا واضح کوي چې د قرارداد کولو د اطلاعاتو پرانیستي معیارونو او د زیربنایي اطلاعاتو معیارونو ګټې څه ډول مشترکې او د OC4IDS معیارونو پر بنسټ د پروژې په موده کې تر پوښښ لاندې راغلي دي.

[۱] د اوکراین د زیربنایي روڼتیا پروګرام، د سړک معلومات معلومات خلکو ته خپاره شوي او د دې هېواد د زیربنایي روڼتیا پروګرام د لویو تحلیلونو ډېشبورډ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی:

https://infrastructuretransparency.org/news/oc4ids-implemented-in-cost-ukraines-turbocharged-data-portal/

CONFIDENTIAL




۲ جدول: د OC4IDS معیارونو پر بنسټ د پروژې د مودې طرحه

## ۴,۱ د غوښتني پربنسټ د اطلاعاتو خپرول

د غوښتنی پربنسټ اطلاعاتو خپرولو کې هغه اطلاعات شامل دي چې د زېربنايي پروژې مالکان او تدارکاتي اداري يې د غوښتنې په صورت کې خلکو ته خپروي. د دې مدني کړنې حقوقي اډانه د افغانستان په اساسي قانون کې په صراحت سره واضح شوې چې پر بنسټ يې د افغانستان اتباع کولای شي « د قانون له حکمونو سره سم د دولتي ادارو اطلاعاتو ته لاسرسی ولري». [۱] همدارنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون لاربښوونه کوي چې د اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره سپارل شوې غوښتنې او درخواستونه د عامو اتباعو لخوا د ۱۰ ورځو په موده کې، ژورنالیستانو لپاره د ۳ ورځو په موده کې او د اشخاصو د امنيت او ازادۍ اړوند اطلاعاتو د غوښتنې په صورت[۷] کې په ۱ ورځ کې ځواب شي. [۱]

له بلې خوا، د تدارکاتو په قانون کې، د غوښتنې پر بنسټ د ودانيزو پروژو د اطلاعاتو د شريکولو پولې د تدارکاتو د طرزالعمل سره سم خرګندول، د اشتراک کوونکو داوطلبانو بشپړ اطلاعات، د آفرونو نرخونه، د آفر د ارزونې لنډيز، اجراأت او تصاميم، داوطلبانو ته وضاحت ورکول، د افر د رد او يا د داوطلبۍ د فسخ کولو د لاملونو په تړاو اطلاعات، د تدارکاتو تقنيني سندونه او د تدارکاتو په اصولو او طرزالعمل کې[۸]نور اطلاعات ښودل شوي دي. [۱]

### د پروژې تعینول او طرحه کول

- د څو کلونو پروګرامونه او بوديجه
- د پروژې لنډيز او د امکان سنجولو څېړنه
- د چاپيرياليزو او ټولنيزو اغيزو ارزونه
- د بيا ميشته کېدو او د خسارې د جبران پلان
- د پروژې مسؤلين او دندې
- مالي تړون
- د تدارکاتو پلان
- د پروژۍ د منظورۍ تصميم

### د پروژې بشپړول

- په تطبيق کې د پرمختک راپورونه
- د بوديجې د تعديل پرېکړه
- د پروژې د بشپړيدو راپور
- د پروژې د ارزونې راپور
- د تخنيکي پلټنې راپورونه
- د مالي پلټنې راپورونه

### د تدارکاتو قرارداد

- د قرارداد مسؤلين او دندې
- د تدارکاتو ميتود
- د داوطلبۍ اسناد
- د داوطلبۍ د ارزونې پايلې
- د پروژې د ډيزاين راپور

### د قرارداد پلي کول

- د قرارداد لاسليک او شرايط
- د شرکتونو ثبت او مالکيت
- مشخصات او نقشې

### د قرارداد بشپړول

- د تغيراتو، بدلونونو او تعديلونو ليست
- د زياتوالي ليست
- د کيفيت د تضمين راپورونه
- د تصفيې سوابق او يا د اداينې تصديقونه
- د قرارداد تعديلات

د موجودو قانوني حکمونو په رڼا کې د افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت د اطلاعاتو د خپرولو لاربښود هغه ۲۷ برخې په ګوته کړي چې د غوښتنې پر بنسټ د تدارکاتي ادارو لخوا بايد د پروژو په کچه او قرارداد په کچه خپرې شي. که څه هم د اطلاعاتو ټولې ټاکل شوې برخې چې بايد خپرې شي د افغانستان په حقوقي اډانه کې په صراحت سره تعريف شوي نه دي، خو دا مهم اطلاعات دي او د بنسټيزې روڼتيا نوښت د ډاډ ورکونې د پروسې له لارې د يادو برخو د خپرولو او راپور ورکولو لپاره بايد په دقيقه توګه وڅارل شي. د غوښتنې له مخې د اطلاعاتو د ۲۷ برخو له ډلې ۱۴ يې د پروژو لپاره (د پروژې تعينولو/طرحه کولو او د بشپړولو پړاوونه) او ۱۳ يې د قراردادونو لپاره (تدارکاتو/قرارداد کولو، پلي کولو او بشپړولو پړاوونه) لپاره ځانګړې شوې دي. ۵ شکل د غوښتنې په صورت کې د تدارکاتي ادارو لخوا د افغانستان د بنسټيزې روڼتيا د نوښت د اطلاعاتو د خپرولو د لاربښود مطابق د اطلاعاتو ټاکل شوې برخې په ډاګه کوي.

[۱] د افغانستان اساسي قانون، دويم فصل، د اتباعو اساسي حقوق او وجايب، ۵۰ ماده، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.mfa.gov.af/constitution/chapter-two-fundamental-rights-and-duties-of-citizen.html

[۱] اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون (۲۰۱۵)، ۸ ماده، ۱۱-۱۲ مخ، په لاندې پته د لاسرسي وړ دی: https://www.aic.gov.af/en/legal-docs

[۱] د افغانستان د تدارکاتو قانون، ۴۵ ماده، ۲۳ مخ


CONFIDENTIAL

د هغو ۵ تدارکات ادارو له ډلې چې د غوښتني له مخې د اطلاعاتو د خپرولو لپاره ټاکل شوي، د عامې روغتيا وزارت اړوند (د کوويډ ۱۹ د بېړني حالت د چمتووالي د زېربناوو) د ۴ پروژو اطلاعات خپاره شوي نه دي. د عامې روغتيا وزارت د ادعا له مخې يـاد وزارت د يادو څلورو پروژو په اړه غوښتل شوي هيڅ ډول اطلاعات نلري ځکه دا پروژې د ولسمشر د چارو اداري د عمليـاتي او پراختيـايي واحد (AU-AOP) لخوا تدارک او پلي شوي دي. د بنسټيزې روڼتيا نوښت د ولسمشرۍ رياست د عملياتي او پراختيايي واحد څخه د پروژې د اطلاعاتو غوښتنه کړې خو د افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت رسمي مکتوب ته يـې ځـواب نـه دی ورکـړی او د ګډو ذينفعو خواوو د ګډې کاري ډلې، اطلاعاتو ته د لاسرسي کميسيون د اطلاعاتو د غوښـتني انلايـن سيسـتم يـا www.askforinfo.af کې هم کوم شکايت نه دی ثبت کړی.

سربېره پر دې، په ټولو ۲۰ پروژو کې د افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت د غوښتني له مخې د اطلاعاتو د خپرولو د ۲۷ معيارونو سره سم د غوښتني پر بنسټ د اطلاعاتو د خپرولو اوسط نمرې ٪۶۶ سلنې ته رسېږي چې د ډاډ ورکونې د تېر راپور په پرتله ۹٪ ډېروالی ښيي. د افغانستان برېښنا شرکت د غوښتني له مخې د اطلاعاتو د خپرولو په درجه بندۍ کې د ټولو ۵ ګډون کوونکو تدارکاتي ادارو له ډلې ٪۸۸ نمرې ترلاسه کړې چې د پروژې په کچه او د قرارداد په کچه د غوښتني پر بنسټ د اطلاعاتو په خپرولو کې د ډېرې همکارۍ له امله لومړی مقام لري، او د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت او کابل ښاروالی د غوښتني پر بنسټ د ډېرو اطلاعاتو ورکولو له امله په ترتيب سره دويم او درېيم ځای لري. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د پروژو اړوند ډېر اطلاعات خپاره کړي خو د پروژو د اطلاعاتو په اړه يې وروستۍ غوښتني ته ځواب ندی ويلی. د عامې روغتيا وزارت او د جمهوري رياست پراختيايي او عملياتي واحد د غوښتني پر بنسټ د هيڅ ډول اطلاعاتو د نه ورکولو له امله تر ټولو کمې نمرې ترلاسه کړې دي. ٦ شکل د هرې تدارک کوونکې اداري لخوا په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه او د هغې ټوليز اوسط په ډاګه کوي.


## غوره بېلګه

د ډاډ ورکونې د تېرو راپورونو په پرتله، په دې راپور کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د زېربناوو د روڼتيا پروګرام د پروژو اطلاعاتو د خپرولو غوښتنو ته مثبت او پر وخت ځواب ويلی دی چې اطلاعاتو ته د لاسرسي په برخه کې د حساب ورکونې د ډېروالي ښوودنه کوي.



تدارکاتي ادارو له خوا د غوښتنې له مخې د اطلاعاتو د خپرواوي کچه


٦ شکل: په انفعالي توگه د ټولو او تدارک کوونکي ادارو دی.




*اطلاعاتو د خپرولو کچه*

د ټولو ۲۰ پروژو له ډلې، د افغانستان برېښنا شرکت ۳ پروژو د خلکو د غوښتنو پر بنسټ د قرارداد په کچه ۱۰۰٪ اطلاعات ور کړي دي چې د غوښتنې له مخې د اطلاعاتو د خپرولو په کچه کې تر ټولو لوړ مقام لري. په ورته وخت کې، د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې د غوښتنې پر بنسټ ۵۵ سلنه اطلاعات ورکړي او د نورو په پرتله تر ټولو ټيټ مقام کې ځای لري. د افغانستان برېښنا شرکت د یوې تدارکاتي اجرايي اداري په توگه ادعا کړې چې دوی د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې په تدارکاتو کې کمه ونډه لرله او په دې توگه يې نه اطلاعاتو ته لاسرسی درلود او نه يې هم د بنسټيز روڼتيا نوښت د غوښتنې پر بنسټ اطلاعات ورکړي دي. همدارنگه، د هرې پروژې لخوا د پروژې په کچه او د قرارداد په کچه د غوښتنې پر بنسټ د اطلاعاتو خپرول په ۷ شکل کې محاسبه او ښوودل کېږي.

CONFIDENTIAL




۷ شکل: په هره پروژه کې په انفعالي توګه د تولو، د پروژې په کچه او د قرارداد په کچه اطلاعاتو خپرول

## لنډيز

دا څېړکی د عامو زېربنايي پروژو د اطلاعاتو د خپرولو په تړاو شته حقوقي اډانه او په دې برخه کې شوی پرمختګ تر بحث لاندې نيسي. د قوانينو لکه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پلي کول او بياکتنه او د تدارکاتو د يو انلاين مرکزي سيستم (د افغانستان دولتي برېښنايي او پرانيستی تدارکاتي سسيستم) په لاره اچول په افغانستان کې د اطلاعاتو د خپرولو په برخه کې بې ساري ګام بلل شوی دی. سربېره پر دې، د بنسټيزې روڼتيا نوښت څلور برخې په ځانګړې توګه، د ډاډ ورکونې لړۍ د ودانيز سکټور د روڼتيا د لا ډېروالي لپاره د روانو اصلاحاتو په لړۍ کې تر ټولو بشپړه لړۍ بلل شوې ده.

په خپله خوښه د اطلاعاتو د خپرولو ارزونه، چې د بنسټيزې روڼتيا نوښت د غوښتنو په صورت کې د تدارکاتي ادارو لخوا د خپرو شويو اطلاعاتو پر بنسټ ترسره شوې، د ډاډ ورکونې د تېر راپور په پرتله ۹ سلنه ډيروالی ښيي. په ورته وخت کې د افغانستان برېښنا شرکت د غوښتنې له مخې د پروژو په کچه او د قراردادونو په کچه د اطلاعاتو په خپرولو کې د ډېرې همکارۍ له امله تر ټولو لوړې ۸۸ سلنه نمرې ترلاسه کړې، په داسې حال کې چې د ولسمشرۍ رياست پراختيايي او عملياتي واحد د عامې روغتيا وزارت اړوند د کوويډ ۱۹ بېړنيو حالاتو سره د مبارزې د څلورو زېربنايي پروژو په اړه هيڅ اطلاعات نه دي خپاره کړي. په ټوله کې، د اطلاعاتو د خپرولو غوښتنو ته د تدارکاتي ادارو د ځواب ويلو کچه لوړه ده چې عمده لامل يې بنايي اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه د پوهاوي او د مدني ټولنې پر وړاندې د حساب ورکولو ډېروالی وي.



## لنډه کتنه

تدارکات په پروژه کې یو مهم پړاو دی، څو د پیسو ارزښت ډېر او د پروژې د پلان سره سم کارونه پیل شي. په دې پړاو کې د قرارداد تر لاسلیک او قراردادي ته د پروژې په سیمه کې د فزیکي کار د پیل لپاره د اطلاع ورکولو پورې د داوطلبۍ اعلان، داوطلبۍ پرانیستل او ارزونه شامل دي. د زېربناوو د روڼتیا نوښت په دې راپور کې په دې بحث کړی، چې د داوطلبۍ لړي تر کومې کچې پرانیستې، له قانون سره سم او اغېزناکه ده.

CONFIDENTIAL

## ۱,۲ د ارزونې کچه

د بنسټیزې روڼتیا نوښت د پروژې له تعینولو او طرحه کولو د پړاو او د قرارداد د لومړي پړاو وروسته او د قرارداد د تطبیق له پړاو وروسته، تدارکات د پروژې د دویم پړاو په توګه بولي. په حقیقت کې، لکه څنګه چې په یوه پروژه کې څو قراردادونه وي، په هماغه کچه په یوه پروژه کې څو تدارکاتي پړاوونه وي، سره له دې چې په دې راپور کې په ټولو ځایونو کې دا حالت ورته نه دی ځکه د افغانستان د پروژو او تدارکاتو د مدیریت په سیستم کې پروژه او قرارداد یو تر بله جلا نه دي.

سربېره پر دې، لکه څنګه چې د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د اطلاعاتو د خپرولو په لاربنود کې په ګوته شوي، د دې راپور د تدارکاتو د ارزونې په کاري ساحه کې د هر قرارداد لپاره د اطلاعاتو د ۵ برخو شننه او طی مراحل شته چې باید د تدارکاتي ادارو لخوا (د غوښتنې پر بنسټ د اطلاعاتو د خپرولو په توګه) وړاندې شي او دا برخې په لاندې ډول دي: د قرارداد مسؤلین او دندې، د تدارکاتو میتود، د داوطلبۍ اسناد، د داوطلبۍ د ارزونې پایلې او د پروژې د ډیزاین راپور. په یاد راپور کې په ګوته شویو بدلونونو او د اندېښنې برخو کې د داوطلبۍ د پرانیستې کچې، د اټکل شوي او د قرارداد د لګښتونو توپیر، د افر د ارزونې د مودې اوږدوالی، د قرارداد ورکړې، د کار د پیل د اطلاع ورکولو د داوطلبۍ د ټولې پروسې تحلیل او شننه شامل دي.

## ۲,۲ د پرانیستې داوطلبۍ کچه

د داوطلبۍ پرمهال د پرانیستې یا رقابت کچه د توزیع شویو شرطپاڼو او د ګډون کوونکو داوطلبانو د اوسط له نسبت څخه ترلاسه کېږي. د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د دې لپاره د داوطلبۍ د پرانیستنې او رقابت کچه ارزوي څو د تدارکاتو په لړۍ باندې د عامو خلکو باور ډېر او همدارنګه دا په ډاګه کړي چې آیا په زېربنایي پروژو کې د پیسو ارزښت (اټکل شوی ارزښت) ډېر شوی یا نه. د ۲۰ پروژو د داوطلبۍ د ارزونې د پایلو (چې د آفر د ارزونې راپور هم ورته ویل کېږي) له څېړلو وروسته دا په ډاګه شوې چې په اوسط ډول د ۳۳ توزیع شویو شرط پاڼو څخه په اوسط ډول ٦ داوطلبانو د داوطلبۍ په بهیر کې ګډون کړی دی چې په څرګنده توګه په یوه داوطلبۍ کې د داوطلبانو د ګډون لوړ شمېر په ګوته کوي.

په اوسط ډول، د هرې پروژې په پرانیستې داوطلبۍ کې ٦ داوطبانو ګډون کړی چې د ډاډ ورکونې د تېر راپور په پرتله ۳۳٪ ډېروالی ښیي، چې لامل یې د تدارک کوونکو ادارو لکه؛ د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ لخوا په انلاین بڼه د شرطنامو شتون په ګوته شوی، خو د تدارک کوونکو ادارو، ملي تدارکاتو ادارې او د افغانستان د زېربنایي پروژو د روڼتیا نوښت لخوا د عامه زېربنایي پروژو د داوطلبۍ د لا ښه والي او هڅونې لپاره د ترسره شویو اقداماتو له امله یې لا هم ډېروالی موندلی دی. له افغان دولت پرته د نورو مراجعو لخوا د زېربنایي داوطلبیو ټولیز کموالی یو بل لامل دی چې په برخه کې یې ونډه لرلې ده.

د دې ترڅنګ، د یادونې وړ ده چې د توزیع شویو شرطپاڼو او د ګډون کوونکو داوطلبانو د اوسط شمېر په کچه کې توپیر د ډاډ ورکونې له ټیم سره د خصوصي سکټور د استازو لخوا د شریکو شویو اندېښنو سره تفاوت لري. د یوې واحدې ادارې چې د خصوصي سکټور استازولي کوي، په وینا "د داوطلبۍ د مودې اوږدوالی" او "د افر د ارزونې جدي اصل"، نور هغه لاملونه دي چې د عامو پروژو په داوطلبۍ کې د داخلي داوطلبانو د ګډون مخه نیسي.

همدارنګه د ډاډ ورکونې د ټیم په واک کې ورکړل شوي د پروژو اړوند اطلاعات دا په ډاګه کوي چې د آفر د ارزونې په اصل کې یو څه نرمښت به داخلي شرکتونه دې ته وهڅوي څو په عامو پروژو کې داوطلبي وکړي. خصوصي ډلې/مراجع په ودانیز سکټور کې د لویو پروژو لپاره د آفر د ارزونې په اصل کې د «ورته پروژو» پر ځای د «ورته کارونو» د شرط د بدلون او له ۵ کلونو څخه ۱۰ کلونو ته د کلني عاید د مودې د ډېروالي غوښتنه کوي. په ورته وخت کې، تدارکاتي ادارو داخلي شرکتونو ته وړاندیز کړی چې له نړیوالو

CONFIDENTIAL

شرکتونو سره ګډ سوداګریز تشبثات جوړ کړي څو د بندونو، د برېښنا د لېږد او لويو لارو په څېر د لويو زېربنايي پروژو لپاره په شرايطو برابر شي.

لاندې ۳ جدول د زېربنايي پروژو په ټاکلو نمونو کې د وېشل شويو شرطنپاڼو شمېر، د ګډون کوونکو داوطلبانو شمېر او په داوطلبۍ کې د ګډون کچه وړاندې کوي. د وېشل شويو شرطپاڼو او ګډون کوونکو داوطلبانو نامتناسب والی یا توپیر تر دې حده ښکاره دی چې په کابل ښار کې د کابل ښاروالۍ د سړک د رغونې د ۳ پروژو لپاره د ۵۷ توزيع شويو شرطنپاڼو وروسته يواځې ۸ داوطلبانو په داوطلبۍ کې ګډون کړی دی. له بلې خوا، په بيلابيو ولايتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت د برېښنا د ۳ پروژو لپاره د ۱۰۱ شرطپاڼو له وېشلو وروسته له ۳ تر ٦ داوطلبانو ګډون کړی دی.


۳ جدول: د وېشل شويو شرطپاڼو شمېر، د ګډون کوونکو داوطلبانو شمېر او په داوطلبۍ کې د ګډون کچه

| شمېره | پروژه | د توزيع شويو شرطنامو شمېر | د ګډون کوونکو داوطلبانو شمېر | د ګډون کچه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت- د ننګرهار کانکريټي سړک | ۱۰ | ۸ | ۸۰٪ |
| ۲ | د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت- د بدخشان کانکريټي سړک | ٦ | ۳ | ۵۰٪ |
| ۳ | د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت- د پنجشير سړک او پل | ۱۸ | ۱۱ | ٦۱٪ |
| ۴ | د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت - د باميانو د اوبو رسولو شبکه | ۲۲ | ۱۰ | ۴۵٪ |
| ۵ | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت- د هرات ښوونځی | ۱۲ | ٦ | ۵۰٪ |
| ٦ | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت- د کاپيسا اداري ودانۍ | ۱۴ | ۸ | ۵۷٪ |
| ۷ | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت- د بلخ پوهنتون ودانۍ | ۱۸ | ٦ | ۳۳٪ |
| ۸ | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت- د کندهار د لابراتوار ودانۍ | ۹ | ۴ | ۴۴٪ |
| ۹ | د افغانستان برېښنا شرکت- له جلال اباد نه اسعد اباد ته د برېښناد لېږد | ۱۰۱ | ۴ | ۴٪ |
| ۱۰ | د افغانستان برېښنا شرکت- د غور د لمريزې برېښنا شبکه | ۷۷ | ۳ | ۴٪ |
| ۱۱ | د افغانستان برېښنا شرکت- کاسا- ۱۰۰۰ | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي |
| ۱۲ | د افغانستان برېښنا شرکت- له دشت الوان نه تر ارغندې د برېښناد لېږد | ۲٦ | ٦ | ۲۳٪ |
| ۱۳ | د کابل ښاروالۍ- عرفاني سړک | ۵ | ۴ | ۸۰٪ |
| ۱۴ | د کابل ښاروالۍ- د KUTIE دولسم لاټ | ٦۸ | ۳ | ۴٪ |
| ۱۵ | د کابل ښاروالۍ- له دشت برچي تر کندهار پورې سړک | ۵۷ | ۸ | ۱۴٪ |
| ۱٦ | د کابل ښاروالۍ- د KUTIE يوولسم لاټ | ۴۷ | ۵ | ۱۱٪ |
| ۱۷ | د عامې روغتيا وزارت – د هرات د کوويډ ۱۹ ناروغانو د درملنې روغتون | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي |

CONFIDENTIAL

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | د عامې روغتیا وزارت – د نیمروز د کوویډ ۱۹ ناروغانو د درملنې روغتون | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي |
| ۱۹ | د عامې روغتیا وزارت – د کابل د کوویډ ۱۹ ناروغانو د درملنې روغتون | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي |
| ۲۰ | د عامې روغتیا وزارت – د تخار د روغتون رغونه | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي | خپاره شوي نه دي |
| | اوسط | ۳۳ | ٦ | ۳۷٪ |

په دې راپور کې د ۵ ارزول شویو تدارکاتي ادارو له ډلې، د افغانستان برېښنا شرکت په اوسط ډول د ۶۸ شرطپاڼو په وېشلو سره په لومړي او د کابل ښاوالۍ، د کلیو  بیا رغونې او پراختیا وزارت او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په ترتیب سره په دویم، درېیم او څلورم ځای کې راځي. د دې برعکس، د کلیو  بیا رغونې او پراختیا وزارت په اوسط ډول د ۸ داوطلبانو په لرلو سره په لومړي او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت، د کابل ښاوالۍ او د افغانستان برېښنا شرکت په ترتیب سره په دویم، درېیم او وروستۍ کټګورۍ کې راځي. ۷ شکل په هره تدارکاتي اداره کې د توزیع شویو شرطنامو او ګډون کوونکو داوطلبانو اوسط شمېر ښیي.




۸ شکل: د تدارکاتي ادارو لخوا دوېشل شویو شرطپاڼو او ګډون کوونکو داوطلبانو شمېر

# ۳,۲ د داوطلبۍ لړۍ

## ۱,۳,۲ د داوطلبۍ موده


د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت (CoST) د داوطلبۍ موده یوه داسې نښه بولي چې داوطلبي په څومره وخت کې او څومره اغېزناکه توګه پرمخ وړل شوې، نو په دې توګه دا ترون په خپل وخت پیلېږي او زیانونه او د اداري فساد پر وړاندې خطرونه راکمېږي. د داوطلبۍ موده د داوطلبۍ لپاره د بلنې (IFB) د اعلان له نېټې څخه د قرار داد د لاسلیک تر نېټې پورې محاسبه کېږي.

د دغو ۲۰ پروژو د داوطلبۍ منځنۍ موده ۲۰۵ ورځې یاده شوې په داسې حال کې چې دا باید په عادي توګه د ملي او نړیوالو پرانیستو داوطلبیو لپاره له ۱۲۰-۱۵۰ ورځو څخه  ډېره نه وي. د داوطلبۍ دا موده لا هم د داږ ورکونې د تېر راپور په پرتله لږ څه ښه والی او ۱۳۱ ورځې کموالی ښیي.

د کاسا-۱۰۰۰ پروژې د نړیوالې پرانیستې داوطلبۍ تر ټولو اوږده موده ۱۱۴۴ ورځې وه، چې د افغانستان د برېښنا شرکت په وینا، لامل یې د برېښنا د دې سیمه ییزې پروژې پېچلتیا او د هغې په تدارکاتو کې د یادې اداري ډېره کمه ونډه یاده شوې ده. د دې


CONFIDENTIAL

ترخنګ، د داوطلبی تر ټولو کمه موده په کندهار ولایت کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت اړوند یوې پروژې لپاره ۸۱ ورځې ښودل شوې ده. لاندې ۹ انځور د عمومي داوطلبی او د ځانګړو پروژو د داوطلبی موده په ګوته کوي.




۹ شکل: د عمومي داوطلبی او د ځانګړو پروژو د داوطلبی موده

د ۵ تدارکاتي ادارو د داوطلبی د مودې پرتلنه په ډاګه کوي چې د افغانستان برېښنا شرکت د داوطلبی منځنی موده تر ټولو ډېره ۵۹۳ ورځې او د داوطلبی تر ټولو اوږده او ځنډنی بهیر لري، چې لامل یې د برېښنا په لویو پروژو کې خورا ځانګړې تدارکات او د سیاسي او ټولنیزو شرایطو له امله ډېره اغېزمنتیا په ګوته شوې ده. په ورته وخت کې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت او کابل ښاروالی نورې پروژې په ترتیب سره د ۲۳۸ او ۱۷۵ ورځنی مودې په لرلو سره د داوطلبی د پروسې د اوږدوالي له پلوه په دویم او دریيم ځای کې راځي، په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د ۱۱۹ ورځو منځنی مودې په لرلو سره د داوطلبی تر ټولو غوره بهیر لري. لاندې ۱۰ انځور د هرې تدارکتي ادارې د داوطلبی موده څرګندوي.




۱۰ شکل: د هرې تدارکاتي ادارې د داوطلبۍ موده

## ۲،۳،۲ د وړاندیزونو (آفرونو) د ارزونې موده

**غوره بیلگه**

د کابل ښاروالی د KUTEI پروژې د یوې فورمې (د گټو د نه ټکر ترون) فورمې له لارې د آفر د پرانیستلو او ارزونې د کمېټې د غړو بې پلوي او محرمیت ثبت کړی دی.

د آفرونو د پرانیستلو بهیر تر بشپړېدو وروسته پرانیستل شوي آفرونه د ارزونې او وړ داوطلب د معلوملو لپاره د آفرونو د ارزونې کمېټې ته سپارل کېږي. د افغانستان د تدارکاتو د مقررې پر بنسټ، د آفر د ارزونې کمېټه باید آفرونه له پرانیستلو وروسته د ۳۰ ورځو په موده کې و ارزوي، که څه هم تدارکاتي اداري کولای شي دا موده په هغه صورت کې د ۳۰ نورو ورځو لپاره وغځوي چې د آفر د ارزونې د پروسې د ځنډولو لپاره څرگند دلایل شتون ولري. د دې راپور موندنې ښيي چې د دواړو پروژو د آفر د ارزونې بهیر د ۳۰ ورځو په موده کې پای ته رسېدلې، چې تر ټولو غوره بیلگه بلل کېږي، او برعکس هغه آفرونه چې د ٦۰ ورځو یا زیاتو ورځو کې ارزول شوي وي، تر ټولو بده بېلگه بلل کېږي.

لکه څنگه چې په ۱۱ انځور کې ښودل شوي، د آفر د ارزونې تر ټولو اوږده موده د افغانستان برېښنا شرکت لخوا له جلال اباد نه تر اسعد اباد پورې د برېښنا د مزي د لېږد پروژې لپاره ۱۷۹ ورځې ښودل شوې، په داسې حال کې چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت لخوا د بدخشان ولایت د سړک د کانکریټ پروژې د آفر ارزونه یواځې په ۱٦ ورځو کې ترسره شوې ده. په ټوله کې، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د پروژو آفرونه تر ډېره په ټاکل شوې موده کې ارزول شوي چې تر ټولو غوره بېلگه بلل کېږي. په ورته وخت کې د افغانستان برېښنا شرکت پروژې د ماهیت، پېچلتیا او تدارکاتي مېتودونو له‌کبله؛ نړیواله پرانیستې داوطلبي او په دې ارزونه کې د نورو پروژرو په پرتله د دوو پاکټونو مېتود له امله د ارزونې د مودې له پلوه په بده بیلگه کې ډلبندي شوي دي. سربېره پر دې، د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ۷۵٪ پروژې او د کابل ښاروالی ۵۰٪ پروژې د آفر د ارزونې لپاره له ۳۰ ورځو څخه د ډېرې مودې له امله د بدې قضیې په کټگورۍ کې ډلبندي شوي دي.

CONFIDENTIAL





۱۱ شکل: د پروژو د آفر د ارزونې موده

## ۳،۳،۲ د قرارداد د ورکړې موده

دا راپور د آفر د ارزونې بهیر تر بشپړېدو نیولې د قرارداد تر لاسلیک پورې د ځنډ بهیر په ډاګه کوي، چې دا ډول ځنډ د زیات شمېر پروژو د نه پیل لامل ګرځي. د آفر د ارزونې له پای ته رسېدو تر قرارداد لاسلیک پورې د ځنډ منځنۍ موده ۱۰۰ ورځې ده. لکه څنګه چې په لاندې ۱۲ انځور کې لېدل کېږي، د کابل ښاروالۍ د ۱۲ لاټ پروژه د ۲۲٦ ورځو لپاره ځنډېدلې ده، په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت اړوند د کندهار په ولایت کې یوې پروژې د آفر د ارزونې تر بشپړېدو وروسته په۲۲ ورځو کې لاسلیک شوې چې غوره قضیه بلل شوې ده.

د قرارداد تر لاسلیک پورې په پروسو کې د ځنډ موده د تدارکاتي اداري او نورو اړوندو کسانو لخوا ناسمه ګټه اخیستنه او د اداري فساد زیانمننې په ګوته کوي. عنعنوي خپل‌سرې اوږدې پروسې او ژمنۍ رخصتۍ، د مالیې وزارت لخوا راتلونکې کال کې د بودیجې د چمتو کولو ځنډنې پړاوونه، د دغه ډول ځنډونو لاملونه بلل شوي دي. د ۵ تدارکاتي ادارو له ډلې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د نورو په پرتله د قرارداد تر لاسلیک پورې په منځنۍ کچه د تر ټولو کمې مودې لپاره ځنډ کړی، حال دا چې د افغانستان برېښنا شرکت او ورپسې کابل ښاروالۍ او د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په پروژو کې تر ټولو اوږد ځنډ لیدل شوی دی.

۱ د افغانستان د تدارکاتو مقرره، ۲ فقره، ۴۰ ماده، ۱۷ مخ




۱۲ شکل: د پروژو د قرارداد د ورکړې (لاسلیک) موده


## ۴,۳,۲ د کار د پیل موده

د تدارکاتو د طرزالعمل له مخې تدارکاتي اداره قراردادي ته د کار د پیل د اطلاع (NTP) په ورکولو سره په قرارداد کې د ذکر شوې ټاکلې مودې (مودو) سره سم د پروژې د سایټ ټولو برخو ته د لاسرسي او یا د هغې د ملکیت حق ورکوي. د دې راپور موندنې په ډاګه کوي چې د زیات شمېر پروژو لپاره د کار د پیل اطلاع ورکول ډېر وخت نیسي او په دې توګه پر خپل وخت د پروژو پر پیل باندې اغېزه کوي او د اداري فساد د زیانمننو خطرونه ډېروي. د تدارکاتو له متخصصینو سره د ترسره شویو مرکو پر بنسټ، د قرارداد فزیکي کار معمولاً د قرارداد له لاسلیک وروسته د ۷ نه تر ۱۴ ورځو په موده کې پیلېږي، سره له دې چې، د کار د دوام په اړه په قرارداد کې د تدارکاتي ادارو لخوا پرېکړه کېږي. لکه څنګه چې په ۱۳ شکل کې ښوودل شوي، د کابل ښاروالۍ ټولو پروژو ته، د عرفاني سړک له پروژې پرته، د قرارداد له لاسلیک وروسته په لنډه موده کې د کار د پیل اطلاع ورکړل شوې. د یاد سړک پروژې ته د قرارداد له لاسلیک څخه ۲۷۸ ورځې یا شاوخوا لس میاشتې وروسته د کار د پیل اطلاع ورکړل شوې وه.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت پروژو ته د کار د پیل اطلاع د قرارداد له لاسلیک وروسته سملاسي ورکړل شوې، که څه هم د کار د پیل د اطلاع او د قرارداد د لاسلیک ترمنځ موده د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په پروژو کې توپیر کوي. د بیلګې په توګه؛ د بامیانو ولایت د اوبو رسولو د پروژې لپاره ۹ ورځې او د پنجشیر ولایت د سړک او پل د پروژې لپاره ۱۱۳ ورځې ښودل شوې ده. په ورته وخت کې د کار د پیل د اطلاع ورکولو او د حقیقي کار د پیل ترمنځ تر ټولو اوږده موده د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې لیدل شوې لکه؛ د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې د کار د پیل اطلاع د قرارداد له لاسلیک وروسته د ۴٦۷ ورځو په موده کې ورکړل شوې، چې د دې

[۲] د ملي تدارکاتو اداره، د لویو کارونو د تدارکاتو لپاره معیاري شرطنامه، کاري ساحې ته د لاسرسي حق ۲,۱ فقره، ۹۴ مخ

ځنډ لامل د برېښنا شرکت لخوا د قرارداد د ټاکل شویو شرایطو سره سم په ټاکل شوي مهالوېش د تدارکاتي ادارې له لورې د کار د پیل د اطلاع نه ورکول په ګوته شوی دی.




۱۳ شکل: د پروژو د قرارداد د پیل موده


## ۴,۲ د لګښت براورد

تدارکاتي ادارې د یوې زېربنایي پروژې د تدارکاتو له پیل مخکې د پروژې د طرحه کولو پر مهال د انجینرۍ او لومړنیو لګښتونو یو براورد کوي. د لګښت لومړنی براورد د آفر د ارزونې معیارونه ټاکي لکه؛ د ورته پروژو ارزښت، کلنی عاید او مالي ظرفیت چې یو ړو داوطلب یې باید ولري. د دې راپور پر بنسټ په ډاګه شوې چې د ټولو پروژو براورد شوی مبلغ له حقیقي مبلغ نه ډېر دی چې په لاندې ۱۴ انځور کې ښودل شوي دي، سره له دې چې په ډېرو حالاتو کې د تدارکاتو په طرزالعمل کې د ټاکل شوي حد څخه لوړ براورد نه دی.

که څه هم، د زیات براورد دغه بهیر به د آفر د سیالۍ په کچه باندې اغېز وکړي ځکه هر څومره چې براورد شوی لګښت لوړ وي، په هماغه کچه د آفر د ارزونې معیارونه هم لوړیږي. په پروژو کې د براورد شوي لګښت او د قرارداد د حقیقي لګښت ترمنځ توپیر لیدل کیږي. د بیلګې په توګه، د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت لخوا په بدخشان ولایت کې د سړک د کانکریټ پروژې توپیر تر ټولو کم ۲٪ ښودل شوی په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت لخوا په هرات ولایت کې د ښوونځي د رغونې د پروژې توپیر

[۲] د تدارکاتو مقرره، ۳ فقره، ۵۱ ماده، ۲۲ مخ

۳۲٪ بنودل شوی دی. د یادونې وړده چې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند کاسا- ۱۰۰۰ پروژې لپاره دا توپير منفي ۰,۱٪ بنودل شوی دی.



## لنډيز

په درېيم څېرکي کې د تدارکاتي ادارو لخوا د هر اړوند قرارداد په خپله خوښه د اطلاعاتو د خپرولو له ۵ محلونو څخه اخيستل شوي بهيرونه او د اندېښنې وړ برخې تر څېړنې لاندې نيول کېږي. د اطلاعاتو په دې محلونو کې د قرارداد د اړوندو چارواکو او د هغوی د دندو، د تدارکاتو د مېتود، د داوطلبۍ د اسنادو، د داوطلبۍ د ارزونې د پايلې او د پروژې د ډيزاين د راپور بشپړ اطلاعات شتون لري. د دې راپور موندنې ښيي چې د هرې پروژې په داوطلبۍ کې په اوسط ډول ٦ داوطلبانو ګډون کړی چې د داړ ورکونې د تېر راپور په پرتله ۳۳٪ زياتوالی په ډاګه کوي. په ورته وخت کې، د داوطلبۍ پرمهال د داوطلبانو د ګډون ۳۷٪ په پام کې نيولو سره، د داوطلبۍ اوږده موده او د آفر جدي ارزونه او ورته نور عوامل د ترلاسه شويو شرطپاڼو وروسته د ځينو داوطلبانو لخوا په داوطلبۍ کې د نه ګډون لاملونه په ګوته شوي دي. دويم څېړل شوی عامل د داوطلبۍ موده ده او د دې ښودنه کوي چې د داوطلبۍ پړاوونه په اغېزناک او سم ډول ترسره شوي چې په ترڅ کې يې د قرارداد د اجرا سره سم کارونه په وخت پيلېدای او د اداري فساد زيان‌منتې او خطرونه راکمېدای شي. د ۲۰ پروژو د داوطلبيو منځنۍ موده ۲۰۵ ورځې ده چې د داړ ورکونې د تېر راپور په پرتله لږ څه ښه والی او ۱۳۱ ورځې کموالی په ګوته کوي. د آفر ارزونه د داوطلبۍ د ټولې پروسې د يوې برخې په توګه د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د پروژو لپاره د غوره کړنې په توګه د ۳۰ ورځو په موده کې او د افغانستان د برېښنا شرکت د پروژو لپاره د بدې کړنې په توګه د ٦۰ ورځو او يا له دې ډيرې موده کې ترسره شوې ده.

د داوطلبۍ په پروسو کې يو بل په ګوته شوی عامل د آفر د ارزونې د پای ته رسېدو څخه د قرارداد تر لاسليک پورې مودې اوږدوالی دی، چې په يادو پروسو کې د قرارداد تر لاسليک پورې د ځنډ دوام د تدارکاتي ادارې او نورو اړوندو کسانو لخوا بالقوه ناسمه ګټه اخيستنه او د اداري فساد زيانمنتې په ډاګه کوي چې په منځني ډول دا موده ۱۰۰ ورځې محاسبه شوې ده. د ټولو تدارکاتي ادارو له ډلې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت پروژې د قرارداد تر لاسليک پورې په اوسط ډول تر ټولو کم وخت په داسې حال کې چې د افغانستان د برېښنا شرکت او ورپسې د کابل ښاروالۍ او د کليو  بيا رغونې او پراختيا وزارت پروژو تر ټولو ډير وخت نيولی دی.

د داوطلبۍ په پروسو کې تر ټولو وروستی عامل چې په خپل وخت يې د پروژو د کارونو په پيل اغيزه کړې او اداري فساد د زيانمننو او خطرونو د ډېروالي لامل شوی، په ځنډ سره د کار د پيل اطلاع ورکول په ګوته شوی دی، چې له هغې پرته قراردادي په ساحه کې فزيکي کار نه پيلوي. د کار د پيل د اطلاع تر ټولو اوږده موده د افغانستان د برېښنا شرکت په پروژو کې ليدل شوې، په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت پروژو د قرارداد له لاسليک څخه وروسته په سملاسي توګه قراردادي ته د کار د پيل اطلاع ورکړې ده.

# څلورم څپرکی: د قرارداد مدیریت




د ډاډ ورکونې ډله د ساحوي لیدنې پرمهال
د ۲۰۲۱ کال فبروري، پنجشیر ولایت

## لنډه کتنه

په چارو کې ځنډ او د لګښتونو ډېروالی په ټوله نړۍ کې د زېربنايي پروژو د بشپړولو پر وړاندې لوی خنډونه دي. د يوې پروژې په موده کې يو شمېر بهرني لاملونه هم شته چې د پروژو په موده او بوديجه باندې ناوړه اغېز پرېباسي. له نېکه مرغه، داسې داخلي عوامل شته چې د پلان جوړونې او مديريتي پروسو پرمټ کولی شو پر دغه خنډونو بريالي شو او ډاډ ترلاسه کړو چې پروژې پر وخت او په ټاکلي بوديجه بشپړېږي. په دې څېرکي کې د ټاکل شويو زېربنايي پروژو د وخت غځول، د لګښت ډېرېدل او د پېسو په ورکړه کې ځنډ وضعيت او لاملونو په هکله بحث شوی.

CONFIDENTIAL

## 4.1. چه

د بنسټيزې روڼتيا نوښت (کاسټ) له مخې، کله چې تدارکاتي چارې بشپړې شي او قرارداد ورکړل شي، د پروژې پلي کول د قرارداد د چارو دويم پړاو دی. په دې راپور کې د قرارداد د مديريت ارزونې ساحه کې د اطلاعاتو د لاندې مواردو تحليل او د پړاوونـو بشـپړول شامل دي کوم چې د تدارکاتي ادارو له لورې وړاندې شوي دي چې د افغانستان د بنسټيزې روڼتيـا نوښـت (کاسـټ افغانسـتان) د اطلاعاتو د خپرولو لاربښود پر بنسټ (د غوښتنې له مخې شريک شوي): ۳ نقطې د قرارداد د پلي کولو (د قرارداد تـړون او شرايـط، د شرکتونو ثبت او مالکيت، ځانګړنې او نقشې)، د اطلاعاتو ۵ نقطې د قرارداد د بشپړولو لپاره (د بدلونونو، تعديلونو ليست، د ډېروالي ليست، د ډاډ ورکوونې راپور، د پيسو د ورکړې يادښتونه يا تصـديقونه، د قـرارداد اړونـد بدلونونـه) او د اطلاعـاتو ٦ نـورې سـيمې د پروژې د بشپړتيا اړوند (د پلي کولو د پرمختګ راپور، د بوديجې د تعديل پرېکړه، د پروژې د بشپړولو راپور، د پروژې د ارزونې راپـور، د تخنيکي تفتيش راپورونه، د مالي تفتيش راپورونه).


د وخت د ځنډ، تادياتو او لګښتونو د زياتوالي او بدلونونو په ګډون د اندېښنې وړ ميلانونه او برخې په دې راپور کې ځانګړي شوي دي او د قرارداد د مديريت بهير اړوند عمومي اندېښنو په هکله هم بحث شوی دی.

## 4.2. د مهالوېش مديريت

د ودانيزو پروژو په بشپړولو کې ځنډ يوه نړيواله پديده ده، په همدې اساس دا مورد د مهالوېش د مديريت د يو اساسي شـاخص پـه توګه د کاسټ افغانستان له لورې په دوامداره توګه ارزول شوی دی. د ځنډ د مودې د معلومولو لپـاره، پـه قـرارداد کـې د پـای نېټـه د قرارداد له حقيقي نېټې سره کتل شوي ده. که چېرې د ځنډ موده له يوې ورځې څخه زياته وي، داسې انګېرل کېږي چې قرارداد په خپل وخت نه دی بشپړ شوی.

لکه څنګه چې په ۱۵ انځور کې ښکاري، په ټاکل شويو ودانيـزو پـروژو کـې پـه منځنـي ډول ۴۵,۷٪ ځنـډ مونـدل شـوی چـې د ډاډ ورکونې د دويم راپور په پرتله ۱۸,۳٪ کم ځنډ څرګندوي. د ټولو شپاړس پروژو له ډلې، چې په اړه يې غوښتل شوې اطلاعات ترلاسه شوي، ۱۲ پروژې له ځنډ سره مخ شوي دي او قرارداد يې د وخت د تمديد په موخه بدل شوی دی. په کندهار کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت پروژه کې تر ټولو ډېر ځنډ ۱۹۷٪ ليدل شوی او په بدخشان ولايت کې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت په يوه پروژه کې ۵,٦٪ ځنډ ليدل شوی دی چې د ټاکل شويو پروژو په پرتله تر ټولو کم ځنډ بلل کېږي. په زړه پورې خبره دا ده چې په پنجشير ولايت کې د کليو بيا رغونې او پراختيا وزارت يوه پروژه له خپل وخت څخه مخکې بشپړه شوې او هېڅ ځنډ په کې نه دی رامنځتـه شوی.


CONFIDENTIAL




انځور ۱۵: د پروژې پر اساس د وخت ځنډ

د تدارکاتي ادارو له پلوه، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په پروژو کې په منځنۍ توګه ۹٦٪ ځنډ لیدل شوی چې ورپسې د کابل ښاروالي، د افغانستان برېښنا شرکت او د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت دي چې په پروژو کې یې په ترتیب سره ۴۸،٦٪، ۱٦،۸٪، ۱۱،۸٪ ځنډونه لیدل شوي دي. په ۱٦ انځور کې د هرې تدارکاتي ادارې له لورې په منځنۍ کچه د ځنډ کچې ښودل شوي دي. په ارزونه کې څرګنده شوې ده چې د پروژې کاري ساحه، د کووید -۱۹ وبا، ناوړه اقلیمي شرایط، د ځمکو په استملاک او بل ځای د خلکو مېشت کولو کې ځنډونه او د قرارداد کمزورې کړنې هغه پنځه لاملونه دي چې په پروژو کې د ځنډ د رامنځته کېدو لامل شوي دي. که څه هم په دې هکله د وبا او اقلیمي شرایطو اټکل سخت دی، خو د پروژې کاري محدوده کې بدلون، د ځمکو استملاک اړوند

لانجو او د قراردادیانو له خوا عام ځنډونه هغه څه دي چې د پروژو په بشپړولو کې د ځنډ لوی لاملونه دي، چې له کوم توپیر پرته پرې نیوکې شوي او ځانګړي شوي دي.




*انځور ۱۶: د تدارکاتي ادارو لخوا د وخت زیاتوالی*


## 4.3. د لګښت مدیریت

د زېربنایي پروژو د بشپړولو پر وړاندې یو بل عام خنډ، تر ټاکلې اندازې د لګښتونو زیاتېدل دي چې په ټوله نړۍ کې ورسره دا ډول پروژې مخ کېږي. د ډاټ ورکونې د لومړي راپور راهیسي، افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت په دوامداره ډول د پروژو د لګښتونو د مدیریت د اساسي شاخص په توګه د پروژو د لګښتونو زیاتوالي او ورسره د مل عواملو ارزونه کړې ده. لګښتونه هغه وخت زیاتېږي چې کله د قرارداد لپاره له ټاکل شویو پیسو څخه د نورو لګښتونو د کولو سره هوکړه وشي او د حقیقي لګښتونو یا د ترسره شویو لګښتونو له کچې سره د پرتلنې په وسیله محاسبه کېږي. افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت موندلي چې په افغانستان کې په زېربنایي پروژو کې د لګښتونو د زیاتېدو موضوع زیاته ده چې له امله یې د اداري فساد زیان‌منتې او د ناسم مدیریت ستونزې رامنځته کېږي.

**غوره بېلګه**


د (KUTEI) په تمویل یوه پروژه قراردادیانو ته د کار د واحد په اساس ورکړل شوې ده. د دې قرارداد له مخې، هر انوایس سنجول کېږي او د کار د سلنې پر ځای د ترسره شوي کار له مخې پیسې ورکول کېږي.

په ټاکل شویو زېربنایي پروژو کې په منځنۍ توګه ۱۰٪ د لګښتونو زیاتوالي په هکله راپور ورکړل شوی دی کوم چې د ډاټ ورکونې د دویم راپور په پرتله ٦،٢٪ زیاتوالی څرګندوي. لکه څنګه چې په ۱۷ انځور کې وینئ، پنځه پروژې چې تازه پېل شوې وې، درول شوي، خو د ۷ پروژو لګښتونه زیات شوي دي او له امله یې قراردادونو کې بدلون راوړل شوی دی. د افغانستان برېښنا شرکت اړوند له دشت الوان څخه تر ارغندۍ پورې د برېښنا مزي د لېږد پروژه کې تر ټولو ډېر د لګښتونو زیاتوالی لیدل شوی دی چې ٥٢٪ دی، په داسې حال کې چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت په هیڅ پروژه کې د لګښتونو زیاتوالی نه دی لیدل شوی، بلکې د کاري محدودي له کمېدو سره د ځینې پروژو حقیقي لګښتونه کم شوي دي.




*انځور ۱۷: د پروژې پربنسټ د لګښتونو زیاتوالی*

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت پرته، د ټولو تدارکاتي ادارو په پروژو کې لګښتونه وروسته زیات شوي، په داسې حال کې چې د برېښنا شرکت په پروژو کې د ۱۷٪ زیاتوالی سره د ټولو ادارو په سر کې ځای لري چې ورپسې د کابل ښاروالي او د ښار جوړلو او ځمکو وزارت په ترتیب سره ۸٪ او ۳٪ زیاتوالی لري. په ۱۸ انځور کې د هرې تدارکاتي ادارې له لورې د لګښتونو د زیاتوالي منځنۍ کچه ښودل شوي ده. د پروژو د لګښتونو د زیاتېدو له کبله حکومت ته لوی مالي تاوانونه اوړي. په دې راپور کې د زېربنايي پروژو د لګښتونو د زیاتوالي درې ستر لاملونه په نښه شوي دي چې د پروژې د کارې محدودې بدلون، د پروژې ناسمه او نیمګړې سروې او طرحه او د حکومت له لورې په دې وروستیو کې د سوداګریزو مالیاتي بدلونونو څخه عبارت دي.





*انځور ۱۸: د تدارکاتي ادارو له مخې د لګښتونو زياتوالی*

## 4.4. د بدلونونو مديريت

د پروژې په کاري محدوده او طرحه کې بدلون په حقيقت کې د زېربنايي پروژو د وخت اوږدېدو او لګښـتونو د ډېرېـدو لاملونـه دي. افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت په دې راپور کې د ټاکل شويو پروژو په قراردادونو کې د راوړل شويو بدلونونو ارزونه ترسره کړې ده. په ۱۹ انځور کې د پروژو دوامداره بدلونونه طبقه بندي شوي دي او د بدلونونو ډول او شـمېر پـه کـې تشريـح شـوی دی. د ۱۳ پروژو په قراردادونو کې په بېلابېلو پړاوونو کې د وخت د اوږدېدو، د لګښت د ډېرېدو کاري محدودې اړوند بدلونونه رامنځتـه شـوي دي. په ټوله کې ۱٦ بدلونونه د وخت، ۱٦ بدلونونه د لګښت، او ۱۵ بدلونونـه د کـاري محـدودې اړونـد پـه ټاکل شويو پروژو کې رامنځته شوي دي. د قرارداد د بدلونونو ارزونه څرګنـدوي چـې د وخـت د اوږدېـدو، لګښت د ډېرېدو او يا کاري محدودې د بدلون زيـاتره بنسټيز لاملونه د پروژې پـه پېژنـدلو، چمتـو کولـو د پړاوونو لکه سروې، طرحه او تخنيکي ځانګړنو پورې تړلي دي.

**غوره بيلګه**

په کابل ښاروالۍ کې د (KUTEI ) په تمويل پروژو کې د پروژو د فعاليتونو په ورځنۍ توګه څارنه کېږي، په داسې حال کې د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې د درېيمې ډلې له لورې منظمه څارنه کېږي څو په حقيقي وخت




*انځور ۱۹: مجموعي شمېر، د بدلونونو ډول او د تکرار پېښې*

## 4.5. مالي مدیریت

قراردادي ته د پیسو په ورکړه کې ځنډ د ځو کلونو راهیسې لېدل کېږي چې په دې هکله د افغانستان د بنسټیزو روڼتیا نوښت د ډاډ ورکونې په تېرو راپورونو کې راپور ورکړل شوی دی. افغانستان د بنسټیزو روڼتیا نوښت وکړای شو چې یواځې د څو قراردادونو د پیسو د ورکړې اسناداو ته لاسرسی ولري او ومونډل شو چې په دوه مواردو کې د پیسو په ورکړه کې ځنډ د پروژې د ځنډېدو لامل شوی دی. د یو دولتي قرارداد د عمومي شرایطو له مخې، قراردادي ته باید د انوایس تر سپارلو وروسته په ۲۸ ورځو کې پیسې ورکړل شي، خو د خصوصي سکتور استازو ادعا لرله چې د قراردادونو د پیسو ورکړه له ۳ تر ۵ میاشتو پورې وخت نیسي. افغانستان د بنسټیزو روڼتیا نوښت د قراردادونو د پیسو د ورکړې اړوند محدودو اطلاعاتو ته د لاسرسي لرلو ته په کتو دغه ادعا تر ډېره سمه بولي.

تدارکاتي ادارو سره په مرکو کې څرګنده شوې ده چې د بودیجې نه شتون، حتی د هغو پروژو لپاره چې په هکله یې د حکومت له لوري واضح بودیجوي ژمنتیاوې شوې دي، د قراردادونو د پیسو په ورکړه کې یې ځنډ راغلی دی. په دې راپور کې مونډل شوې دي چې لږ تر لږه دوه پروژې داسې دي چې که څه هم د مالیې وزارت له لوري یې ژمنه شوې وه او په ملي بودیجې کې ورته پیسې ځانګړې شوې وې، خو پیسې یې پر وخت نه دي ورکړل شوې. د قراردادونو د پیسو د ورکړې په تړاو یوه بله عامه ادعا چې د تدارکاتي ادارو او خصوصي سکتور له لوري کېږي، دا ده چې د مالیې وزارت له لوري د پیسو د ورکړې تایید او د ټرانزیکشن اجرا په ځنډ سره کېږي. د تدارکاتي ادارو لپاره د قراردادیانو له خوا د ورسپارل شویو انوایسونو د تایید په موخه د شته تګلارو ارزونه کې څرګنده شوه چې د پیسو د ورکړې د تصدیق اجرا یوه ستونزمنه لړۍ ده او تر ډېره د اداري فساد له زیان منونو سره مخ ده. خو، د دې راپور په محدوده کې د مالیې وزارت له لوري د دولتي پروژو قراردادیانو ته د پیسو د ورکړې د اجرااتو د بهیر ارزونه شامل نه ده.

CONFIDENTIAL

# لنډیز

په دې فصل کې د اطلاعاتو د یو شمېر نښو ارزونه شوي ده چې د تدارکاتي ادارو له لورې د قراردادونو د پلي کېدو، بشپړتیا او پروژو د بشپړتیا پړاونو په تړاو وړاندې شوي دي. د اطلاعاتو دغه نښې د یو قرارداد یا پروژې د وخت ځنډېدل یا د لګښتونو زیاتېدو د بېلابېلو مواردو څېړلو ته لار هواروي. د ټاکل شویو پروژو د وخت او لګښتونو د زیاتېدو کچه په قرارداد کې د هوکړه شوې مودې او لګښت او د حقیقي وخت او لګښتونو د توپیر د منځني حد په محاسبه کولو ترلاسه شوي. په دې راپور کې موندل شوي دي چې په دوامداره توګه د پروژو د وخت اوږدېدل او د لګښتونو زیاتېدل د پروژو په بشپړتیا ناوړه اغېز لري او د اداري فساد زیان منښې او د ناسم مدیریت ګواښونه زیاتوي. په ټوله کې د پروژو په بشپړولو تر ۴۵,۷٪ پورې زیات وخت لګول شوی کوم چې د کیفیت د تضمین د دویم راپور په پرتله ۱۸,۳٪ کموالی ښیي. د ۱۲ پروژو د قراردادونو د وخت د ډیرولو بدلونونه راوستل شوي. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په پروژو کې په منځني ډول تر ۹۶٪ پورې زیات وخت لګول شوی، ورپسې د کابل ښاروالي، د افغانستان برېښنا شرکت او د کلیو پرمختیا او بیا رغوونې وزارت دي چې د پروژو په بشپړولو کې یې په ترتیب سره ۴۸,۶٪، ۱٦,۸٪ او ۱۱,۸٪ زیات وخت لګول شوی. د دې ترڅنګ، د قرارداد د لګښتونو د ډیروالي کچه ۱۰٪ ثبت شوې چې د کیفینت د تضمین د دویم راپور په پرتله ٦,۲٪ زیاتوالی څرګندوي. یواځې د ۷ پروژو لګښتونو کې زیاتوالی پروسس شوی ځکه چې ۵ پروژې تازه پیل شوې وې او بېرته پرې کار درول شوی وو. د افغانستان برېښنا شرکت د قراردادونو د لګښتونو د ډېروالي کچه په منځنۍ توګه ۱۷٪ ده چې تر ټولو لوړه کچه بلل کېږي، ورپسې د کابل ښاروالي او د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت دي چې د پروژو او قراردادونو د لګښتونو د زیاتوالي کچه یې په ترتیب سره ۸٪ او ۳٪ ده، په داسې حال کې چې د ښار جوړولو او ځمکمو وزارت په هیڅ پروژه کې د لګښتونو زیاتوالی نه دی لیدل شوی.

په دې راپور کې په قراردادونو کې د بدلونونو راوستل هم څېړل شوي دي کوم چې د پروژې د کاري کچې، طرحې، مودې او لګښتونو له امله راوړل شوي وو. په ټوله کې په ۱۳ پروژو کې په بېلابېلو پړاوونو کې ۴۷ بدلونونه رامنځته شوي دي، په داسې حال کې چې یواځې ۱۵ بدلونونه په قرارداد کې د کاري کچې د بدلون په هکله وو. د پروژې د وخت اوږدېدل او د لګښتونو زیاتېدلو په تړاو د بدلونونو شمېر مساوي و او د عامه خدماتو په لېږد کې یې د پام وړ ځنډ رامنځته کړی او حکومت ته د لویو مالي تاوانونو لامل شوي. کوویډ – ۱۹ وبا خپرېدل، ناوړه اقلیمي شرایط، د ځمکو په استملاک او د خلکو په مېشت کولو کې خنډونه، د حکومت له لورې د سوداګریزو مالیاتو بدلون، قراردادیانو ته د پیسو په ورکړه کې ځنډ، د قرارداد د کاري کچې بدلون، د پروژې ناسمه او نیمګړې سروې او طرحه او د قراردادیانو کمزورې کړنې د وخت د اوږدېدو او د لګښتونو د زیاتېدو لوی لاملونه بلل شوي دي.

سربېره پر دې، د قراردادونو د پیسو د ورکړې په تړاو افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) ته کم اطلاعات ورکړل شوي دي چې له کبله یې د خصوصي سکتور د استازو هغه ادعا تر ډېره ریښتیا کېږي چې وایي قراردادیانو ته د قراردادونو د پیسو ورکړه له ۳-۵ میاشتې وخت نیسي. تدارکاتي ادارو او خصوصي سکتور له استازو سره په مرکو کې څرګنده شوه چې د هغو پروژو لپاره د بودیجې نه شتون چې د حکومت له خوا ورته څرګنده بودیجوي ژمنتیا موجوده وه، او تدارکاتي ادارو له خوا د پیسو د ورکړې د تصدیق اجرا او د ماليې وزارت له لورې پر وخت د پیسو نه ورکول، قرادادیانو ته د پیسو په ورکړه کې د ځنډ لوی لاملونه بلل شوي

دي. افغانستان د بنسټيزې روڼتيا نوښت تاييدوي چې د قراردادیانو له خوا د انوایسونو تاییدي یو ستونزمن بهير دی او تر ډېـره د اداري فساد زيانمننو سره مخ دی، خو د مالیي وزارت د پيسو د ورکړې بهير ارزونه د دې راپور په محدوده کې شامل نه ده.

CONFIDENTIAL

# پنځم څپرکی: د پروژو اړوند ځانګړې موندنې



د ډاډ ورکونې ټیم غړي د سیمې لیدنه کوي
دسمبر ۲۰۲۰ - بلخ افغانستان

## لنډه کتنه

په دې څېړکي کې د هغو بنسټیزو پروژو د قضیو څېړنې چې په خپله د اطلاعاتو د خپرولو د کچې د بیاکتنې لپاره ټاکل شوي او د هغوي د تدارکاتي او مدیریتي پروسو شننه وړاندې کېږي. د قضیو په دې څېړنه کې د پروژو له اسنادو څخه راټول شوي مهم اطلاعات چې د تدارکاتي ادارو لخوا وړاندې شوي دي او همدارنګه د ډاټا ورکونې ټیم لخوا د ترسره شویو مرکو او کتنو په ترڅ کې راټول شوي اطلاعات شامل دي. لکه څرنګه چې د دې ارزونې د لومړي څېرکي مېتودولوژي برخه کې یادونه شوې، د ډاټا ورکونې ټیم یوازې له لسو پروژو لیدنې ترسره کړای شوې چې له همدې امله د پاتې پروژو لپاره د اطلاعاتو راټولول په دفترونو کې د دې پروژو په هکله د موجوده اسنادو څخه راټول شوي دي.

CONFIDENTIAL

## ۱,۱. هغه پروژې چې اطلاعاتو ته یې خلک لاسرسی لري

| 01. د طبي درملو او محصولاتو د کیفیت ساتنې لابراتوار ودانۍ رغونه | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | عامې روغتیا وزارت | د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۷ اکتوبر ۱۱ |
| پلي کوونکې اداره | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت | د قرارداد شمېره | MUDH/1396/126 |
| موقعیت | کندهار | قرارداد کوونکی | کوهکان ساختماني شرکت |
| د انجنیرۍ برآورد | ۱۱۹۴۶۳۵۱۰,۰ افغانۍ | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۹۴۳۰۸۸۰۰,۰ افغانۍ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۷ اکتوبر ۲۷ |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۷ جولای ۲۲ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۱۸ دسمبر ۲۱ |
| داوطلبۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۴۴٪[۲] | د قرارداد حالت | درول شوی |
| په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | اطلاعات یې خپاره شوي ندي | فزیکي پرمختګ | ۳۱٪ |
| په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ٦٥٪ | مالي پرمختګ | ۱۱٪ |
| پروژه کې شامل کارونه | ۱. د ودانۍ رغنیزې چارې ؛ ۲. د ودانۍ د مرکز ګرمۍ، هوا او ایرکنډېشن سیستم؛ ۳. د ودانۍ د اوبو او کانالیزاسیون سیستم؛ ۴ د ودانۍ د برېښنا سیستم کارونه | | |

**اساسي اندېښنې:**

1. ۲۰۰ سلنه اضافي وخت
2. د قرارداد د تمدیدولو د وخت پر سر له هوکړې پرته د قرارد د معیاد نېټې پوره کېدل
3. د ۲۷ میاشتني ځنډ وروسته د پروژې د بشپړولو لپاره د واضح پلان نشتوالی
4. د پروژې لپاره ناسم چمتووالی (ناسمه سروې او ډیزاین )
5. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او قراردادي تر مینځ کمزورې اړیکې او همغږي

د پروژې ودانیزې چارې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او قراردادي تر مینځ د بشپړو شویو کارونو د تصدیق، د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو د حکمونو منظورۍ او د قرارداد د مبلغ ورکړې پر سر د رامینځته شویو اختلافونو له امله درول شوی دی. د دواړو اړخونو تر مینځ تبادله شوي مکتوبونه ښیي چې قراردادي ادعا کوي چې د پروژې په ډیزاین کې د بدلون راوستلو په هکله د دوی ۲۹ ځله پیشنهادونو ته د ښار جوړولو او ځمکو وزارت لخوابه ټاکلي وخت او واضح ډول ځواب ویل شوی ندی. بله خوا د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د قراردادي لخوا د پروژې ودانیزو چارو کې د کم پرمختګ ادعا لري. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ولایتي مسؤلینو د قراردادي لخوا د پروژې کارونو کې دوامداره ځنډ ته په پام سره، د دې قرارداد د فسخه کولو پیشنهاد هم کړی و.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د کندهار ولایتي مسؤلینو د قراردادي کمزورې مالي وړتیا، پروژه کې د بدلونونو راوستلو اړوند سپارښتنو طی مراحل او د قرارداد د پیسو ورکړې لپاره ډېر وخت نیونکې او سختې اصولي کړنلارې د دې پروژې بشپړولو لار کې د ځنډ لاملونه یاد کړل. د ذکر شویو اختلافونو له امله د قرارداد د معیاد پوره کېدو په جریان کې د قرارداد د مودې تمدیدولو پر سر له هوکړې پرته قرارداد ختم شوی دی او قرارداد د اصولو له مخې د قرارداد تمدیدول نور شونتیا نه لري.

CONFIDENTIAL

[۲] د نهو داوطلبانو له جملې څخه څلورو داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل



د ډاډ ورکونې ټیم غړی د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال



د ډاډ ورکونې غړی له ولایتي انجنیر سره د پروژې په اړه د بحث کولو پر مهال

## 02. د بلخ پوهنتون د طب پوهنځي ودانۍ رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د پوهنې وزارت | د قرارداد ورکړې نیټه | ۲۰۱۷ دسمبر ۴ |
| پلې کوونکې اداره | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت | د قرارداد شمېره | MUDH/1396/172 |
| موقعیت | بلخ | قرارداد کوونکی | کوهکان ساختماني شرکت |
| د انجنیرۍ برآورد | ۱۳۴۱۷۱۶۸۹,۰ افغانۍ | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۱۱۵۳۵۱۷۸٦,۴ افغانۍ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد د پیل نیټه | ۲۰۱۷ دسمبر ۱۳ |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نیټه | ۲۰۱۷ اګست ۲۹ | د قرارداد د پای نیټه | ۲۰۱۹ جون ٦ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۳۳٪[۲] | د قرارداد حالت | درول شوی |
| په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | اطلاعات یې خپاره شوي ندي | فزیکي پرمختګ | ۳۳٪ |
| په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۷۵٪ | مالي پرمختګ | ۲۰٪ |
| پروژه کې شامل کارونه | ۱. د ودانۍ ودانیزې چارې ؛ ۲. د ودانۍ د مرکز ګرمۍ، هوا او ایرکنډیشن سیستم؛ ۳. د ودانۍ د اوبو او کانالیزاسیون سیستم (HVAC) ؛ ۴ د ودانۍ د برېښنا سیستم کارونه | | |

**اساسي اندېښنې:**

1. ۱۲۳ سلنه اضافي وخت
2. د قرارداد د تمدید کولو وخت پر سر هوکړې پرته د قرارد د معیاد نېټې پوره کېدل
3. د ۲۰ میاشتني ځنډ وروسته د پروژې د بشپړولو لپاره د واضح پلان نشتوالی
4. د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او قراردادي تر مینځ د اړیکو او همغږۍ کموالی
5. د پروژې د سایټ په ځانګړې ډول د رغنیزو موادو د ساتنځای کمزوری مدیریت

[۲] د اتلسو داوطلبانو له جملې څخه شپږو داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

CONFIDENTIAL

د پروژې ودانیزې چارې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت او قراردادي تر مینځ د بشپړ شویو کارونو د تصدیق، د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو اړوند حکمونو د منظورۍ او د قرارداد د مبلغ ادایني پر سر د رامینځته شویو اختلافونو له امله درول شوی دی. د پروژې ساحه کې د قراردادي له استازي سره د مرکې موندنې ښيي چې د پیسو د ورکړې طی مراحلو کې ځنډ د پروژې بشپړولو کې د ځنډ او بلاخره د قرارداد د معیاد مودې پای ته رسیدو لامل شوی دی. د دواړو اړخونو تر مینځ تبادله شوي مکتوبونه ښيي چې قراردادي ادعا کوي چې د انوایس له سپارلو وروسته پنځو میاشتو کې د دویم قسط پیسو ورکړې طی مراحل د قرارداد له اصولو سره په ټکر کې ده او د ښار جوړولو او ځمکو وزارت باید د ترسره شوي کار د تصدیق وروسته د انوایس له سپارلو سره سم د یوې میاشتې په ترڅ کې د پیسو د ورکړه ترسره کړې. بله خوا د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د قراردادي لخوا د پروژې په ودانیزو چارو کې د کم پرمختګ ادعا لري.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د کندهار ولایتي مسؤلینو د قراردادي کمزورې مالي وړتیا، پروژه کې د بدلونونو راوستلو اړوند حکمونو طی مراحل او د قرارداد د مبلغ تادیې لپاره ډیر وخت نیوونکي او اصول پرسته کړنلارې د دې پروژې بشپړولو لار کې د ځنډ لاملونه یاد کړل. د ذکر شویو اختلافونو له امله د قرارداد د معیاد پوره کیدو په جریان کې د قرارداد د مودې تمدیدولو له هوکړې پرته قرارداد ختم شوی دی او قرارداد د اصولو له مخې د قرارداد تمدیدول نور شونتیا نه لري.




د پروژې ساحه کې د ودانیزو توکو کمزورې خوندیتوب او ساتنه




د پاډ ورکوونې ټیم غړی د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال

## 03. د کاپیسا ولایت د اداري ودانۍ رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره | د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ جنوري ۲۷ |
| پلي کوونکې اداره | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت | د قرارداد شمېره | MUDH/1397/W-457 |
| موقعیت | کاپیسا | قرارداد کوونکی | نوی کوهستان ساختماني او د سرک جوړولو شرکت |
| د انجنیری برآورد | ۳۷۸۲۵۸۱۲,۵ افغانۍ | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۳۲۶۶۴۹۵۰,۰ افغانۍ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ د جنوري ۲۹ |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ سپتمبر ۲۳ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ سپتمبر ۲٦ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۵۷٪[۲] | د قرارداد حالت | روان (دوام لري) |
| په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | اطلاعات یې خپاره شوي ندي | فزیکي پرمختګ | ۹۰٪ |

[۲۴] د ځورالسو داوطلبانو له جملې څخه اتو داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلسه کړل

CONFIDENTIAL

| | | | |
|---|---|---|---|
| په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸۳٪ | مالي پرمختګ | ۷۹,۱۶٪ |
| پروژه کې شامل کارونه | ۱. د ودانۍ رغنیز کارونه ؛ ۲. د ودانۍ د مرکز ګرمۍ، هوا او ایرکنډیشن سیستم؛ ۳. د ودانۍ لپاره ځاه او سپټیک ټانک؛ ۴ د ودانۍ د اوبو او کانالیزاسیون سیستم (HVAC). ۵. د ودانۍ د برېښنا سیستم کارونه. | | |

**اساسي اندېښنې:**

1. ۲۹ سلنه اضافي وخت نیول
2. ۹ سلنه اضافي لګښتونه
3. د پروژې لپاره ناسم چمتووالی (ناسمه سروې او ډیزاین )
4. د قرارداد د مبلغ ځنډنی اداینه

په دې پروژه کې دوه بدلونونه رامینځته شوی وو، چې دواړه د پروژې د تمدید کېدلو او د قرارداد د لوړو لګښتونو لامل شوي دي. د پروژې ساحې ته د قرارداد کوونکي ځنډنی لاسرسی، د پروژې موقعیت کې د GPS شمېرو کې بدلون رامینځته کېدل، د پروژې نقشه او مشخصاتو کې بدلونونه او همدانګه قراردادکوونکي ته د دویم قسط پیسو ځنډنی ورکړه هغه موارد وو چې له امله یې د دې پروژې د بشپړولو نېټه ۲۰۲۱، مارچ میاشتې ۲۱مې نېټې ته تمدید شوه. همدا راز، د پروژې شاملو کارونو کې بدلونونه رامینځته کېدل لکه د اضافي کارونه او د ترسره شوې سروې او ډیزاین نیمګړتیاوو له مینځه وړل هغه موارد وو چې له امله یې د پروژې لګښت ۳۵۶۳۴۷۹۰,۰ افغانیو ته ورسېد.

## 04. د هرات ولایت پنځمه ناحیه کې د ټولو تجهیزاتو سره مل ۲۴ ټولګي لرونکي د فتح په نوم د نجونو عالي ښوونځي ودانۍ رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د پوهنې وزارت | د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ فبروري ۱۶ |
| پلي کوونکې اداره | د ښار جوړولو او ځمکو وزارت | د قرارداد شمېره | MUDH/1397/W-218 |
| موقعیت | هرات | قرارداد کوونکی | فینیکس پرمختیایي او ساختماني شرکت |
| د انجنیری برآورد | ۳۵۸۲۲۲۲۰,۸ افغانی | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۲۷۱۶۴۹۳۹,۰ افغانی |
| تدارکاتي کړناره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ فبروري ۱۶ |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ سپټمبر ۸ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ اګست ۹ |
| داوطلی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۵۰٪[۲] | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | اطلاعات یې خپاره شوي ندي | فزیکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۷۲٪ | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| پروژه کې شامل کارونه | ۱. د ودانۍ رغنیز کارونه؛ ۲. د پنځه مترو مکعب په کچه د اوبو ذخیرې جوړول؛ ۳. د اوبو ځاه جوړول؛ ۴. د | | |

[۲] د ۱۲ داوطلبانو له جملې څخه ٦ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبی اسناد یې ترلاسه کړل



CONFIDENTIAL

| | |
|---|---|
| | **ودانۍ د اوبو رسولو سیستم ؛ ۵. د ودانۍ د برېښنا سیستم کارونه** |

**اساسي اندېښنې:**

1. د پروژې ځنډنی پیل
2. ۳۵ سلنه اضافي وخت
3. د پروژې لپاره ناسم چمتووالی (ناسمه سروې او ډیزاین )

د ودانیزو کارونو تر پیلولو دمخه، د ودانۍ موقعیت یو بل نوي ځای ته چې د ښوونځي مدیریت غوره ګاڼه، تغییر وکړ. د ښوونځي له مدیر سره مرکې او د پروژې سایټ څخه کتنو په ډاګه کړه چې جوړه شوې ودانۍ د ټولو زده کوونکو د ځایپدلو ګنجایش نلري او لا هم ډېر درسي ټولګي په خېمو او ګڼه ګوڼې لرونکو ټولګیو کې تدریس کیږي. د جوړې شوې ودانۍ ډیزاین کې تشنابونه، لابراتوار خونه، جمنازیوم او کافي اداري خونې نه وې. سربېره پردې، د ښوونځی ودانۍ داسې ځای کې جوړه شوې چې ډیره ګڼه ګونه او شورماشور لري او نصب شوې کړکۍ د غوېزې ککړتیا، چې د درس پر مهال مزاحمت کوي، مخنیوی نشي کولای.
همدارنګه، د دې پروژې ګټونکي داوطلب ته د قرارداد د ورکړې یادداښت لیک ۷۵ ورځې (دوه نیمې میاشتې) وروسته ورکړل شوی چې په عمومي ډول باید له یوې میاشتې ډېر وخت ونه نیسي. د کرونا وبا او د پروژې ډیزاین کې د دوه بدلونونو رامینځته کېدو له امله د پروژې د بشپړولو نېټه ۲۰۲۱ فبروري ۱۳مې نېټې ته غځېدلې. د پروژې له بشپړېدو وروسته، قرارداد کې د شاملو کارونو راکمېدو له امله د قرارداد مبلغ ۲٦٢١٣٢٦١ افغانیو ته راټیټ شو چې په دې سره د پروژې لګښتونه ۴٪ راکم شوي دي. که څه هم د ښار جوړولو او ځمکو وزارت لخوا قراردادي ته د پروژې د تکمیلۍ سند ورکړل شوی خو ښوونځي په رسمي ډول پوهنې وزارت او د ښوونځي مدیریت ته لا ندی سپارل شوی.



د ډاډ ورکونې د راپور ورکولو ټیم غړی د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال



د ډاډ ورکونې ټیم د پروژې په اړه ولایتي انجنیر او د ښوونځي له مدیر سره د خبرو په حال کې

## 05. د بامیان مرکز اړوند شهیدان کلي کې د اوبو رسولو شبکې رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ اګست ۲۷ |
| پلي کوونکې اداره | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | د قرارداد شمېره | MRRD-175/WATSIP-52/MOF-72/BMY/98 |
| موقعیت | بامیان | قرارداد کوونکی | خوشنان خراسان ساختماني شرکت |
| د انجنیری برآورد | ۵۵۵۹۲۱۴۲,۰ افغانی | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۴۵۸۵۷٦٦۳,۰ افغانی |
| تداركاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ سپتمبر ۵ |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۹ اپریل ۸ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ سپتمبر ۴ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۴۵٪[26] | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳٦٪ | فزيکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۹۰٪ | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| پروژه کې شامل کارونه | ۱. د پروژې د ساحې چمتو کول؛ ۲. د ودانيزو توکو ازمايښت کولو لپاره د ساحوي لابراتوار جوړول؛ ۳. د خوندي جوړښتونو بڼه کې د اوبو چينې (کوټې) جوړول؛ ۴. د اوبو راټولولو بکس ډوله چينې جوړول؛ ۴. د اوبو رسوبي ټانکي جوړول؛ ۵. د ۱۳۰ متر مکعب اوبو ذخيرې جوړول؛ ٦. د پايپونو او وصلولو کارونه ترسره کول. | | |
| **اساسي اندېښنې:**<br>1. ۱۸،۴ سلنه اضافي وخت نيول<br>2. د داوطلبۍ ارزونه د ۳۰ ورځو څخه وروسته تر سره شوې او د دې کار لپاره دليل شتون نه درلود. | | | |
| د دې پروژې قرارداد دويم داوطلب ته چې تر ټولو ټيټ نرخ يې وړاندې کړی وو، ورکړل شوی دی، سره له دې، چې لومړي د لومړي داوطلب د داوطلبۍ نرخ له مخې ۱۴۲۴۹۳۹۴،۱۴ افغانۍ سپما کېدای شوې؛ خو د تدارکاتي اداري لخوا ټاکل شوي شرايط يې پوره نکړل. سره د دې چې د دې پروژې کارونه د ۲۰۲۰ نومبر مياشتې ۱۰مې نېټې څخه شاوخوا يوه اوونۍ وړاندې بشپړ شوي وو، خو د کرونا وبا، سړې آب و هوا او ټولنيزو مسائلو له امله د پروژې د بشپړېدو نېټه د ۲۰۲۰ دسمبر مياشتې ۴مې نېټې ته غځېدلې وه. همدا راز پروژه کې د شاملو کارونو راکمولو له امله د قرارداد مبلغ ۴۵٥٦۴۱۸۳،۰ افغانيو ته راټيټ شوی وو. | | | |

| **06. د کابل-ننګرهار عمومي سړک څخه د ننګرهار ولايت بهسود ولسوالۍ اړوند مبين کمپلېکس پورې د ۳۷.۲ کيلو مترو په اوږدوالي د کرېږ سړک او ويالې جوړول** | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت | قرارداد کوونکی | سنګر نيازی ساختمانی شرکت او د پوړال ساختماني موادو شرکت |
| پلي کوونکې اداره | د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت | د قرارداد د پيسو کچه (مبلغ) | ۳۵٥۹۹۴۰۰،۰ افغانی |
| موقعيت | ننګرهار | د قرارداد د پيل نېټه | ۲۰۱۹ جولای ۲۷ |
| د انجنيرۍ برآورد | ۴۰٥۲٥۴۹۰،۰ افغانۍ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ مارچ ۲٦ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سياليزه داوطلبي | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ اکتوبر ۱۳ | فزيکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۸۰٪[27] | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ جون ۱۲ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳٦٪ |

[26] د ۲۲ داوطلبانو له جملې څخه ۱۰ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد يې ترلاسه کړل

[27] د ۱۰ داوطلبانو له جملې څخه ۸ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد يې ترلاسه کړل

CONFIDENTIAL

| | | | |
|---|---|---|---|
| د قرارداد شمېره | RRD/MOF/NRAP/KBL/PJR/157/C2/001 | په انفعالي توگه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۷۸٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د دې پروژې د قرارداد د ورکړې نېټې او د پروژې د پیلولو اصلي نېټې تر مینځ ۱۵ ورځې وخت نیولی، مگر په عمومي ډول د پروژې کارونه باید د قرارداد له ورکړې وروسته په سملاسي ډول پیل شي.
2. د داوطلبۍ ارزونې له بشپړېدو وروسته د قرارداد ورکړه ۱۳۰ ورځې وخت نیولی چې په عام ډول باید له یوې میاشتې ډېر وخت ونه نیسي.
3. د پروژې بشپړولو موده کې ۱۱,۵ سلنه ځنډ رامینځته کېدل
4. د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو له امله د قرارداد مبلغ کې ۵ سلنه کموالی راتلل.
5. د داوطلبۍ بهیر ۲۴۲ ورځې (۸ میاشتې) وخت نیولی مگر د اصولو له مخې باید له ۴ میاشتو ډیر وخت ونه نیسي.
6. د ناسمې ترسره شوې سروې او ډیزاین له امله د پروژې په جریان کې د پروژې شاملو کارونو (د پروژې کاري محدوده) کې بدلون رامینځته شوی دی، خو دا بدلونونه ثبت شوي ندي او رسمي تعدیلات نلري.

په دې قرارداد کې شامل کارونه په دې ډول وو: (۱) د ساحې چمتو کول، پاککاري او لښتي جوړول (۲) کیندنې او جغل فرش کولو کارونه (۳) د پلي تگ لارو کارونه (۴) له کریږ اچونې دمخه د کریږ اوبو اچونې کارونه (۵) د ترافیکي نښو لگول (٦) د ویالو جوړولو کارونه.

د دې پروژې قرارداد درېیم داوطلب ته چې تر ټولو ټیټ نرخ یې وړاندې کړی وو، ځکه لومړي او دویم داوطلب چې تر ټولو ټیټ نرخ یې وړاندې کړی وو، د داوطلبۍ ارزونې معیارونه پوره نکړل. تر ټولو ټیټ نرخ وړاندې کوونکي لومړي داوطلب د ورته پروژې په توگه د فرعي قرارداد وړاندیز وکړ چې د لگښت د تناسب شرایطو له پلوه یې د قرارداد شرایط پوره کول خو له دې امله ونه منل شو چې د قرارداد شرایطو له مخې یوه ورته پروژه باید د پېچلتیا، اندازې او ماهیت له پلوه یو شان وي چې له همدې امله فرعي قرارداد د ورته پروژې په توگه ونه منل شو. همدا راز لومړي داوطلب چې تر ټولو ټیټ نرخ یې وړاندې کړی وو، د کلني عایداتو معیارونه چې د قرارداد شرایطو کې ټاکل شوي وو، هم پوره کړي نه وو. دویم ټیټ نرخ ورکوونکي داوطلب ټول شرایط پوره کړي وو خو د مالي حالت ابلاغیه یې نلرله. چې په پایله کې، پروژه درېیم ټیټ نرخ ورکوونکي داوطلب ته ورکړل شوه.

د پروژې فزیکي کارونه د ۲۰۲۰م کال د اپرېل میاشتې په ۲۳مه نېټه بشپړ شوي وو یعنې د ټاکلې نېټې څخه یو میاشت وروسته چې له همدې امله قراردادي جریمه شوی دی. همدارنگه د پروژې د شاملو کارونو راکمېدو له امله د قرارداد مبلغ ۳۳۷۹۱۵۴۴,۵ ته راټیټ شوی دی.




د ډاډ ورکونې ټیم غړی د پروژې په اړه د پروژې له گټه اخیستونکي سره د خبرو په حال کې




د ډاډ ورکونې ټیم غړی د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال

## 07. د بدخشان ولایت د بهارک ولسوالۍ اړوند دوآبګي مزار مرکزي او سرموزه کې د ۶،۷ کیلو مترو په کچه د کرېږ سړک او ویالې جوړول

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | قرارداد کوونکی | د عزیز مراکش ساختماني شرکت |
| پلې کوونکې اداره | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۹۱۱۴۷۹۷۵،۰ افغانۍ |
| موقعیت | بدخشان | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ جون ۱۰ |
| د انجنیری براورد | ۹۳۲۶۴۷۰۵،۰ افغانۍ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ اګست ۱۲ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ جولای ۱۴ او ۲۰۱۸ اکتوبر ۲۳ | فزیکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| داوطلبۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۵۰٪[28] | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ مارچ ۱۳ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳۳٪ |
| د قرارداد شمېره | RRD/MOF/NRAP/BKN/BKN/194/C2/001 | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸۴٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د دې پروژې د قرارداد د ورکړې او داوطلبۍ ارزونې د پای نېټې تر مینځ ۹۵ ورځې واټن موجود دی.
2. د دې پروژې د قرارداد ورکړې وروسته د کار د پیل اطلاع ۸۹ ورځې وروسته ورکړل شوې ده.
3. د اړوندو دلایلو او شواهدو پرته قرارداد بیاځلي داوطلبۍ ته وړاندې شوی دی.
4. د پروژې بشپړولو کې ۵،۶ سلنه ځنډ
5. د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو له امله د پروژې لګښتونو کې ۳ سلنه کموالی راتلل
6. د ناسمې ترسره شوې سروې او ډیزاین له امله د پروژې په جریان کې د پروژې شاملو کارونو (د پروژې کاري محدوده) کې بدلون رامینځته شوی دی، مګر دا بدلونونه ثبت شوي ندي او رسمي تعدیلات نلري.
7. د پروژې ساتنه او څارنه کې ستونزې

په دې قرارداد کې شامل کارونه په دې توګه وو: (۱) د سړک اوږدولو او کیندنې په ګډون د ۶،۷ کیلو مترو په کچه سړک جوړول (۲) د ۶۳ پلچکونو جوړول (۳) د ۲۷۶۸ مترو په کچه د استنادي دېوالونو جوړول (۴) د ۲۶۰ مترو په کچه د کانالونو ډبرین کېدو او د ۳۱۹۳ مترو په کچه د سړک غاړې لبنتیو کانکرېټ.

دا پروژه دوه ځله اعلان ته سپارل شوې. لومړې ځل کې ۱۴ شرکتونو خپلې داوطلبۍ (نرخونه) سپارلي وو خو یوازې ۴ داوطلبانو د داوطلبۍ پرانستې ناسته کې ګډون کړی وو، چې د داوطلبۍ ارزونې په پایله کې د عزیز مراکش ساختماني شرکت چې تر ټولو دویم ټیټ نرخ (۸۹۸۵۷۴۹۵،۰ افغانۍ) یې وړاندې کړی وو، د قرارداد د ورکړې لپاره وړ شرکت وپېژندل شو. لومړی داوطلب چې تر ټولو ټیټ نرخ یعنې ۷۳۹۸۱۵۲۰،۰ افغانۍ وړاندې کړی وو او د ګټونکې داوطلب په نسبت یې ۱۵۸۷۵۹۷۵،۰ افغانۍ ټیټ نرخ درلود، ټول شرایط یې پوره کړې وو یوازې د ورته پروژې په شرط کې پاتې راغلی وو چې له همدې امله د قرارداد ورکړې لپاره وړ داوطلب ونه پېژندل شو. لومړي داوطلب د جغل اندازۍ کارونه د ورته پروژې په توګه وړاندیز کړې وو په داسې حال کې چې ځکه په شرایطو برابر ونه پېژندل چې د قرارداد د شرایطو له مخې ورته پروژه (کانکرېټ پوخ سړک) باید ورته پېچلتیا او ماهیت ولري.

---

[28] د ۶ داوطلبانو له جملې څخه ۳ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

د داوطلبۍ د ارزونې راپور د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت مسؤلینو ته د منظورۍ لپاره استول شوی وو، خو د دې دلیل له امله یې رد کړی وو، چې د شفافیت لوړولو او ملي ګټو لپاره قرارداد باید بیاځلي اعلان ته وسپارل شي. د ډاډ ورکونې غړي د قرارداد بیاځلي داطلبۍ سپارلو په تړاو کوم موجه دلیل یا شواهد پیدا نکړل، خو داسې ښکاري چې د داوطلبۍ ارزونې معیارونه کولای شي، په شرایطو برابر داوطلب ټاکنه کې د پیسو ارزښت منفي اغېزمن کړي.

د دویم ځلي داوطلبۍ له اعلان وروسته، یوازې ٦ ساختماني شرکتونو خپلې داوطلبۍ سپارلې وې خو درې داوطلبانو د داوطلبۍ پرانستې ناسته کې ګډون کړی وو، چې د داوطلبۍ ارزونې په پایله کې د عزیز مراکش ساختماني شرکت (د پخواني قرارداد وړ داوطلب) د قرارداد ګټونکی شو، خو دویم ځلي داوطلبۍ کې د پروژې د قرارداد مبلغ ۹۱۱۴۷۹۷۵،۰ افغانیو ته لوړ شوی دی. دا چې دا پروژه د فساد کړنو له خورا لوړ خطر سره مخ ده، له همدې امله نورو څېړنو ته هم اړتیا لري.

د کرونا ناروغۍ او اقلیمي شرایطو له امله د دې پروژې د کارونو د بشپړېدو نېټه ۲۰۲۰ اکتوبر ۱۲ مې نېټې ته تغییر شوې وه خو کارونه له ټاکل شوې نېټې یوه میاشت دمخه بشپړ او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ولایتي ریاست ته د ۲۰۲۰ سپتمبر میاشتې په ۵نېټه تسلیم شوې وه. سربېره پر دې، د پروژې په سروې او ډیزاین کې د نیمګړتیاوو له امله پروژه کې د شاملو راکمولو په پایله کې د قرارداد بشپړولو مبلغ ۸۸۵۴۰۲۱٦،۹ افغانیو ته راټیټ شوی دی.

له پروژې څخه د ساتنې او څارنې په برخه کې د ټولنې کم کاري هم مشاهده شوې. د سړک غاړې لښتې له کثافاتو او خاورو ډک شوي وو او د اوبو جریان یې بند کړی وو او د اوبو جریان بندېدو سره اوبه د سړک سر ته راخیژي چې دا د د سړک د خرابېدو لامل کېدلای شي.




د ډاډ ورکونې ټیم غړي د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال




د ډاډ ورکونې ټیم غړي د پروژې په اړه د ولسوالۍ شورا سره د خبرو په حال کې

## 08. د پنجشېر ولایت د خېنج ولسوالۍ اشکاشم کلي کې د ۵۱ مترو په کچه کانکریټي پل او ۱،۸ کیلو مترو په کچه جغلی سړک رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | قرارداد کوونکی | مالک حجدار ساختماني او د سړک جوړولو شرکت |
| پلي کوونکې اداره | د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۱۹۰۴۲۰۵۰،۰ افغانۍ |
| موقعیت | پنجشېر | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ اګست ۲۵ |
| د انجنیرۍ | ۲۰۸۳۹۷٦۰،۰ افغانۍ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ مې ۱۵ |

| برآورد | | | |
|---|---|---|---|
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ نومبر ۱۰ | فزیکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| داوطلی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ٦۱٪[۲] | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ مې ۴ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۲۹٪ |
| د قرارداد شمېره | RRD/MOF/NRAP/KBL/PJR/157/C2/001 | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸۹٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د داوطلبی ارزونې بهیر ۴۹ ورځې وخت نیولی، خو د ډاډ ورکونې ټیم غړي داسې اسناد پیدا نکړل چې تدارکاتي طرزالعملونو کې د داوطلبی ارزونې لپاره د ۳۰ ورځو ټاکل شوې مودې څخه د ډېر وخت نیولو دلیل توجیه کړي.
2. د پروژې قرارداد د داوطلبی ارزونې بهیر له بشپړېدو ۸۴ ورځې (له ۳ میاشتو ډېر وخت) وروسته لاسلیک شوی دی
3. د قرارداد له ورکړې وروسته، قراردادي ته د پروژې د کارونو پیلولو یادداښت ۱۱۳ ورځې (نږدې څلور میاشتې) وخت نیولی چې سم کار ندی.
4. د داوطلبی بهیر ۲٦۴ ورځې وخت نیولی مګر په عموم کې باید له ۱۲۰ ورځو ډېر وخت ونه نیسي.
5. د پروژې پلي کولو کې د خلکو کم رنګه ګډون او مشارکت
6. **د سیمه ییز زون او د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ولایتي دفتر تر منځ د اطلاعاتو شریکولو کې کموالی**

د دې قرارداد موخه د پنجشېر ولایت خېنج ولسوالی کې د ۵۱ مترو په کچه د کانکریټي پل رغونه ده چې په کې کانکریټي ګاډر، کانکریټي سلبونه، د پل د څنګ پایو سنګ کاري، جانبي دیوالونه، محافظتي دېوال او د ۱،۸ کیلو مترو په کچه جغلي سړک په ګډون د پل په امتداد مخامخ سړک (پرې کول، کند کاري او چمتو کول) جوړول شامل دي. د دې پروژې عمومي کارونو کې لاندې موارد شامل دي: (۱) د سایټ چمتو کول (۲) کندن کاري او د جغل فرش کول (۳) د غاړې لښتیو جوړول (۴) د ودانۍ بشپړوونکي کارونه

د کلي له خلکو سره ترسره شویو مرکو ښودلې چې په دې پروژه کې د کلي د خلکو د ګډون او رضایت کچه کمه ده. قراردادي دا پروژه د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ولایتي مسؤلینو او د زون په کچه مسؤلینو ته د ټاکل شوې نېټې څخه یوه میاشت وړاندې د کلي د خلکو او د کلي د پراختیایي شورا له حضور پرته د ۲۰۲۰م کال اپرېل میاشتې په ۱٦مه نېټه تسلیم کړې ده. سربیره پردې، د پروژې ته اخیستونکي د پروژې د پلي کولو پر مهال د پروژې د کیفیت او په بریالیتوب سره د پروژې بشپړولو برخه کې د قراردادي له کړنو څخه خوښ نه وو. د سړک ډېرې برخې تر یوې کچې خرابې شوې وې او ځایی خلک ادعا کوي چې قراردادي د جغل د اندازې ضخامت په پام کې ندی نیولی حتی دوی دا هم وایي چې د سړک پخواني برخې کې هیڅ بدلون نه دی راغلی. همدا راز، د پروژې ناسمه سروې د ډېزاین لړۍ کې د ځینو جوړښتونو د له منځه تللو لامل شوی دی. سیند د همدې پروژې څنګ کې بهېږي او د سېلابونو موسمونو کې کولای شي د جغلي سړک جوړښت زیانمن کړي او د استنادي دېوالونو او د سېلابونو د مخنیوي لارو چارو په پام کې نه نیولو له امله ښایي په ځینو برخو کې د سړک د بستر د له منځه تللو لامل شي.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ولایتي دفتر، د زون په کچه او وزارت اړوند دفترونو تر منځ د اطلاعاتو شریکولو کې کموالی وو. د قرارداد او

CONFIDENTIAL

[۲۹] د ٦ داوطلبانو له جملې څخه ۳ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

نقشو له اطلاعاتو پرته، د پروژې اړوند نور اطلاعات د پنجشیر ولایت د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت ولایتي دفتر کې موجود نه وو، حتی د ډاډ ورکونې ټیم غړي ولایتي دفتر کې د پروژې د پرمختګ او د پروژې بشپړېدو راپورونه پیدا نکړل. ولایتي مسؤلینو ومنله چې دوی د دې پروژې د پېژندنې او چمتووالي پړاوونو کې ښکېل نه وو او له رسنیو څخه د NTP او نقشو اړوند اطلاعاتو پرته نور هیڅ ډول اطلاعات د دوی له واحدونو سره شوي ندي. د پروژې اړوند ټول اطلاعات د پروان ولایت د زون په کچه دفتر کې ساتل شوي دي.



د ډاډ ورکونې ټیم غړی د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال



د ډاډ ورکونې ټیم غړي د پروژې د نرخ ورکولو پاڼې او د پروژې مشخصات د پروژې له ساحې سره ګوري

CONFIDENTIAL

## 09. د قلعه نجارا خلور لارې څخه د سرور کاینات او خواجه بغرا خلور لارو پورې د ۲,۲ کیلو مترو په کچه د کرېړ سړک او ویالو رغونه

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | کابل ښاروالی | قرارداد کوونکی | کانزروېل ساختماني او د فقیر محمد ساختماني شرکتونه<br>Conservable Construction and Faqir Mohammad Rahmani Construction (JV) |
| پلې کوونکې اداره | کابل ښاروالی | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۲۱۱۹٦۳۴۸۳,۰ افغانی |
| موقعیت | کابل | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ مارچ ۴ |
| د انجنیری برآورد | ۲۵۵۷۰۹۹۴۷,۰ افغانی | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ مارچ ۳ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ اکتوبر ۲۹ | فزیکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| داوطلی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۱۱٪[۳۰] | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |

[۳۰] د ۳۷ داوطلبانو له جملې څخه ۵ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبی اسناد یې ترلاسه کړل

| | | | |
|---|---|---|---|
| د قرارداد ورکړي نېټه | ۲۰۱۹ مارچ ۹ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳۳٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/KM/97/W-2303/NCB | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸٦٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د قرارداد ورکړې تصدیق پاڼې وروسته، د قرارداد د اجرا تضمین او د مالیاتو ورکړې تصدیق سپارلو او د تدارکاتو ملي اداري او د پروژې خاوند تر مینځ اړیکو کې د ځنډ له امله وړ داوطلب ته د ۳٦ ورځو په ترځ کې د کارونو د پیلولو یاددابنت استول شوی دی.
2. د پروژې بشپړولو جریان کې ۳۷,۵ سلنه ځنډ
3. د پروژې لګښونو ۱ سلنه کموالی راتلل

دا پروژه د سرک د پاسنۍ طبقې پخول یا کربړ کول دي چې د کابل ښاروالۍ اړوند د کابل ښاري ترانسپورت د مؤثریت لوړولو ریاست لخوا ډیزاین او پلي کېږي او د نړیوال بانک لخوا د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) له لارې تمویل کېږي. د پروژې په کارونو کې لاندې موارد شامل دي: (۱) د ساحې کارونه او کندن کاري (۲) د سرک غاړې لښتیو، پلچکونو، پلي لارو او بلاکونو کارونه (۳) د سرک غاړې لښتیو د اوسپنیزو سرپوښونو راوړل او نصب کول او رنګول (۴) د ساختمان کانکریټي کارونه (۵) د سرک کارونه (٦) د سرک د بېلوونکو نښو رنګول (۷) ترافیکي نښې (۷) د سرک غاړې څراغونه (۸) د سرک غاړې څراغونو لپاره رنګ شوې پایې (۹) د موجوده پایو موقعیتونه بدلول

د دې پروژې قرارداد کې څلور بدلونونو راغلي دي دوه یې وخت پورې او دوه یې د پروژې لګښتونو پورې تړاو لري. د قراردادي په غوښتنه، د قرارداد لومړي ځل تمدید د سرک په امتداد کې د موانعو لرې کولو اړوند ډیرو کارونو، اضافي کارونو، اقلیمي شرایطو، مشورتي لویې جرګې او ملي رخصتیو له امله د ۲۰۲۰م کال جون میاشتې ۲٦ نېټې ته وغځېد او بیاځلي تمدید یې د کرونا ناروغۍ له امله د ۲۰۲۰م کال جولای میاشتې ۲٦مې نېټې ته غزېدلی وو. په ورته وخت کې، د قرارداد مبلغ د اضافي کارونو په پایله کې د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو له امله ۲۲۰۱٦۵۴۴۱,۷۴ افغانیو ته راټیټ شوی وو او بیاځلي د دویم ځلي برآورد پر بنسټ د کارونو د راکمولو له امله ۲۱۵۰٦۱۹۸۴,۲۷ افغانیو ته راټیټ شوی دی.

د پروژې فزیکي کارونه په رسمي ډول بشپړ او پروژه د ۲۰۲۰ کال جولای میاشتې په ۱۸مه نېټه د پروژې خاوند ته اصلاح شوې تمدید نېټې څخه یوه اونۍ وړاندې وسپارل شوه.

| 10. د ۸ سرک، ٦ سرک او H سرک او I سرک اړوند (لاټ) کې د ۳,۹٦ کیلو مترو په کچه د قیر سرک رغونه | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | (کابل ښاروالۍ | قرارداد کوونکی | کاکړ یافي ساختماني او د سرک جوړولو شرکت |
| پلي کوونکې اداره | کابل ښاروالۍ | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۲۸۸۴٦۵۹۲۰,۰ افغانۍ |
| موقعیت | کابل | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ مارچ ۱ |
| د انجنیرۍ برآورد | ۳۳۱۵۱۸۹٦۴,۰ افغانۍ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ فبروري ۲۸ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | بشپړ شوی |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ اپریل ۲۵ | فزیکي پرمختګ | ۱۰۰٪ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د | ۴٪[3] | مالي پرمختګ | ۱۰۰٪ |

[۳۱] د ٦۸ داوطلبانو له جملې څخه ۳ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګډون کچه | | | |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۸ فبروري ۲۸ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳۱٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/KM/97/W-2098/NCB (KM/WB/KUTEI/W/012) | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸۷٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د قرارداد ورکړې تصدیق پاڼه وروسته وړ داوطلب ته د ۱۹۵ ورځو په ترځ کې د کارونو د پیلولو یادداښت استول شوی دی.
2. د پروژې بشپړولو کې ٦۴,٦ سلنه ځنډ
3. ۹ سلنه اضافي لګښتونه
4. د داوطلبۍ بهیر ۳۰۹ ورځې وخت نیولی مګر په عموم کې باید له ۱۲۰ ورځو ډېر وخت ونه نیسي.
5. د دې پروژې د قرارداد د ورکړې او داوطلبۍ ارزونې د پای نېټې تر مینځ ۲۲۵ ورځې واټن موجود دی چې د پروژې د مدیریت اصولو له مخې سم کار ندی.

دا پروژه د کابل ښاروالۍ اړوند د کابل ښاري ټرانسپورټ د مؤثریت لوړولو ریاست لخوا ډیزاین او د نړیوال بانک لخوا د افغانستان د بیارغونې وجهي صندوق (ARTF) له لارې تمویل کیږي. د پروژې په کارونو کې لاندې موارد شامل دي: (۱) د ساحې کارونه او کیندنه (۲) د سړک غاړې لښتیو، پلچکونو، پلي لارو او بلاکونو کارونه (۳) د سړک غاړې لښتیو د اوسپنیزو سرپوښونو راوړل او نصب کول او رنګول (۴) د ساختمان کانکریټي کارونه (۵) د سړک کارونه (٦) د سړک پر مخ د نښو اچول (۷) ترافیکي نښې (۷) د سړک غاړې څراغونه (۸) د سړک غاړې څراغونو لپاره رنګ شوي پایې (۹) د موجوده پایو موقعیتونه بدلول

د یو ښه کار په توګه، د دې پروژې د داوطلبۍ اعلان د ملي تدارکاتو تدارکاتو ویبپاڼه کې اعلان ته سپارل شوی وو چې په پایله کې ډېر شمېر (٦٨)داوطلبانو خپلې داوطلبۍ له فیس پرته استولې وې خو یوازې درې ۳ داوطلبانو د داوطلبۍ پرانستې ناسته کې ګډون کړی وو. د تدارکاتو له ملي کمېسیون څخه د منظورۍ ترلاسه کولو کې د تدارکاتي اداري او تدارکاتو ملي اداري تر مینځ هوکړې ډېر وخت ونیو او د داطلبۍ لړۍ کې د ځنډ لامل شوې. په لومړي پړاو کې، د تدارکاتو ملي کمېسیون د دې پروژې داوطلبي رد کړه او د پروژې پلي کوونکې څانګې ته یې لاربښوونه وکړه چې د پروژې داوطلبۍ کې داخلي شرکتونه ډېر فرصت وکړئ، خو یو څه وخت وروسته د تدارکاتو ملي کمېسیون د داطلبۍ ارزونې پروسې پر بنسټ د پروژې د قرارداد ورکړه لومړي وړ داوطلب ته منظور کړه.

د دې پروژې قرارداد کې پنځه بدلونونو راغلي دي درې یې وخت پورې او دوه یې د پروژې لګښتونو پورې تړاو لري. د قراردادي په غوښتنه، د قرارداد لومړی ځل تمدید د سړک په امتداد کې د موانعو لرې کولو اړوند ډېرو کارونو، د اضافي کارونو له امله د پروژې کاري محدوده کې بدلونونه او د پروژې سروې او ډیزاین کې د نیمګړتیاوو، اقلیمي شرایطو، او ناخاپي رخصتیو له امله د ۲۰۲۰م کال جون میاشتې ۳۰مې نېټې ته او د بیاځلي تمدید یې د کرونا ناروغۍ او په کابل کې د قرنطین وضع کېدو له امله د ۲۰۲۰م کال اګست میاشتې ۲۰مې نېټې ته او وروستی تمدید یې د کرونا ناروغۍ او د پروژې رغنیزو توکو واردولو په وړاندې د پولو او بندرونو تړل کېدو له امله د ۲۰۲۰م کال اکتوبر ۲۰مې ته غزېدلی وو. په ورته وخت کې، د قرارداد مبلغ د اضافي کارونو په پایله کې د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو له امله۳۲۸۲۲۸۸۳۴,۸۹ افغانیو او د وروستي ځل لپاره د ثانوي برآورد پر بنسټ د کارونو کمېدو او تغییریدو له امله ۳۱۴۵۷۲۴۷٦,۹۳ افغانیو ته راټیټ شوی دی.

د پروژې فزیکي کارونه بشپړ شوي وو او په رسمي ډول د پروژې خاوند یعنې کابل ښاروالۍ ته وسپارل شوه.

CONFIDENTIAL

| 11. د کابل ښار ۱۳مه ناحیه کې د ۲،٦٥۴ کیلو مترو په کچه د عرفاني سړک رغونه | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې خاوند | کابل ښاروالی | قرارداد کوونکی | بابر نبت ساختماني شرکت |
| پلي کوونکې اداره | کابل ښاروالی | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۲۵۰۷۵۱۸۲۰,۸۵ افغانی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| موقعیت | کابل | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۲۰ جون ۱ |
| د انجنیري برآورد | ۲۵٦۲۹۰۳۸۴,۷۵ افغاني | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۱ مارچ ۲ |
| تدارکاتي کړنلاره | د سیمي په کچه داوطلبي | د قرارداد حالت | روان (جریان لري) |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۹ جنوري ٦ | فزیکي پرمختګ | ۲۹,۱۴٪ |
| داوطلبی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۸۰٪[۳] | مالي پرمختګ | ۲۹,۱۴٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ اګست ۲۸ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳۱٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/KM/98/W-2417/LLB | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۷۱٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د داوطلبی ارزونې بهیر له دوه میاشتو ډېر وخت نیولی چې دا کار د تدارکاتو له مقررې سره په ټکر کې دی. د افغانستان د تدارکاتو مقررې د دویمې برخې ۳۸ حکم له مخې، د داوطلبی د اروزنې کمېټه باید د ټولو آفرونو ارزونه د حد اکثر ۳۰ ورځو په ترځ کې بشپړه کړي او راپور یې د منظورۍ په موخه وړاندې کړي، یوازې اړونده وزیر کولای شي د دېرشو نورو ورځو لپاره د آفرونو د ارزونې موده وغځوي که موجه دلائل شتون ولری. مګر د دې پروژې لپاره د داوطلبیو ارزونه له دېرشو ورځو ډېر وخت نیولی.
2. د داوطلبي ارزونې بهیر وروسته، د قرارداد ورکړه د ۵۹ ورځو په ترځ کې ترسره شوې.
3. د داوطلبی بهیر ۲۳۴ ورځې وخت نیولی چې په عموم کې باید له ۱۲۰ ورځو ډېر وخت ونه نیسي.
4. د قرارداد ورکړې تصدیق لیک وروسته، داوطلب ته د ۳٦ ورځو په ترځ کې د کارونو د پیلولو یاددابنت استول شوی دی.
5. د دې پروژې د قرارداد ورکړې وروسته د کار د پیل اطلاع صادرول ۲۷۸ ورځې وخت نیولی
6. د پروژې بشپړولو کې ۷٦,٦ سلنه ځنډ، په داسې حال کې چې د پروژې کارونه اوس هم روان دي
7. ۹ سلنه اضافي لګښتونه په داسې حال کې چې د پروژې کارونه اوس هم راون دي.
8. د پروژې ناسمه سروې او ډیزاین او د نښکېلو اړخونو تر مینځ کم رنګه همغږي، د اضافي کارونو او د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو لامل شوي دي.
9. د پروژې د پلي کولو پر مهال د نقلیه وسایطو کمزوی مدیریت او د پروژې ساحه کې د خوندیتوب ضعیفه سېستم.
10. ټولنیزو مسائلو او د ځمکې استملاک د پروژې پلي کول اغېزمن کړي دي.

په دې پروژه کې شامل کارونه عبارت دي له: (۱) د ساحې کارونه او کیندنې (۲) د سړک رغونې کارونه (۳) کانکریت او د سنګاري کارونه (۴) د سړک غاړې لښتیو او پلچکونو (۵) د سړک غاړې څراغونه (٦) ترافیکي نښې (۷) تمځایونه (اېسټګاوې) (۸) د پروژې ډیزاین

د ملي تدارکاتو کمېسیون سپارښتنه وکړه چې د دې پروژې لپاره چې د سیمې په کچه د تدرکاتو کړنلاره پر مخ وېوړل شي. دا کړنلاره د ګډون کوونکو داوطلبانو د ګډون کچه رامحدودوي چې له همدې د دې پروژې د داوطبلی پروسې لپاره کم شمېر داوطبان رابلل شوي دي. همدارنګه دا کړنلاره د داوطلبی پروسې څرګندوالی کموي او هغه وخت کارول کېږي چې پروژه پېچلې وي او د ډېر کم شمېر عرضه کوونکو لخوا باید تدارک شي یا د بېړنی اړتیا په صورت کې کارول کېږي. د پاډ ورکونې غړي د تدارکاتو دغې کړنلاې غوره کولو لپاره هیڅ ډول د قناعت وړ شواهد پیدا نشو کړای. دا پروژه د ځمکې د استملاک لوړ منفي او ناوړه اغیز سره مخ ده چې د پروژې چمتووالي لومړی مرحله کې د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې پلان (LARP) نشتوالي له امله رامینځته شوی.

تدارکاتي اداري (کابل ښاروالی) د بېړنی اړتیا او د دې پروژې د تدارکاتو د پیل په تړاو د ولسمشری د دویم مرستیال شفاهي لارښوونې پربنسټ

[۳۲] د ۵ داوطلبانو له جملې څخه څلورو داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبی اسناد یې ترلاسه کړل

د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې مخکې ټاکل شوي پلان پرته د پروژې دتدارکاتو لړې پیل کړې ده. د پروژې د چمتووالي لومړي پړاو کې د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې پلان نشتوالي له کبله رامینځته شوې ننګونې د دې لامل شوې چې قراردادي د قرارداد ورکړې څخه نږدې ۱۰ میاشتې وروسته د پروژې د پیل یاددابنت ترلاسه کړي. سربېره پردې ، هغه مکتوبونه چې د کابل ښاروالۍ د داخلي ریاستونو تر مینځ تبادله شوي په ګوته کوي چې د ځمکې د استملاک او بیا مشېتېدنې د پلان ستونزه نه یوازې دا چې د پروژې د چمتووالي مرحله کې حل شوې بلکه لاهم د پروژې د پلې کېدنې پړاو کې په خپل حال پاتې ده. د څارنې ریاست او د ځمکې د استملاک اداري ترمنځ د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې پلان ستونزې ته د رسېدنې په موخه ډېر مکتوبونه تبادله شوي، خو، لاهم اغېزمن شوي خلک نه پرېږدي چې قراردادي د پروژې یوه برخه چې د کمپنۍ پل سره په ۱۳ ناحیه کې وصل کېږي، پلې کړي. قراردادي د څو مکتوبونو له لارې راپور وکړی چې د اغېزمن شویو خلکو لخوا ګواښل شوی او له همدې امله د پروژې کارونه درول شوي دي.

دغې پروژه کې درې بدلونونه راغلي دي چې یو یې وخت او دوه یې د پروژې لګښتونو پورې تړاو لري. قراردادي د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې پلان کې د ستونزو، د احجام بیلونو کې د بدلونونو او اب و هوا شرایطو له امله د قرارداد د ۷ میاشتو د تمدید غوښتنه کړې چې د تدراکاتي اداري لخوا منظور شوې. په همدې ډول، د نابشپړې سروې له امله د پروژې د احجامو بېل او ډیزاین کې د بدلونونو رامینځته کېدو په پایله د قرارداد مبلغ (لګښتونو) کې دوه ځلې راتیټ شوی دی؛ لومړی ځل ۸۲۹۵۲۴۰،۰ افغانۍ (چې د تدارکاتي اداري او د ملي تدارکاتو کمېسیون دواړو لخوا منظور شوي دي) او بیا ځلې ۱۲۶۳۱۹۶۳۸۵ افغانۍ (چې د تدارکاتي اداري لخوا منظور او د ملي تدارکاتو کمېسیون منظورۍ ته په تمه دي) . خو لا هم د پروژې کارونه روان دي او د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې پلان ستونزه په خپل ځای پاتې ده.



د ډاټ ورکوني تیم غړي د پروژې له ساحې څخه د لیدنې پر مهال




د ډاټ ورکوني تیم غړي د پروژې په اړه د پروژې له انجنیرانو او کارګرانو سره سره د خبرو په حال کې

| 12. د ۴۰ مترو په کچه د دشت برچي سړک اضافي کارونه | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې خاوند | کابل ښاروالي | قرارداد کوونکی | د نوین حکیم زاده او محمد نعیم زامنو ساختماني شرکتونه (شریکان) |
| پلي کوونکې اداره | کابل ښاروالي | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | 284,983,554.1 افغانۍ |
| موقعیت | کابل | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ جولای ۳ |
| د انجنیری براَورد | ۲۹۰۱۰۲۰۹۹،۰ افغانۍ | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۰ دسمبر ۱۴ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | روان (جریان لري) |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو | ۲۰۱۸ سپتمبر ۲ | فزیکي پرمختګ | ۵۰٪ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| نېټه | | | |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۱۴[3] | مالي پرمختګ | ۳۹,۹۴٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ جون ۱۳ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳۱٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/KM/97/W-2351/NCB/Re-bid | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۸۹٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د داوطلبۍ ارزونې لوړ معيار له امله قرارداد بياځلي داوطلبۍ ته وړاندې شو.
2. د داوطلبۍ ارزونې نېټې څخه ۱۱۵ (څلور مياشتې) وروسته د قرارداد ورکړه ترسره شوې.
3. د داوطلبۍ بهير ۲۸۴ ورځې (۹,۵ مياشتې) وخت نيولی چې عمومي اصولو کې د ۱۲۰ ورځو څخه ډېر وخت نيولی دی.
4. د پروژې بشپړولو کې ۱۹,۸ سلنه ځنډ، په داسې حال کې چې د پروژې کارونه اوس هم روان دي
5. د پروژې لګښتونه ۱۵ سلنه لوړېدل (لګښتونو کې تعديلات د طی مراحل لاندې دي او د ملي تدارکاتو ادارې ته منظورۍ په موخه استول شوي دي.

د پروژې کاري محدوده

د قراردادی لخوا د پروژې کارونو ورو پر مخ وړل کېدلو په اړه راپور ورکړل شوی وی. تدارکاتي ادارې څو ځله په دې هکله قرارداد کوونکي ساختماني شرکت ته د پروژې کارونو کې د ورو پرمختګ په تړاو يادونې حتی خبرداری استولي دي د کارونو د چټکتيا غوښته يې ترې کړې ترڅو پروژه په ټاکل شوې نېټه بشپړه شي، خو پروژه لا تر اوسه بشپړه شوې نده.

قراردادي، پروژه کې د دوه بدلونونو چې يو وخت او بل د پروژې لګښت پورې تړاو درلود، غوښتنه کړې ده. د قراردادي په غوښتنه، پروژه د کرونا ناروغۍ، اقليمي شرايطو او ناځاپي رخصتيو له امله د ۲۰۲۱ کال مارچ ۲۹مې نېټې ته تمديد شوه. که څه هم د پروژې د تطبيق پر مهال د قرارداد د شريکانو تر مينځ د اختلافونو رامينځته کېدل د پروژې د ورو کارونو يو بل دليل وو چې د پروژې د بشپړولو موده تر تاثير لاندې راوستې ده. په همدې ډول، د نابشپړې سروې له امله د پروژې د احجامو بېل او ډيزاين کې د بدلونونو رامينځته کېدو په پايله کې د قرارداد مبلغ (لګښتونو) کې ۳۲۷۸۵۵۲۸۳,۸۷ افغانۍ لوړوالی راغلی دی. د دې راپور ليکلو تر وخت پورې د پروژې مبلغ کې راغلی تعديل د کابل ښاروالۍ لخوا منظور او د ملي تدارکاتو کمېسيون ته د منظورۍ لپاره استول شوی وو.

د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامينځته کېدو يو اساسي لامل د پروژې لومړۍ مرحله يعنې چمتووالي کې د خلکو کم رنګه مشارکت وو. که څه هم، د محل خلکو د ۴۰ مترو په کچه د دشت برچي سړک اضافي کارونو رغونې څخه يې خوښي څرګنده کړه، خو شکايت يې درلود چې د پروژې د ډيزاين په مرحله کې د دوی اړتياوې له سره په پام کې ندي نيول شوي. د دوی په باور، د موجوده کانال رغونه چې د سړک د لارې په اوږدو کې تېرېږي او د اوربښتونو پر مهال د سېلابونو او باران اوبه په کې بهېږي، د پروژې په کارونو کې شامل ندي، په داسې حال کې چې دا يوه اړتيا ده او کېدلای شي ځمکې او نوي رغول شوی سړک زيانمن کړي. د ۳۰۰ مترو اوږدوالي په کچه د کانال رغونې پيشنهاد، چې د قرارداد مبلغ کې د تعديل يوه برخه ده،د تدراکاتي ادارې لخوا منظور او د تدراکاتو ملي کمېسيون ته د منظورۍ په موخه استول شوی وو.

CONFIDENTIAL

[33] د ۵۷ داوطلبانو له جملې څخه ۸ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد يې ترلاسه کړل



د ښار ورکوونې د ټیم غړي د ساحوي لیدنې پرمهال



د ښار ورکوونې د ټیم غړی د پروژې له مدیر سره د پروژې په هکله خبرې کوي

| 13. د پلخمري د دشت-الوان څخه د کابل ارغندی پورې د ۵۰۰ کلیو واټ برېښنا مزي لېږد | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د افغانستان برېښنا شرکت | قرارداد کوونکی | KPTL & RGM JV |
| پلي کوونکې اداره | د افغانستان برېښنا شرکت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | ۱۱۸۱۳۰۵۴۸۵۲ امریکایي ډالر |
| موقعیت | بغلان-کابل | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱٦ اکتوبر ٦ |
| د انجنیری برآورد | ۱۲۴۸۰۰۰۰۰,۰ امریکایي ډلر | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۱۹ اکتوبر ۵ |
| تدارکاتي کړنلاره | نړیواله سیالیزه داوطلبي، په واحد پړاو کې د نرخ او تخنیکي کارونو لپاره جلا جلا دوه پاکټونو کې د داوطلبۍ سپارل | د قرارداد حالت | روان (جریان لري) |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۴ دسمبر ۱۷ | فزیکي پرمختګ | ۹۰,۴٪ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۲۳٪[3] | مالي پرمختګ | ۷۹,۸٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱٦ جون ۷ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | Not Disclosed |
| د قرارداد شمېره | DABS/015/ICB | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۹۵٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د داوطلبۍ ارزونې بهیر ۱۳۴ ورځو کې بشپړ شوی، که څه هم د پروژې تدارکات د افغانستان برېښنا شرکت د تدارکاتو قانون -لومړي پړاو کې د داوطلبۍ دوه پاکټونه (د نرخ ورکولو او تخنیکي کارونو لپاره جلا جلا پاکټ) تدارکاتو کړنلارې له مخې ترسره شوي.
2. د داوطلبۍ ارزونې بشپړېدو څخه ۲۱۸ (اووه میاشتې) وروسته د قرارداد ورکړه ترسره شوې.
3. د دې پروژې د دواطلبۍ بهیر ۵۳۸ ورځې (نږدې ۱۸ میاشتې) چې د ۱۲۰ ورځو څخه ډېر وخت نیولی دی، چې د قرارداد ورکړې

[3] د ۲٦ داوطلبانو له جملې څخه ٦ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

CONFIDENTIAL

| |
|---|
| بهیر کې د غوره کړنو له مخې باید له ۱۵۰ ورځو څخه ډیر نه وي.<br>4. د قرارداد له ورکړې څخه ۱۱۲ ورځې (۳,۵ میاشتې) وروسته قرارداد کوونکي ته د پروژې د کارونو پیلولو یادابښت ورکړل شوی.<br>5. د پروژې بشپړولو جریان کې ٦٧,٣ سلنه ځنډ، خو د پروژې کارونه اوس هم روان دي<br>6. پروژې لګښونو کې ۵۲ سلنه لوړوالی رامینځته کېدل |
| له شمالي زون (د پلخمري د دشت-الوان) څخه د کابل ارغندی پوري د ۵۰۰ کلیو واټ برېښنا مزي لېږد مسؤلیت د افغانستان برېښنا شرکت پر غاړه دی او د اسیا پراختیايي بانک لخوا تمویلېږي. د دې پروژې موخه له پلخمري تر کابل پوري د لوړ ولتاژ برېښنا وصلول دي ترڅو ترڅو په لومړي سر کې د کابل او کابل شاوخوا سیمو د برېښنا د لېږد ظرفیت کې احتمالي کموالی له مینځه یوسي، د کابل سیمو ته د برېښنا اضافي اکمال چمتو کړي، او د برېښنا له پلوه بډایه هېوادونو ته د برېښنا د لېږد لاره برابره کړي ترڅو د افغانستان برېښنا لېږد سیستم له لارې د کمې برېښنا لرونکو هېوادونو ته برېښنا صادره کړي.<br><br>د دې پروژې کاري محدوده کې شامل کارونه د هندوکش غره لړۍ ۲۳۸ کیلو مترو په امتداد کې چې د شمال دشت الوان ښار څخه پیلېږي د جنوب زون د کابل تر ارغندی پوري د ۵۰۰ کیلو واټه برېښنا مزي لېږد او په دې امتداد کې د ٦٨٨ برېښنايي ټاورونو او د دې ټاورونو اضافي ساختمانونو جوړول شامل دي. د ٦٨٨ برېښنايي ټاورونو له جملې څخه يې ٣٦٧ ټاورونه په بغلان، ١٧٦ ټاورونه په پروان او ١٤٥ ټاورنه په کابل ولایتونو کې شامل دي. په دې کې به یو سب سټېشن شامل وي چې په پلازمېنه کابل کې د برېښنا مزي سره وصلېږي. همدارنګه د افغانستان برېښنا شرکت د برېښنا سکتور پراختیايي پروګرام تر چتر لاندې د آسیا پراختیايي بانک لخوا به یو بل جلا سب سټېشن چې د ۴۰۰ میګا واټه (۲۲۰/۵۰۰ کیلو واټه) برېښنا ظرفیت به ولري په شمال کې جوړېږي. همدارنګه تمه کېږي چې سویل لویدیز کې د دې پروژې له لارې د ګازو رسولو او برېښنا توزیع زېربنا او اړونده ۲۲۰/۵۰۰ کیلو واټه سب سټېشنونو کارونه پیاوړي کړي.<br><br>د دې پروژې د بشپړولو نېټه او د پروژې مبلغ کې څو ځله بدلون راغلی دی. د پروژې شاملو کارونو کې د بدلونونو رامینځته کېدو لکه د لارې مسیر کې بدلونونه او د یو سرکټ پر ځای دوه سرکټونو نصبولو ته اوښتل د دې قرارداد لګښت کې د لومړي ځل تغییر راتلو لامل شوی دی. د پروژې لګښت کې دویم ځلي تغییر د سوداګرۍ په عایداتو مالیه (BRT) کې د بدلونونو له امله وو او دریم ځلي تغییر د ۲۲۰ کیلو واټه مزي لېږد کې د بدلونونو له امله رامینځته شوی. |

| 14. کاسا ۱۰۰۰ د برېښنا لېږد پروژه | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې مالک | د افغانستان برېښنا شرکت | قرارداد کوونکی | لومړی قراردادي کڅوره: کلپاتارو د برېښنا لېږد شرکت<br>دوهمه قراردادي کڅوره: KECد ساختماني او انجنیرۍ خدمتونو نړیوال شرکت |
| پلي کوونکې اداره | د افغانستان برېښنا شرکت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | لومړی قراردادي کڅوره: ٦٦٩٠٠٠٠٠,٠٠ امریکایي ډالرو<br>دویمه قراردادي کڅوره: ٨٥٤٢٦٣٧٥,٥٢ امریکایي ډالر<br>دریمه قراردادي کڅوره: ٧٢٨٢٦٤٧٨,٧٠ امریکایي ډالر |
| موقعیت | کندز-ننګرهار | د قرارداد د پیل نېټه | لومړی قراردادي کڅوره: ۲۰۲۰ فبروري ۲۲<br>دوهمه قراردادي کڅوره:۲۰۲۰ فبروري ۲۲<br>دریمه قراردادي کڅوره: ۲۰۱۹ مارچ ۲۳ |
| د انجنیرۍ | ۲۲۵۰۰۰۰۰۰,۰ امریکایي ډالر | د قرارداد د پای نېټه | لومړی قراردادي کڅوره: ۲۰۲۳ فبروري ۲۲ |



CONFIDENTIAL

| | | | |
|---|---|---|---|
| برآورد | | | دویمه قراردادي کڅوړه: ۲۰۲۳ فبروري ۲۲<br>درېیمه قراردادي کڅوړه: ۲۰۲۲ مارچ ۲۳ |
| تدارکاتي کړنلاره | نړیواله سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | لومړی قراردادي کڅوړه: جریان لري<br>دویمه قراردادي کڅوړه: جریان لري<br>درېیمه قراردادي کڅوړه: جریان لري |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۴ اکتوبر ۲۴ | فزیکي پرمختګ | لومړی قراردادي کڅوړه: ۷۸,۸۸٪<br>دویمه قراردادي کڅوړه: ٥٦٪<br>درېیمه قراردادي کڅوړه: ٦٢,٢٨ |
| داوطلبی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | اطلاعات يې خپاره شوي ندي | مالي پرمختګ | لومړی قراردادي کڅوړه: ۳۷٪<br>دویمه قراردادي کڅوړه: ۴۲٪<br>درېیمه قراردادي کڅوړه:: ۴۱٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۷ دسمبر ۱۱ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | اطلاعات يې خپاره شوي ندي |
| د قرارداد شمېرې | **لومړی قراردادي کڅوړه**<br>CASA1000/AFG/TL/TW03/LOT-3/CA/-<br>**دویمه قراردادي کڅوړه**<br>CASA1000/AFG/TL/TW03/LOT-1/CA/-<br>**درېیمه قراردادي کڅوړه**<br>CASA1000/AFG/TL/TW03/LOT-2/CA/ | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۷۰٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. په ټولو درېو واړو قراردادونو کې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د تطبیق لارو کې ټولنیز مسائل په ځانګړي ډول د ځمکې د استملاک او بیا مېشتېدنې برخو کې ستري اندېښنې بلل کېږي.
2. د دې پروژې پلي کولو په وړاندې نا امني لوی خنډ بلل کېږي. د دې پروژې لپاره د عامه ساتنې ملي تصدۍ ساتونکو ټاکنه له دې امله پېنډېنګ کې ده چې د عامه ساتنې ملي تصدۍ خدمتونه له هم د افغانستان برېښنا شرکت ندي ورکړل شوي.
3. کرونا ناروغي د دې پروژې پرمختګ په ډېری برخو کې اغېزمن کړی دی.
4. ټولو قراردادیانو دوی ته د قرارداد د پیسو ورکړه کې ځنډ د دوی اصلي اندېښنه یاده کړه.

د افغانستان حکومت په استازیتوب د مالیې وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت او د نړیوال بانک په استازیتوب د نړیوالو پراختیایي مرستو ریاست تر مینځ د ۲۰۱۵م کال اپرېل میاشتې ۲۴مه نېټه د مالي تمویل هوکړه وشوه چې له مخې یې د افغانستان، پاکستان، قرغزستان او تاجکستان هېوادونو سره د کاسا ۱۰۰ پروژه د تطبیق تمویل ترسره کېږي. د کاسا ۱۰۰۰ پروژې اصلي موخه د لوېدیځې آسیا څخه مرکزي آسیا د برېښنا لېږد او سوداګري ده. د افغانستان قلمرو دننه کې د کاسا ۱۰۰۰ پروژه کې لاندې برخې شاملې دي او د دې هوکړه لیک له مخې تمویل کیږي.

**الف. د لوړ ولتاژ مزي لېږد زېربنا جوړول**

۱. د لوړ ولتاژ DC برېښنالرونکي برېښنایي مزي لېږد: د تاجکستان هېواد سانګتودا برېښنایي کنورټر سټېشن څخه د پاکستان پېښور برېښنایي سټېشن او د کابل برېښنایي سټیشن کې د برېښنایي شبکې وصل کولو لپاره د ۷۵۰ کیلو مترو په کچه د شاوخوا ۵۰۰ کیلو واټه لوړ ولتاژ لرونکي برېښنایي مزي غزول.

۲. د لوړ ولتاژ DC برېښنا کنورټر سټېشنونه: د AC او DC برېښنایي ځانګړو تجهیزاتو په ګډون د لوړ ولتاژ DC برېښنا کنورټر سټېشنونو

CONFIDENTIAL

ډیزاین، جوړول او تېرول: (i) په تاجیکستان کې سنګتودا کنورټر سټېشن (۱۳۰۰ میګاواټ)، (ii) په افغانستان کې د کابل کنورټر سټېشن (۳۰۰ میګاواټ) ، او (iii) د پاکستان د پېښور کنورټر سټېشن (۱۳۰۰) میګاواټ.

**ب برخه:** تخنیکي مرسته او د پروژې پلي کولو ملاتړ

۱. د لوړ ولتاژ DC او د لوړ ولتاژ AC بریښنا مالک انجینران. د پروژې د لوړ ولتاژ DC او لوړ ولتاژ AC بریښنایي برخو لپاره د رغونې پر مهال د درېیم لوري څارنې او نظارت په ګډون د دوه مالکینو انجینرانو مشورتي خدمتونو وړاندې کول.

۲. د چاپېریال ساتنې او ټولنیزو خوندیتوبونو مدیریت ملاتړ: د هیواد ځانګړي چاپېریال ساتنې او ټولنیزو اغېزو ارزونو او بیا مېشتېدنې کاري پلانونو په ګډون د پروژې د پلي کوونکوې اداري ظرفیت لوړول تر څو د چاپېریال ساتنې او ټولنیز خوندیتوب اړوند اسناد جوړ او څارنه ترې وکړي.

۳. د پلټنې، مالي او عایداتو مدیریت: د پروژې پلي کوونکو څلورو هېوادونو کې د پلي کوونکو ادارو لخوا د پروژې د حسابونو کلنۍ پلټنې ترسره کول په هغه صورت چې دا ډول پلټنې د نورو سرچینو څخه تمویل نه کېږي ، او د مالي مدیریت د ښه والي پروګرام په ګډون د پروژې له لارې د رامینځته شویو عوایدو شفاف مالي مدیریت کې همکاري کول.

۴. د پروژې مدیریت ملاتړ: (۱) د تدارکاتو او قرارداد مدیریت، مالي مدیریت، د پروژې له فعالیتونو او پایلو او د پروژې د اضافي لګښتونو څخه د څارنې او ارزونې برخو په ګډون، د پروژې پلي کونکو ادارو سره د پروژې مدیریت برخه کې همکاري کول؛ (۲) د لوړ ولتاژ DC بریښنایي مزي د څارنې او ساتنې او د بریښنا خوشې کولو په برخو کې د روزنې په لاره اچول او د ظرفیت لوړول؛ او (۳) په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د سوداګریزو او حقوقي مشورتي خدماتو وړاندې کول.

۵. همغږي: د تخنیکي ، سوداګریزو او حقوقي خدماتو تمویل او د اضافي لګښتونو برخو کې د بین الدولتي حکومتي شورا پیاوړې کول.

٦. د پروژې په اړه د اطلاعات شریکول: د پروژې تر پوښښ لاندې ساحه کې د اړوندو ذیدخلو مراجعو په ځانګړي ډول ټولنو د لارښوونو له مخې د اطلاعاتي کمپاینونو او د اطلاعاتو شریکولو فعالیتونو ترسره کول.

۷. د ظرفیت لوړول: د سیمه ییزې بریښنا بازار پراختیا په موخه د پروژې پلي کونکو ادارو د کارکوونکو او اړونده دولتي مسؤلینو د ظرفیت لوړول. د نړیوالې پراختیایي ټولنې لخوا د ژمنه شوې مرستې سربېره، د افغانستان حکومت د کاسا ۱۰۰۰ پروژې پلي کولو لپاره د ډېرو مرستو راجلبولو وړتیا لري او په ۲۰۱۹م کال کې له ملي بودیجې وتلې تر ټولو ستره یوه پروژه د کاسا ۱۰۰۰ پروژه وه چې مخکې یې یادونه وشوه.

**د پروژې په هکله عمومي معلومات**

د افغانستان خاوره کې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د بریښنا لېږد مزي ټولټال اوږدوالی شاوخوا ٥٧٠ کیلومتره دی او شاوخوا ۱۳۹٥ ستنو (ټاورنو) جوړولو ته اړتیا لري، چې په دې کې ٥٧٠ ټاورونه angel او پاتې ۸۲٥ ټاورونه سسپېنشن ټاورونه دي. د هر ټاور لپاره په اوسط ډول ۱۰ متره په ۱۰ متره کې (۱۰۰ متره مربع) ځای په کار دی او د هر ټاور یا ستنې لوړوالی ۳٥ متره دی. د بریښنایي مزي د استملاک حق له ٥۰ تر ٦۰ مترو اوږدوالي پورې دی . د کاسا ۱۰۰۰ پروژه په اوو ولایتونو (کندز، بغلان، کاپیسا، پنجشېر، کابل، لغمان او ننګرهار) کې له ۳٥ ولسوالیو څخه تېرېږي. هغه ولسوالۍ چې د دې پروژې بریښنایي مزی یې له مسیر تېرېږي عبارت دي له: (کندز) ولایت کې کندز، امام صاحب، کردوره، او علي اباد ولسوالی؛ (بغلان) ولایت کې بغلان جدید، برکه، ده سلاح، نهرین، خواجه هجران (جلګه) او پل حصار ولسوالی؛ (پنجشېر) ولایت کې عنابه، بازارک، دره حصه اول یا خنج، پریان، روخه، او شوتل ولسوالی؛ (کاپیسا) ولایت کې حصه اول کوهستان، حصه دوم کوهستان، محمود راقي، نجراب، او تګاب ولسوالی؛ (کابل ) ولایت کې سروبي ولسوالی؛ (لغمان) ولایت کې مهترلام او قرغیي ولسوالی؛ او (ننګرهار) ولایت کې جلال آبادښار، سرخرود، بهسود، چپرهار، رودات، بټي کوټ، شینواري، مهمند دره او دور بابا ولسوالیی.

د کاسا ۱۰۰۰ پروژه د رغنیزو چارو په موخه په درې قراردادي کڅورو وېشل شوې ده چې په لاندې ډول وړاندې کېږي:

لومړی قراردادي کڅوره: د کاسا ۱۰۰۰ پروژې دا برخه له دوه ولایتونو (کندز او بغلان) څخه تېرېږي او ۱۰۸,٥۷۷ کیلو متره اوږدوالی لري. په دې برخه کې ۱۲۲ angle ډوله ستنې او ۱۸۰ ستنې suspension ډوله شاملې دي. د کاسا ۱۰۰۰ د لومړی قراردادي کڅوړې د ډیزاین او رغونې چارې د انجینرۍ، تدارکاتو او رغونې (EPC) قرارداد کړنلارې پر بنسټ د کلپاتارو د بریښنا لېږد هندي شرکت ته ورکړل شوی دي.

CONFIDENTIAL

دویمه قراردادي کڅوړه: د کاسا ۱۰۰۰ پروژې دا برخه هم له دوه ولایتونو (پنجشېر او کاپیسا) څخه تېرېږي او ۱۸۹,۳۳ کیلو متره اوږدوالی لري. په دې برخه کې ۲٦٦ angle ډوله ستنې او ۳۲۳ suspension ډوله ستنې شاملې دي. د انجینری، تدارکاتو او رغونې (EPC) قرارداد کړنلارې پر بنسټ د دویمې قراردادي کڅوړې رغنیزې چارې دKEC د ساختماني او انجنیرۍ خدمتونو نړیوال شرکت ته ورکړل شوی دي.

درېیمه قراردادي کڅوړه: د کاسا ۱۰۰۰ پروژې دا برخه له دریو ولایتونو (کابل، لغمان او ننگرهار) څخه تېرېږي او ۱۸۳,۱٦۷ کیلو متره اوږدوالی لري. په دې برخه کې ۱۸۲ angle ډوله ستنې او ۳۲۲ suspension ډوله ستنې شاملې دي. د انجینری، تدارکاتو او رغونې (EPC) قرارداد کړنلارې پر بنسټ د درېیمې قراردادي کڅوړې رغنیزې چارې دKEC د ساختماني او انجنیرۍ خدمتونو نړیوال شرکت ته ورکړل شوی دي.

د دې پروژې د رغنیزو چارو ټولټال موده ۳ کاله ده. د هر ټاور (ستنې) جوړول ۸ ورځې (څلور ورځې تهداب او څلور ورځې د ستنې تړل) وخت نیسی او هر پایه کې به یوه ډله ۲۰ – ۲۵ کارکوونکي کار کوي او قرارداد کوونکی به د هرې قراردادي کڅوړې لپاره ۵ ډلې کارکوونکي نیسي.

د پروژې اطلاعات تیت و پرک دي او د اطلاعاتو د خپرولو په سیستمونو کې بشپړ اطلاعات نه لیدل کېږي او د پروژې اړوند اطلاعات نه یواځې دا چې خپاره شوي نه دي، بلکې غیر منظم دي. د پروژې قراردادونه یو له بل سره تړاو نلري. د اطلاعاتو د خپرولو سیستمونو ته په پام سره، د منظمو اطلاعاتو په پیدا کولو کې چې په کې د کاسا- ۱۰۰۰ پروژې ټول اړوند خپاره شوي قراردادونه نشته او یو ناشونی کار برېښي. دا اطلاعات ښیي چې د پروژې د رغونې چارې په دریو لاټونو وېشل شوي او هر یو یې یو قرارداد لري او ترځنگ یې د څارن او ورته ډېر نور قراردادونه لري. که څه هم، د یوې چټکې څېړنې له لارې د پروژې اطلاعاتو او د هغې ټولو اړوندو قراردادونو ته لاسرسی ستونزمن دی، کارونکي نشي کولای بشپړ اطلاعات ترلاسه او د هر قرارداد لپاره باید څو ځلې پلټنه وکړي، خو لا هم کارونکي نشي کولای د پروژې اطلاعاتو ته لاسرسی ولري.

د داخلي ارزونې موندنې په ډاگه کوي چې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشتېدنې پلان د پروژې په مسیر کې د کاسا د برېښنا د لېږد لاین د پلي کولو پر مهال د قراردادیانو لپاره یوه ستره ننگونه او اندېښنه ده. د ۲۰۲۱ کال تر فبرورۍ پورې د سپارل شوي راپور پر بنسټ، د کندز ولایت د لومړي لاټ په مسیر کې د پل اخین او حضرت سلطان په سیمو کې یواځې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشت کېدنې ۵۴ قضیو په اړه راپور ورکړل شوی دي. په ټولیزه توگه، ٦۰ سیمې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشت کېدنې ستونزه لري او باید ژر تر ژره دا ستونزه حل شي. د قراردادي په وینا،"په کندز ولایت کې زمونږ تجهیزات لکه، اسکواتور، GCB، د مکسر ماشینونه او د فاونډېشن درې ټیمونه د ځمکې د استملاک او بېرته مېشت کېدنې د ستونزې له امله په کار کې له ځنډ سره مخ دي ". د دې ترڅنگ، قراردادي له د افغانستان برېښنا شرکت څخه غوښتنه کړې څو د بغلان ولایت په ۲۱٦ سیمو کې چې خصوصي ځمکه ده، د ځمکې د استملاک او بېرته مېشتېدنې د پلان ستونزه حل کړي. په ورته وخت کې، د راپور پر بنسټ د کاپیسا په ولایت کې په دویم لاټ کې د ټولنیزو ستونزو له امله رغنیز کارونه په ټپه ولاړ دي. ټولنیزې د دویم لاټ په مسیر کې تر ټولو لوی خنډ دی او ځمکه د اراضۍ لخوا دولتي ځمکه اعلان شوې، په داسې حال کې چې ځایي خلک یې خپل ملکیت بولي او په دې توگه دا ټولنیزې ستونزې د پروژې د کارونو د ځنډ لامل شوي دي. د درېیم لاټ څخه په وروستي راپور کې هم د پروژې په مسیر کې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشتیدنې د ستونزو یادونه شوې او د پروژې د مسیر په اوږدو کې په ٦ بېلابېلو برخو کې د ورته ستونزو راپور ورکړل شوی، چې یادو ستونزو د ۲۰۲۰ کال له مې میاشتې راهیسې د فاونډېشنونو ساختماني چارې له ځنډ سره مخ کړې دي. د یادونې وړ ده چې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشتېدنې ستونزې د پروژې په تطبیق د پام وړ اغېزه کوي او د دې ستونزو تر حل پورې د کار دوام بندېږي او په دې توگه د پروژې د بشپړولو په ټاکلې نېټه باندې اغېزه کوي.

قراردادیانو ته د قرارداد د شرایطو سره سم پیسې نه دي ورکړل شوي او ځنډ یې د دوی لپاره یوه لویه ستونزه یاده شوې ده. یادونه شوې چې د اینوایس له سپارلو وروسته په اوسط ډول د پیسو ورکړې شاوخوا ۱۰۰ ورځې وخت نیولی دی. د لومړي لاټ قراردادي دې کار اندېښمن کړی چې په وینا یې ټولټال ۹,۳ میلیونه امریکایي ډالره باید ورته ورکړل شي چې په بېلابېلو پړاوونو کې لا هم بندې دي. [۳] د دې ترڅنگ، په درېیم لاټ کې هم ورته ستونزه ده، قراردادي ادعا کړې چې د ساختماني کارونو لومړنی اینوایس یې برېښنا شرکت ته ۲۰۲۰ کال په نومبر کې سپارلی، خو لا یې هم پیسې ترلاسه کړې نه دي (۲۰۲۱ د فبرورۍ ۲۸).

د ۲۰۲۰ کال تر فبرورۍ پورې، د پروژې چارې لا هم دوام لري او په ۳ قراردادونو کې یې د وخت هیڅ کوم بدلون نه دی راغلی، خو اطلاعات ښیي چې که چېرې د ځمکې د استملاک او بېرته مېشتېدنې ستونزه ژر تر ژره حل نشي، دا چاره د پروژې په تطبیق کې د ځنډ لامل شي. له بلې خوا، د مالیاتو او گمرکي محصول په ډېرېدو سره د قرارداد لگښتونه هم په لومړي لاټ کې ۸۷،٦٦۰،۵٦۳,۰۰ امریکایي ډالرو او په دویم لاټ کې په ترتیب

[۳۵] د کار د پرمختگ میاشتنی راپور، لومړی لاټ، فبروري ۲۰۲۰



CONFIDENTIAL

سره ۹٦،٥٦۱،٥٥۷,۷۹ امریکایي ډالرو او ۸۲،۲۸۲،۹٥۰,۰۲ امریکایي ډالرو ته لوړ شوي دي.

## 15. غور ولایت کې د ۵ مېګاواټه سولري برېښنا هایبراید شبکو ډیزاین، تدارک او نصبول

| د پروژې خاوند | د افغانستان برېښنا شرکت | قرارداد کوونکی | Shuangdeng Group Co. Ltd |
|---|---|---|---|
| پلي کوونکې اداره | د افغانستان برېښنا شرکت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | 10,800,000.0 امریکایي ډالر |
| موقعیت | غور | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۱۹ اپریل ۷ |
| د انجنیری براورد | 12,690,283.0 امریکایي ډالر | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۱ مارچ ۲۱ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | ځنډول شوی |
| د داوطلبی اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۸ کې ۲۴ | فزیکي پرمختګ | ۲,۵٪ |
| داوطلی کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۴٪[3] | مالي پرمختګ | ۱۲,۵٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۱۹ جنوري ۲٦ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۳٦٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/MEW/97/W-2067/ICB | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۹٥٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د قرداد ورکړې اطلاع څخه ٥٦ ورځې وروسته د قرارداد د قبلولو تصدیق ورکړل شوی دی.
2. د ملي تدارکاتو کمېسیون منظوری څخه وروسته، قراردادي ته د قرارداد ورکړې ۴٥ ورځې وخت نیولی دی.
3. د دې پروژې د دواطلبی بهیر ۲۴۷ ورځې وخت نیولی دی.
4. د قرارداد ورکړې نېټې څخه ۷۱ ورځې وروسته قرارداد کوونکي ته د پروژې د کارونو پیلولو یاداښت ورکړل شوی دی.

دې پروژې کې د 10 مېګاواټه سولري برېښنا د دوه ګوني شبکې ډیزاین، تدارک او نصب کول شامل دي. د Hybrid سولري سیستم په ورېځو لرونکو ورځو کې کار کوي ځکه چې د ډیزل جنراتورونو سره وصل دی. د نورو توکو په ګډون، دغې پروژې کې شامل توکي عبارت دي له: د ۱٦٦٦۷ ماډیول لمریزې برېښنا شبکې نصب کول، ۹۱ عدده د مړ برق ژوندي ته اړوونکي انورتر، ٦٦٦۷ دانې بټرۍ، ۳ دانې ډیزلي جنراتورونه او ٦ ترانسپرمرونه شامل دي. دا پروژه د دوه کلونو لپاره ده او د قرارداد د شرایطو له مخې قراردادي مکلف دی چې د یو کال لپاره د پروژې ساتنه او څارنه هم وکړي.

د پروژې د کارونو پیلولو یاددابنت ورکړې څخه وروسته، قراردادي د پروژې ډیزاین د انرژۍ او اوبو وزارت پخوانیو مسؤلینو ته سپارلی وو، خو د انرژۍ او اوبو وزارت د بیا کتنې تخنیکي بورډ لخوا له ځینو نظریاتو سره رد شوی وو. په ډیزاین کې د نظریانو شاملولو وروسته د ډیزاین ۹۰ سلنه کارونه د انرژۍ او اوبو وزارت تخنیکي بورډ لخوا منظور شو مګر همدې وخت کې د انرژۍ او اوبو وزارت د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداري

---

[36] د ۷۷ داوطلبانو له جملې څخه ۳ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

(NWA) او د انرژۍ خدماتو د تنظیم خپلواکي اداري (NESA)په چوکاټ کې مدغم شو او دا پروژه د افغانستان برېښنا شرکت ته انتقال شوه. خو د پروژې منظور شوی ډیزاین د افغانستان برېښنا شرکت تخنیکي بورد لخوا ونه منل شو او په ډیزاین کې د سمون راوستلو په تړاو نویو نظرونو وړاندې کولو سره رد شو. د پروژې په ډیزاین کې د افغانستان برېښنا شرکت وروستي نظرونه د فبرورۍ په نیمایي کې شامل او د افغانستان برېښنا شرکت ته وسپارل شو خو تر اوسه (د دې راپور لیکلو په وخت کې) د دې پروژې ډیزاین منظور شوی ندی.

که څه هم ، پروژه په رسمي ډول تمدید شوې نده، مګر د پروژې مودې او د هغې اجزاوو ته په کتو، واضح معلومېږي چې د پروژې پر مودې یو کال اوښتی او ښایي د پروژې د تمدید غوښتنه طی مراحل لاندې وي یا ښایي غوښتنه یې وشي ځکه ټاکل شوې وه چې دغه پروژه په دوه کلونو کې بشپړه شي ، یو کال د ډیزاین، رسولو او نصب لپاره او یو کال یعنې د ۲۰۲۱م کال مارچ میاشت پورې د سیستم ساتنې او څارنې لپاره . په دې توګه، د پروژې نه ډیزاین نهایی شوی او نه یې ساتنه او څارنه روانه ده. د قرارداد د یوې برخې د اساسي فعالیتونو په توګه د دې پروژې ځینې کارونه لکه ۱. پروژې انسجام ۲. جیو تخنیکي څېړنې او ۳. توپوګرافیکي څېړنه بشپړ شوي دي.

## 16. جلال آباد څخه د کنړ تر اسعدآباد پورې د ۲۲۰ کیلو واټه دوه ګوني سرکټ برېښنایي شبکې ډیزاین، د پایو نصب، ازمايښت او تېرول

| | | | |
|---|---|---|---|
| د پروژې خاوند | د افغانستان برېښنا شرکت | قرارداد کوونکی | کلپاتارو د برېښنا لېږد شرکت (KPTL) |
| پلي کوونکې اداره | د افغانستان برېښنا شرکت | د قرارداد د پیسو کچه (مبلغ) | 29,949,650.52 امریکایي ډالر |
| موقعیت | ننګرهار-کنړ | د قرارداد د پیل نېټه | ۲۰۲۰ سپتمبر ۳ |
| د انجنیرۍ برآورد | 36,498,328.0 امریکایي ډالر | د قرارداد د پای نېټه | ۲۰۲۲ اګست ۲۴ |
| تدارکاتي کړنلاره | ملي سیالیزه داوطلبي | د قرارداد حالت | روان (جریان لري) |
| د داوطلبۍ اعلان ته سپارلو نېټه | ۲۰۱۹ فبروري ۲۰ | فزیکي پرمختګ | ۱۰,۴۹٪ |
| داوطلۍ کې د داوطلبانو د ګډون کچه | ۴٪[۳۷] | مالي پرمختګ | ۲۰٪ |
| د قرارداد ورکړې نېټه | ۲۰۲۰ مې ۹ | په فعاله توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۲۹٪ |
| د قرارداد شمېره | NPA/DABS/97W/2297/OCB | په انفعالي توګه د اطلاعاتو د خپرولو کچه | ۹۴٪ |

**اساسي اندېښنې:**

1. د قرارداد ارزونه په ۱۷۹ (٦ میاشتو) کې ترسره شوې ده.
2. د داوطلبۍ ارزونې او قرارداد ورکړې تر مینځ ۱۳۵ ورځې (۴،۵ میاشتې) وخت نیولی دی.
3. د دې پروژې د داطلبۍ بهیر ۴۴۴ ورځې (۱۵ میاشتې) وخت نیولی دی.
4. د قرارداد له ورکړې وروسته د کارونو پیلولو د یادداښت ورکړه ۱۱۷ ورځې (۴ میاشتې) وروسته ترسره شوې ده.

[۳۷] د ۱۰۱ داوطلبانو له جملې څخه ۴ داوطلبانو ګډون کړی وو چې د داطلبۍ اسناد یې ترلاسه کړل

د دې پروژې موخه ختیځو ولایتونو کې نږدې ۲ ملیونه وګړو ته د برېښنا رسول او د کورنیو تولیداتو راویستلو او د پاکستان په لور د TUTAP برېښنا وصلولو ته لاره هوارول دي. دغې پروژه کې د ۳۰۰ مېګاواټه په ظرفیت سره شاوخوا ۹۵ کیلو مترو کې د جلال آباد څخه د کنړ تر اسعدآباد پورې د لویې لارې په اوږدو کې د ۲۲۰ کیلو واټه دوه ګوني سرکټ برېښنا لېږد شامل دي چې د آسیا پرمختیایي بانک (ADB) لخوا تمویل کیږي. د دې پروژې په قرارداد کې شامل کارونه د برېښنایي مزي ډیزاین کول، تولید، راوړل، نصب او ټېرول شامل دي. دا مزی به د شېخ مسري له ۲۰/۲۲۰ کېلو واټه سب سټېشن سره وصل شي چې د دې کار په لومړي پړاو کې د سلاکار اداري په سویل پای کې او په شمالي پای کې د کونړ سب سټېشن سره وړاندیز شوی وو. د برېښنا د لېږد ستنو ځانګړی موقعیت به په تفصیلي ډول د پروژې د ډیزاین مرحله کې د قراردادي لخوا وټاکل شي او د دوه ستنو تر مینځ به اوسط واټن له ۲۰۰ – ۲۲۵ مترو پورې وي. دې پروژه کې د برېښنا د لېږد مزي لپاره ۳۸۳ ستنې په پام کې نیول شوي دي. د برېښنا د لېږد دغه مزی او سب سټېشن به لاندې برخو کې د پام وړ ارزښت رامینځته کړي:

- د لغمان فوټوولټیک سولر پروژې څخه د برېښنا اخیستل
- کونړ ولایت ته دوامداره برېښنا چمتو کول
- د ۱۰۰ میګاواټو ناګلو هایډرو پاور پلانټ، په ننګلو کې ۲۰ مېګاواټه سولر پارک او د ننګرهار صنعتي پارک کې ۴۰ میګاواټه سولر شبکې ته د برېښنا اکمالات پیاوړي کوي او د یو له بل سره د شبکې ثبات رامینځته کوي.

د پروژې پلي کوونکې اداره (د افغانستان برېښنا شرکت) د افغانستان حکومت سره د نورو قراردادونو پلي کولو په صورت کې د قراردادي د اجراأتو په اړه د جلالتمآب ولسمشر پوښتنې ته په ځواب کې څرګنده کړه چې قراردادي دوه نورې پروژې یوه د کاسا ۱۰۰۰ او بله د دشت الوان څخه د کابل ارغندې پورې د ۵۰۰ کیلو واټه برېښنا لېږد پروژې تر کار لاندې لري چې د دواړو پروژې کارونه د ټاکلې مودې څخه شاته دي. له همدې امله ، د افغانستان برېښنا شرکت د رسمي مکتوب په لیږلو سره د تداکاتو له ملي کمېسیون څخه غوښتنه وکړه ترڅو دا قرارداد په دې شرط منظور کړي چې قراردادي به په ټاکلې نېټې د پروژې د بشپړولو او سپارلو ژمنه کوي او د منظورۍ حکم کې د قرارداد تمدید کېدل شتون نلري.

د پروژې له مسؤلینو څخه د وروستي اطلاعاتو پر بنسټ، د دې پروژې د ډیزاین کارونه اوس روان دي او فزیکي کارونه یې لا تر اوسه پیل شوي ندي.

## ۲,۲. هغه پروژې چې اطلاعاتو ته یې خلک لاسرسی نه لري

د روغتیا نړیوال سازمان د ۲۰۲۰م کال مارچ میاشت کې د کرونا نوې ساري ناروغۍ COVID-19 له امله دغه ناروغي نړیواله وبا اعلان کړه. دغه ویروس د افغانستان په ګډون د ټولې نړۍ حکومتونه دې ته اړ کړل چې د خلکو خوندیتوب او د ناروغانو درملنې لپاره بېړني اقدامات ترسره کړي. د افغانستان حکومت هم د دې ویروس له امله د رامینځته شویو اقتصادي او روغتیایي ننګونو ته د رسېدو لپاره د ملي بودیجې لویه برخه ځانګړې کړه. د کرونا ناروغۍ CoVID-19 اړوند بېړنیو مرستو لویه برخه په ټول هیواد کې د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو رغونې او بیا رغونې لپاره ځانګړې شوه.

حکومت، د استثنایي شرایطو لپاره د تدارکاتو قانون د احکامو سره سم، د کرونا ناروغۍ د بېړنۍ مرستو په چوکاټ کې د رغنیزو کارونو او توکو اړوند قراردادونو لپاره د بېړنیو تدارکاتو کړنلارې عملي کړې. حکومت ادعا کوي چې د کرونا ناروغۍ د بېړنۍ مرستو څخه یې ملیونونه پیسې یې د روغتیایي مرکزونو پر جوړولو، تجهیز او بیارغونې باندې لګولي دي؛ خو دا پیسې د تدارکاتو هغې کړنلارې له مخې لګول شوي دي چې د اداري فساد، ناسم مدیریت او ضیاع خطرونو لري. څرنګه چې د روغتیایي پاملرنې مرکزونو موثریت او بشپړتیا د رواني کرونا ناروغۍ پرمهال د ژوند ژغورلو لپاره مرکزي حیثیت لري، دې راپور کې د کرونا ناروغۍ بېړنۍ مرستو پورې اړوند ٤ زېربنایي پروژې څېړل شوي ترڅو د اوسني لګښتونو اندېښنو په اړه د خلکو اندېښنو ته رسېدنه وشي او د راتلونکي بېړنۍ حالت قراردادونو لپاره تجربې وړاندې کړي.

CONFIDENTIAL

د ډاډ ورکونې ټیم د عامې روغتیا وزارت ته چې په هېواد کې د روغتیا ساتنې عامه زېربناوو خاوند دی، د کرونا ناروغۍ بېړنۍ مرستو پورې اړوند ۴ زېربنایی پروژو په تړاو تدارکاتي او قراردادي اسنادو ته دلاسرسي په موخه ورغلل. د عامې روغتیا وزارت په رسمي ډول عذر وړاندې کړې چې یاد وزارت د یادو پروژو په چمتووالي، تدارکاتو یا پلي کولو کې دخیل نه وو او د د ډاډ ورکونې ټیم یې د ولسمشر د اداري دفتر عملیاتي واحد (AU-AOP) اړوند د افغانستان بنسټیزې روڼتیا نوښت CoST ادارې ته د اطلاعاتو رابرسېره کولو لپاره راجع کړ. د ډاډ ورکونې ټیم ، څو ګونو ښکېلو اړخونو ته د رسمي مکتوبونو صادرولو، د ډېر شمېر رسمي برېښنالیکونو تبادلې او www.askforinfo.af (د اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اړوند د عامه اطلاعاتو آنلاین پورټل) وېبپاڼې څخه د اطلاعاتو غوښتنې په ګډون، د اړیکو څو ګونو لارو چارو له لارې د دې پروژې اړوند اطلاعاتو غوښتنه کړې ده.

له بده مرغه، د ډاډ ورکونې ټیم ونشو کولای چې د کرونا ناروغۍ بېړنۍ مرستو پورې اړوند دغو ۴ زېربنایی پروژو په تړاو تر ټولو لومړني اطلاعات ترلاسه کړي. د CoVID – 19 اضطراري ځواب فنډ پورې اړوند د ٤ زېربنایی پروژو په اړه ډېرو لومړني اطلاعاتو ته لاسرسی ومومي. د افغانستان بنسټیزې روڼتیا نوښت CoST ادارې د عامې روغتیا وزارت سره په همغږۍ د یادو شویو ۲۲ پروژو څخه ساحوي لیدنې ترسره کړې او د مرکو او کتنو په ترڅ کې یې اطلاعات راټول کړي دي. د ۲ کتل شویو پروژو د قضیو څېړنې لاندې وړاندې کیږي:

## په هرات ولایت کې د کرونا ناروغانو لپاره د ۲۰۰ بستریز روغتون جوړول

کرونا ناروغانو لپاره د ۲۰۰ بستریز روغتون اړوند اطلاعات د ډاډ ورکونې له ټیم سره شریک شوي ندي. حتی د دې پروژې اړوند اطلاعات د عامې روغتیا وزارت سره په مرکزي کچه او د عامې روغتیا وزارت له ولایتي ریاست سره هم شریک شوي ندي. د پروژې له ساحې څخه د ډاډ ورکونې ټیم کتنې ښیي چې د دې پروژ کارونه سم ندي روان. د پروژې په بېلابېلو برخو کې تخریبونه لیدل شوي. سربېره پردې، د تشنابونو لپاره د ناسم موقعیت ټاکلو له امله، د باد لګېدو پر مهال چاپېریال کې ککړتیا رامینځته کیږي. د روغتون دخولي دروازه د پروژې له کړنو سره سمون نه لري. همدا راز، دې پروژه کې یوازې د ودانۍ جوړښت شامل دی او حتی لومړني طبي تجهیزات د پروژې په شاملو کارونو کې شامل شوي ندي.

که څه هم پروژه بشپړه شوې خو په رسمي ډول د هرات د عامې روغتیا ریاست ته نه ده سپارل شوې ځکه چې د عامې روغتیا ریاست د دې پروژې په سم ډول سره بشپړېدل نه مني او ادعا یې کړې چې دوی د رسمي مکتوب لېږلو له لارې د دې پروژې د نیمګړتیاوو په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړې ده.



د هرات ولایت د کرونا ناروغانو روغتون




د ډاډ ورکونې ټیم د کرونا ناروغانو لپاره د روغتون پروژې په اړه روغتیایي کارکوونکو سره د خبرو پر مهال

## تخار ولایت کې د ۱۰۰ بستریز روغتون اساسي رغونه

دا پروژه د کرونا ناروغۍ ولایتی کمېټې لخوا چې د کرونا وبا پر مهال جوړه شوې، تر رهبرۍ لاندې پلې شوې او د همدې کمېټې لخوا یې د تدارکاتو کارونه پر مخ وړل شوي دي. د دې پروژې د سروې چارې د بېړنۍ اړتیا له مخې په کم وخت کې ترسره شوي او وروسته بیل احجام BoQ کې د کار د نیمګړي براَورد له امله د روغتون ودانۍ ډېرې مهمې برخې رغونه شوې ندي. د روغتون د مدیریت په وینا، د دریو موجودو ودانیو څخه چې د روغتون په محوطه کې باید رغونه شوې وای ، یوازې یوه ودانۍ یې رغونه شوې وه. د پروژې چمتووالی مرحلې کې د پروژې د خاوند لخوا د پروژې ناسم مدیریت له امله، د روغتون ډیرې مهمې برخې لکه د ودانۍ د مرکز ګرمۍ، هوا او ایرکنډېشن سېستم؛ د ودانۍ لپاره د سپټیک څاه او د روغتون ځینې نور ساختمانونه د پروژې له کاري محدودې (شاملو کارونو) څخه لرې شوي دي.

د روغتون ودانۍ اړین تجهیزات هم نلري. په لومړي سر کې، روغتون د دې توان نه درلود چې د کرونا ناروغۍ معاینه وکړي او له څو میاشتو وروسته، د دې معاینې لپاره اړین تجهیزات د یوې نادولتي موسسې ( آغا خان مؤسسې) دفتر لخوا چمتو شوي دي. په لومړیو مرحلو کې، د کرونا ناروغۍ د معاینې ټول سمپلونه کابل ته استول کېدل ترڅو پر کرونا ناروغۍ شکمن کسان معلوم شي او نتیجې به یې وروسته اعلان کېدلې.

دا روغتون فعال وېنټېلېټورونه (د اکسیجن ماشینونه) نلري. په دې روغتون کې یوازې دوه د اکسیجن ماشینونه شته چې هغه هم د تخنیکي ستونزو له امله یا کار نه کوي او یا د کرونا ناروغانو اړتیا پوره کولای نشي. ځینې طبي بسترونه په کابل کې اخیستل شوي او د تخار ولایت روغتونونو ته د کرونا تجهیزاتو په توګه استول شوي دي په داسې حال کې چې د روغتیا چارواکي وایي چې دا بسترونه یو هم د کرونا ناروغانو لپاره مناسب ندي او د ولسوالیو روغتیایي مرکزونو ته وېشل شوي دي. د روغتیایي تجهیزاتو نشتوالی یو له هغه ستونزو دې چې دا روغتون ورسره مخ دی. د تخار ولایت د یو روغتیایي چارواکي په وینا دا روغتون د امبولانسونو، د ناروغ د حالت معلومولو مانیټورونو ، X-rays ماشینونو او نورو داسې روغتیایي تجهیزاتو کموالي سره مخ دی چې د ناروغانو اړتیاوې پوره کولای شي.

| | |
|---|---|
|  |  |
| د پاړ ورکونې ډله د روغتون له کارکوونکو سره د کوویډ ۱۹ پروژې د وضعیت په هکله خبرې کوي | د پاړ ورکونې ډله په تخار ولایت کې د ساحوي لیدنې پرمهال |

CONFIDENTIAL

# شپږم څپرکی: اساسي موندنې او سپارښتنې



د ډاټ ورکونې ټیم غړي د خصوصي سکتور له استازو سره د مرکو پرمهال
۲۰۲۱ کال مارچ، کابل - افغانستان

## لنډه کتنه

د ډاډ ورکونې بهیر د موخو پر بنسټ، په دې راپور کې هغه برخې په نښه شوي دي چې عامه بودیجې په کې د اداري فساد، ناسم مدیریت، ناوړه کارونې او ضایع کېدو له جدي ګواښ سره مخ دي. په همدې اساس، د دې راپور لپاره د ډاډ ورکونې بهیر پرمهال، له ټولو اړوندو سرچینو څخه موندنې او اطلاعات راټول شوي او په لویو چوکاټونو کې درجه بندي شوي دي. هره موندنه لږ تر لږه یوه سپارښتنه لري چې اړوندو ښکېلو اړخونو سره تر سلا مشورو ورسته چمتو شوې او د ملاتړ لپاره یې له اړوندو څېړنو او تجربو ګټه اخېستل شوې ده.

په دې موندنو کې د دغه راپور لپاره د ډاډ ورکونې بهیر کې د بېلابېلو اړخونو په هکله اطلاعات راټول شوي دي او د تېرو راپورونو سره پرتله شوي دي، همدارنګه د نړیوالو ښو فعالیتونو او بنسټیزې روڼتیا د نوښت له معیارونو سره یې پرتلنه شوې ده. هره سپارښتنه د اساسي سمونونو او متوقع پایلو په ملاتړ وړاندې شوې ده. دا سپارښتنې سمارټ (ځانګرې، د اندازه کولو وړ، د ترلاسه کېدو وړ، حقیقي او پر وخت) له مخې طرحه شوې ده. همدارنګه، سپارښتنې په پراخه توګه د پالیسۍ اړوند موضوعات په نښه کوي کوم چې په بېلابېلو عواملو او موندنو باندې په منځني او اوږد مهال کې اغېز لري. د څېړنې د مېتودولوژۍ له مخې، د راپور د تسوید لپاره به د سلا مشورو یوه لړۍ ترسره شي چې ټول ښکېلو اړخونو ته به د خپلو نظرونو د څرګندولو او د راپور د کومې برخې په هکله د توضیحاتو د غوښتو زمینه برابره شي. نهایي راپور به د یاد بهیر په ترڅ کې چمتو شي او ډاډ به وړاندې شي چې د ټولو ښکېلو اړخونو سپارښتنو ته په کې پاملرنه وشي.

سربېره پر دې، د پروژو اړوند انفرادي سپارښتنې د هرې پروژې د مطالعې پرمهال په پنځم څپرکي کې راوړل شوي دي. خو وړاندې شوې سپارښتنې یې یواځینی حل نه دی چې باید رسېدنه ورته وشي. دا سپارښتنې که څه هم د پروژې د ستونزو د هوارې لپاره یواځینی حل نه بلل کېږي خو د پروژې د بشپړتیا پر وړاندې ښایي لوی خنډونه له منځه یوسي او د راتلونکو اقداماتو لپاره یوه درس اوسي. ټولې موندنې او سپارښتنې په لاندې جدول کې وړاندې شوي دي.

| اساسي موندنې | سپارښتنه |
|---|---|
| **6.1. د اطلاعاتو خپرول** | |
| .6<br>.6.1<br>**6.1.1. په فعاله ډول (په خپله) د اطلاعاتو خپرول** | |
| افغانستان د بریښنايي او پرانیستو تدارکاتو سیستم (AGEOPS) ځینې اداري مکلفې کړي دي چې په فعاله ډول په پراخه توګه اطلاعات خپاره کړي. د یو اټکل له مخې، د ۵۰۰۰ قراردادونو څخه ډېر اطلاعات خپاره شوي دي کوم چې په افغانستان کې یو بې ساری اقدام او د اطلاعاتو انقلاب بلل کېږي.<br>د دې ترڅنګ، د زیربنايي پروژو اطلاعات چې د تدارکاتي ادارو له لورې په AGEOPS کې شریکه شوې. په منځني ډول د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د اطلاعاتو د خپرولو له معیار سره چې په ټاکل شوي ډول خپاره شوي، ۳۲٪ سره د پرتلنې وړ دي. د اطلاعاتو د خپرولو دغه کچه څرګندوي چې د تېر کال په پرتله په دې برخه کې ۳،۸٪ کموالی راغلی.<br>په دې راپور کې په ټاکل شوي ډول د اطلاعاتو د خپرولو په کچه کې کموالی ښايي د نورو لاملونو ترڅنګ دا هم وي چې په تدارکاتي ادارو کې د اطلاعاتو د خپرولو په تړاو کافي وړتیا شتون نه لري او بله دا چې د AGEOPS په بېلابېل ډول اطلاعات خپرېږي، د بېلګې په دول د اطلاعاتو د نښو / سیمو پر ځای سند خپرېږي. | د افغانستان حکومت ډېر پخوا ژمنه کړې ده چې د بنسټیزې روڼتیا نوښت د اطلاعاتو معیارونه به پلي کوي څو د زیربناوو اړوند اطلاعاتو په خپرولو کې زیاتوالی او ښه والی راشي. خلک کولی شي چې له خپرېو شوو اطلاعاتو څخه حکومت ته د غبرګون څرګندولو لپاره کار واخلي او د زیربنايي پروژو د پیاوړتیاوو، نیمګړتیاوو، فرصتونو او زیان‌منو په هکله یې خبر کړي. په همدې اساس سپارښتنه کېږي چې:<br>1. د زیربنايي پروژو په هکله په لا ډېر منظم ډول او زیاتو اطلاعاتو د خپرولو په تړاو دې د تدارکاتي ادارو وړتیا لوړه شي.<br>2. د ملي تدارکاتو اداره دې د عامه تدارکاتو طرزالعمل تعدیل کړي څو تدارکاتي او قراردادونو د مدیریت کړنې داسې برابر کړي چې په AGEOPS کې د تدارکاتي ادارو له لورې د نوي او سمو اطلاعاتو خپرولو سره سمون ولري.<br>3. همدارنګه، د ملي تدارکاتو اداره دې په AGEOPS کې د اطلاعاتو د هغو نښو / اړخونه اړوند اطلاعات خپاره کړي چې په ټاکل شوي ډول په خوندي ډول د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د کاسټ افغانستان د زیربناوو د اطلاعاتو د معیارونو لپاره غوښتل شوي دي. |
| د بنسټیزې روڼتیا نوښت (کاسټ) له مخې، یوه زیربنايي پروژه کې څو قراردادونه شامل وي، د بېلګې په ډول، د ترسره کېدو د امکان مطالعه، طرحه، جوړونه، عملیات او ساتنه. خو د افغانستان په تدارکاتي سیستم کې د یوې پروژې او یو قرارداد د مفاهیمو ترمنځ کوم واضح توپیر نه تر سترګو کېږي.<br>تدارکاتي اداري او AGEOPS په ترتیب سره د قرارداد په کچه د زیربناوو اطلاعات شریکوي چې د دوي په خوښه د یو شمېر پروژو په کچه حقایق په کې شامل وي. له همدې امله، په فعال ډول خپاره شوي اطلاعات د افغانستان د بنسټیزې روڼتیا نوښت د پروژو په کچه اطلاعاتو د خپرولو له معیار سره سمون نه لري. | د بنسټیزې روڼتیا نوښت د یو شمېر پروژو اطلاعات او د څو ډوله قراردادونو اطلاعات په پام کې نیسي، او په مناسب ډول هڅه کوي چې د اطلاعاتو یو ښه، بشپړ، نوی او دوامداره د اطلاعاتو بسته د خلکو په لاسرسي کې ورکړي. دا چې (OC4IDS) د اطلاعاتو ډېر هراړخیز معیارونه دي او د اندازې وړ او د پروژې او قرارداد په کچه په اغېزناک ډول د اطلاعاتو د خپرولو ملاتړ کوي، په همدې اساس سپارښتنه کېږي چې:<br>1. د اقتصاد وزارت باید مالیې وزارت، د چارو اداري، ملي تدارکاتو اداري او اړوندو تقنیني ادارو سره په ګډه همکاری، د OC4IDS معیارونو پربنسټ د یوې پروژې یا یو قرارداد بیلابیل بهیرونه رهبري کړي.<br>2. د ملي تدارکاتو اداره باید د اړوندو ادارو سره په همغږۍ |

CONFIDENTIAL

| | |
|---|---|
| | په افغانستان د برېښنايي او پرانيستو تدارکاتو سيستم (AGEOPS) کې د OC4IDS معيارونو د اطلاعاتو خپرولو موډل شامل کړي. |
| **6.1.2. د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو خپرول** | |
| په منځنۍ توګه، د تدارکاتي ادارو له لورې د اطلاعاتو خپرول د افغانستان برېښنايي او پرانيستو تدارکاتو سيستم (AGEOPS) کې د ټاکل شويو زېربنايي پروژو په هکله د اطلاعاتو خپرول د کاسټ افغانستان له معيارونو سره ۶۶٪ سمون درلود چې د تېر راپور په پرتله ۹٪ ډېروالي څرګندوي چې په خپل وار د غوښتنې پربنسټ اطلاعاتو ته د لاسرسي پر لور د ځواب ويينې او پرانيستوالي په کچه کې د زياتوالي څرګندونه کوي.<br><br>په ورته وخت کې، (OU-AOP) د کوويډ – ۱۹ د بېړني غبرګون د ۴ زېربنايي پروژو اطلاعات چې د خپرولو غوښتنه يې شوې وه، خپاره کړي نه دي، که څه هم په دې هکله ورسره څو ځل اړيکه ونيول شوه. | د ځواب ورکولو د کچې د ښه والي او د تدارکاتي ادارو د ځواب ويينې د زياتوالي لپاره (AIC) ته سپارښتنه کېږي چې د اطلاعاتو لپاره د خلکو غوښتنې په منظم ډول وڅاري او هغه اداري مجازات او قانوني چلند پرې اجرا کړي چې وموندل شي خلکو سره د اطلاعاتو د شريکولو اړوند قوانين او کړنلارې نه پلي کوي. |
| **6.2. تدارکاتي مديريت** | |
| **1.2**<br><br>**1.2.1 د داوطلبۍ د سيالۍ کچه** | |
| د عامه زېربنايي پروژو ټاکل شويو نمونو لپاره د داوطلبيو د سيالۍ عمومي کچه د منځنۍ کچې داوطلبيو په ډله کې راځي چې په داوطلبۍ کې برخه اخلي. په ټوله کې په منځنۍ توګه د داوطلبۍ ۶ وړانديزونو په داوطلبيو کې برخه اخېستې په داسې حال کې چې په منځنۍ توګه ۳۳ د داوطلبۍ اسناد سپارل شوي وو.<br><br>دا راپور ښيي چې په دې برخه کې د تېرو راپورونو په پرتله ۳۳٪ زياتوالی راغلی چې لامل يې ښايي دا وي چې د افغانستان د روڼتيا نوښت، ملي تدارکاتو اداري او نورو اړوندو تدارکاتي ادارو له لورې د عامه داوطلبو د بهير د ښه کولو په موخه يو لړ اقدامات ترسره شوي دي. د دې ترڅنګ په عمومي ډول له عادي بوديجو پرته د زېربنايي داوطلبيو د شمېر راکمول او د ځينې تدارکاتي ادارو له لورې په انلاين بڼه د تدارکاتي اسنادو خپرولو هم د نورو لاملونو ترڅنګ په دې برخه کې رول لوبولی دی.<br><br>د افغانستان برېښنا شرکت د ۶۸ پروژو د داوطلبۍ د اسنادو په خپرولو د ټولو ادارو په سر کې ځای لري. ورپسې د کابل ښاروالي، د کليو پرمختيا او بيارغوونې وزارت او د ښاري پراختيا او ځمکو وزارت په ترتيب سره راغلي دي. د کليو پرمختيا او بيا رغوونې وزارت | د داوطلبۍ د سيالۍ کچه په تدارکاتي بهير باندې د خلکو د باور کچه زياتوي او په دې ډول د توکو او خدماتو لپاره د پيسو ارزښت زياتوي، په همدې اساس سپارښتنه کېږي چې:<br><br>**1.** تدارکاتي اداري بايد د عامه زېربنايي پروژو لپاره د داوطلبيو د ارزونې په ځانګړنو کې نرمښت څرګنده کړي داسې چې د (يو شان پروژو اړتياوې) د (يو شان فعاليتونو په اړتياو) بدلې کړي او د کلنيو بيا کتنو موده له پنځو کلونو څخه لس کلونو ته وغځوي.<br>**2.** د تدارکاتو قانون بايد په نړيوالو شرکتونو باندې لازمي کړي چې له سيمه ايزو شرکتونو سره په ګډه خپل فعاليتونه ترسره کړي او د شراکت يوه کچه يې ځانګړې کړي څو سيمه ييز شرکتونه د دې جوګه شي چې په راتلونکو داوطلبيو کې د برخه اخېستو په شرايطو برابر اوسي او اړينه پوهه ترلاسه کړي. په ځانګړي ډول په لويو زېربنايي پروژو لکه د اوبو بندونو، د برېښنا لېږد او د ملي لويو لارو جوړول. |

CONFIDENTIAL

<table dir="rtl">
<tr>
<td>
په پروژو کې په منځنۍ توګه ډېرو (۸) داوطلبانو برخه اخېستې ده چې ورپسې د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت، کابل ښاروالي او د افغانستان برېښنا شرکت دي.<br><br>
له بل پلوه، د خصوصي سکتور استازي ادعا لري چې د داوطلبۍ اوږد بهیر او د داوطلبیو د ارزونې جدي او سختې ځانګړنې هغه څه دي چې په داوطلبیو کې د سیمه ایزو داوطلبانو حوصله ماتوي څو په داوطلبیو کې ګډون ونه کړي. د پروژې اطلاعات چې د ډاډ ورکوونې ډلې ته په لاس ورغلي وړاندیز کوي چې د داوطلبیو د ارزونې په ځانګړنو کې د نرمۍ راوړل ښایي سیمه ییز شرکتونه وهڅوي چې د عامه پروژو لپاره په داوطلبیو کې ګډون وکړي.
</td>
<td></td>
</tr>
<tr>
<td colspan="2">1.2.2 د داوطلبۍ بهیر</td>
</tr>
<tr>
<td>
د زېربنایي پروژو د ټاکل شویو نمونو لپاره د داوطلبیو منځنۍ موده ۲۰۵ ورځې وه چې په دې راپور کې د تېرو راپورو په پرتله په دې برخه کې ۱۳۱ ورځې کموالی ښودل شوی دی. د افغانستان برېښنا شرکت د داوطلبیو موده تر ډېره اوږده وه چې ورپسې د کابل ښاروالي او په درېیم نمبر کې د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت راځي، خو د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت د داوطلبۍ بهیر په منځنۍ موده کې ترسره شوی.<br><br>
د داوطلبیو لپاره د اوږدو مودو لوی لامل دا و چې د داوطلبۍ په ارزونه، د قرارداد په ورکړه او د کار د پیل بهیرونه ډېر وخت نیسي کوم چې د خصوصي سکتور د استازو په وینا اداري فساد لپاره زمینه برابروي او د داوطلبیو د خوندیتوب لپاره اېښودل شوې پیسې تر اوږدې مودې پورې پاتې کېږي، چې په راتلونکې کې د داوطلبانو د ناهیلۍ لامل کېږي.<br><br>
1. د افغانستان برېښنا شرکت، د کلیو پرمختیا او بیا رغونې وزارت او کابل ښاروالۍ زیاتره داوطلبۍ ارزول شوي او څرګنده شوې ده چې تر منځنۍ کچې (تر ٦٠ ورځو) زیات وخت یې د داوطلبۍ په بهیر لګول شوی دی، په داسې حال کې چې د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت زیاتره پروژې د ټاکلي منځني حد پرمهال (۳۰ ورځو) اجرا شوي دي.<br>
2. د داوطلبۍ د ارزونې بشپړېدو څخه د قرارداد تر ورکړې پورې په منځنۍ توګه تر ۱۰۰ ورځو پورې ځنډ راغلی. د افغانستان برېښنا شرکت، ورپسې د کابل ښاروالی او بیا د کلیو پراختیا او بیا رغونې وزارت په ترتیب سره د پروژو په داوطلبیو کې ډېر وخت لګولی دی. د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت د دوي په پرتله کمه موده کې دا بهیرونه
</td>
<td>
د داوطلبۍ موده د دې ښودونکې ده چې داوطلبي څومره په اغېزناکتوب او سم ډول ترسره شوې ده څو قرارداد یې په خپل وخت پیل شي او په دې توګه د اداري فساد زیان‌منونې او ګواښونه په کې راکم شي.<br><br>
د برېښنايي داوطلبۍ تګلاره چې له وړاندې د ملي تدارکاتو ادارې لخوا د (AGEOPS ) په پلیټفورم کې پېل شوې ده، کولی شي د عامه زېربنایي پروژو په تدارکاتو کې اغېزناکتوب او مساوات کچه زیاته کړي او په داوطلبیو باندې د خصوصي سکتور باور زیات کړي، په همدې اساس سپارښتنه کېږي چې:<br><br>
1. د ملي تدارکاتو اداره باید د عامه زېربنایي پروژو لپاره د برېښنايي داوطلبیو ځانګړنې او خدمات ټولو تدارکاتي ادارو ته پراخ کړي.<br>
2. تدارکاتي ادارې باید په عامه زېربنایي پروژو کې په بشپړ ډول د برېښنايي داوطلبیو تګلاره عملي کړي، د داوطلبۍ د ارزونې بهیر، د قرارداد په ورکړه او د کار د پېلولو یادښت په اجرا کې د ځنډ کچه کمه کړي.
</td>
</tr>
</table>

CONFIDENTIAL

<table dir="rtl">
<tr><td>ترسره کړي دي.<br>3. د قرارداد په ورکړه او د (NTP) په اجرا کې تر ټولو ډېر وخت د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې لیدل شوی او وروسته په دویمه کټګورۍ کې د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت دی. د ښاري پرمختیا او ځمکو وزارت او کابل ښاروالي په پروژو کې د (عرفاني سرک د پروژې پرته) د کار د پېلولو یادښت د قرارداد ورکړې سره سم اجرا شوی دی.<br>د افغانستان برېښنا شرکت په داوطلبیو کې د ځنډ په لاملونو پوهېدو شو ځکه چې د برېښنا لویې پروژو تدارکاتي چارې باید له ځانګړې دقت سره ترسره شي ځکه چې سیاسي او ټولنیز شرایط پرې اغېز لري. خو په پاتې نورو پروژو کې ځنډ د سختو اوږدو او بیوروکراتیکو طرزالعملونو له امله دي چې تر څنګ یې نور لاملونه هم شته.</td><td></td></tr>
<tr><td colspan="2">1.2.3 د لګښت براورد</td></tr>
<tr><td>د زېربنايي پروژو په ټولو ټاکل شویو نمونو کې د قراردادونو لګښتونه تر حقیقي اندازې زیات ټاکل شوي وو. د اټکل شوي او قرارداد شوو لګښتونو ترمنځ توپیر له ۲٪ څخه تر ۳۲٪ پورې وو، خو لا هم په زیاتره حالاتو کې د زیات ټاکل شوي لګښت حد څخه زیات شوی نه دی کوم چې د تدارکاتو په طرزالعمل کې ټاکل شوی .<br>خو، د زیات لګښت دغه دوامداره میلان ښايي د داوطلبۍ لپاره د سیالۍ په کچه او د توکو او خدماتو پر وړاندې د پیسو په ارزښت باندې ناوړه اغېز ولري، ځکه چې د داوطلبۍ د ارزونې ځانګړنې د پروژې د اټکل شوي لګښت له مخې ټاکل کېږي.</td><td>د لګښت لومړی براورد د داوطلبۍ د ارزونې د ځانګړنو ښودونکی دی، نو هر څومره چې براورد شوی لګښت لوړ وي، د داوطلبۍ د ارزونې ځانګړتیاوې به هم پورته وي.<br>د لګښتونو لوړ براورد ښايي د داوطلبۍ په بهیر کې په غیر ضروري ډول د داوطلبانو شمېر محدود وساتي، په همدې اساس سپارښتنه کېږي چې اړوندې تدارکاتي اداري دې د لګښتونو د بر اورد او محاسبې لپاره له عصري او غوره مېتودونو کار واخلي، او په عامه زېربنايي پروژو کې د زیاتو لګښتونو د براورد د مخنیوي لپاره دې اړین اقدامات ترسره کړي.</td></tr>
<tr><td colspan="2">6.3. د قرارداد مدیریت</td></tr>
<tr><td colspan="2">1.3<br>1.3.1 د وخت او لګښت زیاتېدل</td></tr>
<tr><td>د زېربنايي پروژو د ټاکلو نمونو له ډلې، ۱۳ پروژو په قراردادونو کې تر ۴۷ بدلونونه راوړل شوي دي چې د وخت، لګښت، او کار له پلوه وو. د وخت او لګښتونو اړوندو بدلونونو په پراخه توګه د پروژو د ځنډېدو او لګښتونو د زیاتېدو لامل شوي دي، چې دا پدیده د وخت او لګښت د زیاتېدو په توګه پېژندل کېږي.<br>1. په منځنۍ توګه تر ۴۶٪ د وخت زیاتوالی د زېربنايي پروژو په ټاکل شویو نمونو کې موندل شوی دی، چې د</td><td>د عامو لاملونو له کبله په دوامداره توګه په عامه زېربنايي پروژو کې د وخت او لګښتونو زیاتېدنه د اداري فساد زیان‌منې او ګواښونه زیاتوي. په حقیقت کې، د لګښتونو زیاتېدنه په پراخه توګه حکومت ته مالي زیانونه اړوي. په همدې اساس، د دې لپاره چې پروژې په خپل ټاکلي وخت، لګښت او محدوده کې بشپړې شي، سپارښتنه کېږي چې:<br>1. تدارکاتي اداري باید په هر اړخیز ډول د پروژو د ځانګړی</td></tr>
</table>

CONFIDENTIAL

تېر راپور په پرتله ۱۸,۳٪ کموالی ښيي. په ټوله کې په ۱۲ پروژو کې ځنډ رامنځته شوی، په داسې حال کې چې د ښاري پرمختيا او ځمکو وزارت په پروژو کې تر ۹۶٪ پورې ځنډ رامنځته شوی دی، دې پسې بیا په ترتیب سره د کابل ښاروالي، د افغانستان برېښنا شرکت او د ښاري پراختیا او ځمکو وزارت دی.

2. د دې ترڅنګ، د زېربنايي پروژو په ټاکل شويو نمونو کې تر ۱۰٪ د لګښتونو زياتوالی ليدل شوی دی چې له کبله يې په لګښتونو کې ۶,۲٪ زیاتوالی رامنځته شوی. د کليو پراختيا او بيارغوني وزارت پرته، د ټولو تدارکاتي ادارو په پروژو په لګښتونو کې زیاتوالی لیدل شوی دی. د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې تر ټولو ډېر ۱۷٪ د لګښتونو زیاتوالی راغلی، ورپسې په ترتیب سره د کابل ښاروالي او ښاري پرمختيا او ځمکو وزارت پروژې دي.

که څه هم يو شمېر بهرني لاملونه لکه د کوويډ – ۱۹ وبا رامنځته کېدل، د حکومت له لورې په مالياتو کې بدلونونه، ناوړه اقليمي شرايط، وو چې د پروژو په قراردادونو کې بدلونونه راوستل شول، خو د وخت، لګښت او کاري فعاليتونو بدلونونه د پروژې د ځانګړی کولو او چمتو کولو په پړاوونو کې ناسم اجراات او همدارنګه د قرارداد د پلي کولو پرمهال اداري طرزالعملونه هم د دې ډول ستونزو لاملونه ګڼل کېږي.

د نورو ټولو خنډونو ترڅنګ، د پروژې په فعالیتونو، سروی او طرحه کې کې بدلونونه، د ځمکو د استملاک او بیا مېشت کولو لانجې، په ځنډ سره د پيسو ورکړه، د تدارکاتي ادارو له لورې ناکافي څارنه او د قراردادیانو له خوا ناسمي کړنې د وخت او لګښتونو د زیاتېدو عمده لاملونه دي.

کولو او چمتووالي پړاوونو لپاره مفصلې پروسې له سره چمتو کړي چې له تېرو تجربو، دوامداره خنډونو او د سروی، طرحې، د لګښتونو براورد، مهالوېش او ځمکو د استملاک او بیا مېشت کولو د پلان د پړاوونو د رامنځته شويو ستونزو څخه په کې ګټه اخيستل شوي وي.

2. تدارکاتي اداري بايد د قرارداد د څارنې هر اړخيز مېکانيزم له سره طرحه کړي څو د وخت او لګښتونو د زياتېدو مخنيوی وشي او د اغېزناکتوب کچه زياته شي. په دې مېکانيزم کې بايد د تدارکاتي ادارو يا د هغوی د سلاکارانو له خوا د څارنې او پلټنې اصلاح شوې دندې، سرچينې، مېتودونو او کړنې تشريح شي.

### 1.3.2 تادیات

د خصوصي سکتور د استازو په وېنا، قراردادیانو ته د پیسو په ورکړه کې ځنډ د دې لامل شوی چې د پروژو چارې وځنډېږي او په عامه زېربنایي پروژو کې د داوطلبانو د لېوالتيا کچه کمه شي. د زېربنايي پروژو په ټاکل شويو نمونو کې د قراردادونو د پيسو د ورکړې په هکله د اطلاعاتو د شتون محدوديت او خلکو سره د شويو مرکو څخه لاندې پايلې اخيستل کېږي:

1. دوه عامې پروسې چې د تدارکاتي ادارو او خصوصي سکتور لخوا يې په هکله ادعاوې کېږي، مونډل شو چې ډېرې ستونزې لري او د اداري فساد له زيانمننو او ناسم مديريت له ګواښونو سره مل دي. ۱)د تدارکاتي ادارو له خوا د امتيازاتو تاييد، ۲) د ماليې وزارت له خوا د

د قرارداد د پيسو ورکړه پر وخت او اغېزناک ډول کولی شي په دولتي داوطلبيو د خلکو باور زيات کړي او د غير ضروري ځنډونو او لګښتونو د زياتوالي مخنيوی وشي. دا چې هر سپارل شوی انوايس بايد د تدارکاتي ادارو له لورې تاييد شي څو د پيسو د ورکړې تصديق يې ماليې وزارت ته اجرا شي او نور پړاوونه يې ترسره شي، په همدې اساس، تدارکاتي ادارو ته سپارښتنه کېږي چې د ماليې وزارت او د ملي تدارکاتو اداري سره په ګډه همکارۍ قراردادیانو ته د پيسو د ورکړې عنعنوي مېتود اصلاح شي او دغه لړې په انلاين ډول ترسره شي، لکه څنګه چې د کابل ښاروالی او د افغانستان برېښنا شرکت له لورې ترسره کېږي څو قراردادونه په ښه ډول وڅارل شي او پيسې يې په اسانۍ ورکړل شي.

CONFIDENTIAL

| | |
|---|---|
| معاملاتو په اجرا کې ځنډ<br>2. لکه څه چې د خصوصي سکتور د استازو له لوري ادعا شوې، د قراردادونو د پیسو ورکړه په منځني ډول له ۳ تر ۵ میاشتو کې شوې ده.<br>3. د تدارکاتي ادارو له لوري یادونه وشوه چې مالیې وزارت سره د هغو پروژو لپاره هم پیسې نشته چې د دولت له لوري په بودیجه کې ځای ورکړل شوی وي کوم چې د پیسو په ورکړه کې د ځنډ لامل بلل کېږي کوم چې په لږ تر لږه دوه پروژو کې لیدل شوی.<br>4. د (KUTEI ) په مالي ملاتړ د کابل ښاروالۍ ترسره شوې پروژو او د افغانستان برېښنا شرکت په پروژو کې د سلاکارانو پر مټ څارل شوې د قرارداد پیسې بې په منځني وخت کې ورکړل شوې دي.<br>5. | |

## 6.4. خصوصي سکتور

1.4

### 1.4.1 د ورتیا لوړول

| | |
|---|---|
| د پروژې د اطلاعاتو پرېښنتې او د تدارکاتي ادارو سره په ترسره شویو مرکو کې څرګنده شوه چې زیاتره خصوصي سیمه ایز شرکتونه د عامه تدارکاتو او پروژو د مدیریت په هکله کافي پوهه نه لري:<br>1. د ورتیاو دغه کمزوري د دې لامل شوی چې په دولتي داوطلبیو کې د لېوالتیا کچه کمه شي، یا نیمګړې او ناسمې داوطلبۍ سپارل کېږي چې د داوطلبیو د ارزونې له حد اقل معیارونو سره هم سمون نه لري.<br>2. د قرارداد د پلي کولو د پړاو پرمهال، لیدل شوي چې زیاتره قراردادیان په دې بریالي شوي نه دي چې کارونه پر وخت پیل کړي، د ګواښونو مدیریت په سمه توګه وکړي، په سمه توګه د کیفیت د کنټرول کړنلارې اداره کړي او له تدارکاتي ادارو سره اړین ارتباطات وساتي. | په عامه زېربنایي پروژو کې د پیسو د ارزښت د ډېروالي او پرمختیا لپاره د خصوصي سکتور ونډه اخېستل اړین دي. دا چې حکومت له خصوصي سکتور سره د پراخ او غوره مشارکت په موخه د تدارکاتي او مدیریتي پروسو په اصلاحاتو کار روان کړی، د افغانستان د ساختماني چارو ټولنې او د افغانستان د انجنیرانو ټولنې ته سپارښتنه کېږي چې په منظمه توګه د ورتیاوو د لوړولو اقدامات د سیمه ایزو انجنیرانو او ساختماني شرکتونو لپاره ترسره کړي څو د عامه تدارکاتو او پروژې د مدیریت په هکله د هغوی پوهه او ورتیاوې زیاتې شي. په ځانګړې ډول، دغه اقدامات باید د دې لامل شي چې سیمه یز شرکتونه په دولتي داوطلبیو کې د زېربنایي پروژو د لېږد د ښه والي په موخه په پراخه توګه ګډون وکړي. |

### 1.4.2 د دولتي او خصوصي سکتور ترمنځ خبرې اترې

| | |
|---|---|
| په ترسره شویو مرکو کې څرګنده شوه چې د احتمالي سیمه ییزو داوطلبانو او تدارکاتي ادارو نظرونه سره ټراو نه درلود او یو له بل سره توپیرونه زیات وو. د اړیکو دغه کمزوري له کبله باور خراب شوی او حتی د قراردادیانو، تدارکاتي ادارو او مالیې وزارت ترمنځ د لانجې د راپورته کېدو لامل شوی. | د افغانستان د ساختماني شرکتونو ټولنه د سیمه یزو شرکتونو او تدارکاتي ادارو په وصلولو کې د پام وړ رول لرلی شي څو د دوه اړخیزو موضوعاتو په هکله سره خبرې وکړي او د تدارکاتو د ښه والي د عامه زېربنایي پروژو د مدیریت لپاره وړاندیزونه وړاندې کړي. په همدې اساس، د افغانستان د ساختماني شرکتونو ټولنې ته |

CONFIDENTIAL


<table dir="rtl">
<tr><td>.</td><td>سپارښتنه کېږي چې د سیمه شرکتونو، قراردادیانو، تدارکاتي ادارو، ملي تدارکاتو ادارې او مالیې وزارت سره په منظم ډول د سلا مشورو غونډې ترسره کړي څو د ټولو ښکېلو اړخونو غړونه واورېدل شي.</td></tr>
<tr><td colspan="2">6.5. مدني ټولنې</td></tr>
<tr><td colspan="2">1.5<br>1.5.1 ټولنیزه ځواب ویینه</td></tr>
<tr><td>په AGEOPS کې له خپرو شوو اطلاعاتو ته د لاسرسي په تړاو حقوقي احکام په ټولګټو زېربنايي پروژو کې د روښتیا او ځواب ویینې د زیاتوالي لپاره پیاوړې وسایل دي. خو، د زېربنايي پروژو په ټاکلو نمونو کې د مدني ټولنې فعالیت او څارنه ډېره کمه تر سترګو شوې ده.</td><td>مدني ټولنې ته سپارښتنه کېږي چې داسې برنامې چمتو کړي چې په عامو انلاین پورټالونو کې خپاره شوې اطلاعات وکاروي او خلکو ته د تدارکات او مدیریتي سیسټمونو د پرانیستوالي او اغېزناکتوب په هکله په منظم ډول ډاډ ورکړي. همدارنګه، سپارښتنه کېږي چې مدني ټولنه دې د ټولګټو زېربنايي پروژو په تړاو د خلکو د غړونو او اندېښنو د پورته کولو او ښکېلو اړخونو د ښکېلتیا لپاره سلا مشورې وکړي.</td></tr>
</table>

CONFIDENTIAL

# ضمایم

## الف ضمیمه: د څېړنې مېتودولوژي

په دې څېړنه کې تر ډېره په کمي مېتود تمرکز شوی، خو له کیفي تګلارې هم ګټه اخېستل شوې ده. دا څېړنه څلور لوی پړاوونه لري: ۱) د پیل راپور، ۲) د اطلاعاتو ټولونه او د مېز د سر کتنې، ۳) ساحوي لیدنې، ۴) د داډ راپور. په دویم چارټ کې د څېړنې د هرې پروسې بېلابېل پړاوونه ښودل شوي دي:



## ب ضمیمه: په فعاله بڼه په خپله د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د اطلاعاتو معیار

| د پروژې په کچه د اطلاعاتو نښې | |
|---|---|
| **د پروژې د بشپړولو پړاو پای** | **د پروژې د ځانګړي کولو او چمتووالي پړاو پای** |
| 1.د خپرولو نېټه | 1.د اطلاعاتو خپرول |
| 2.د پروژې نوم | 2.د پروژې د ټاکلو میتودونه (حکومت د پروژې په هکله څنګه پوه شو) |
| 3.تدارکاتي اداره | 3.سکتور، فرعي سکتور |
| 4.د بشپړېدو لګښت | 4.د پروژې نوم |
| 5.د بشپړېدو نېټه | 5.د پروژې ځای |
| 6.د بشپړتیا محدوده | 6.د پروژې موخه |
| 7.د تفتیش او ارزونې راپور ماخذ | 7.د پروژې محدوده (اساسي محصول) |
| 8.د خوندیتوب معیارونه (پیښې او مړینې) | 8.چاپېریالیزې اغېزې (که وي) |
| 9.د اړیکو اطلاعات | 9.د ځمکې او مېشت کېدو اغېزې (که وي) |
| | 10.د تمویل سرچینې |
| | 11. پروژې د بودیجې د منظورېدو نېټه |
| | 12.د پروژې اټکل شوی ارزښت |
| | 13.د اړیکو اطلاعات |

| د قرارداد په کچه د اطلاعـاتو نښې | |
|---|---|
| **د قرارداد د پلي کولو په هرو شپږو میاشتو کې** | **د تدارکاتو پای / د قراداد د ورکړې پړاو** |
| 1. د خپرولو نېټه | 1. د خپرولو نېټه |
| 2. د قرارداد نوم | 2. د قرارداد نوم |
| 3. تدارک کوونکې اداره | 3. تدارکاتي اداره |
| 4. قراردادي یا سلاکار | 4. تدارکاتي اجراات (عمومي کړنې) |
| 5. د قرارداد د پیل نېټه | 5. د قرارداد پول |
| 6. د قرارداد موده | 6. د داوطلبۍ د خوندیتوب پول او کچه |
| 7. د قرارداد اصلي لګښت | 7. په داوطلبۍ کې برخه اخېستونکې شرکتونو شمېر |

CONFIDENTIAL

| | |
|---|---|
| د قرارداد د فزيکي پرمختګ کچه (٪) 8. | د قرارداد ګټونکی شرکت 8. |
| د پروژې د برخو تشريح 9. | د لګښتونو اټکل 9. |
| د قرارداد په محدوده کې بدلون له عواملو سره 10. | د قرارداد بيه (افغانۍ) 10. |
| ټول اغېزمن شوی مقدار پيسې 11. | د قرارداد/پروژې د تدارک د اعلان نېټه 11. |
| د قرارداد د مستردولو اطلاعات (که وي) 12. | د قرارداد د ورکړې نېټه 12. |
| لانجمن موضوعات 13. | د قرارداد د کار محدوده 13. |
| د خونديتوب معيارونه 14. | د قرارداد پېل او پای او موده 14. |
| د اړيکو اطلاعات 15. | د قرارداد د تدارک د اعلان لپاره کومه رسنۍ کارول شوې 15. |
| **د قرارداد بشپړول** | د بيا څلي داوطلبۍ نېټه او لامل 16. |
| د خپرولو نېټه 1. | د اړيکو اطلاعات 17. |
| د قرارداد نوم 2. | |
| تدارکاتي اداره 3. | |
| د قرارداد د لګښت زياتوالی 4. | |
| د قراداد په موده کې بدلون 5. | |
| د قراداد په محدوده کې بدلون 6. | |
| د بيې د بدلون عوامل 7. | |
| د محدودې او بيې د بدلون عوامل 8. | |
| د اړيکو اطلاعات 9. | |

## درېيمه ضميمه: د غوښتنې پربنسټ د اطلاعاتو د خپرولو لپاره د معيار توکي

| د پروژې اطلاعات | |
|---|---|
| **د پروژې د بشپړولو پړاو** | **د څانګړي کولو او چمتووالي پړاو** |
| 1. د پلي کېدو د پرمختګ راپور | 1. څو کلنه برنامه او بوديجه يې |
| 2. د بوديجې د بدلون پريکړه | 2. د پروژې اطلاعات يا د امکان مطالعه |
| 3. پروژې د بشپړتيا راپور | 3. د چاپېرياليزو اغېزو ارزونه |
| 4. پروژې د ارزونې راپور | 4. د بيا مېشت کولو پلان |
| 5. د تفتيش تخنيکي راپورونه | 5. د پروژې چارواکي او د هغوی دندې |
| 6. د مالي تفتيش راپورونه | 6. مالي هوکړه |
| | 7. تدارکاتي پلان |
| | 8. پروژې د منظوريدو پريکړه |

CONFIDENTIAL

| د قرارداد اطلاعات | |
|---|---|
| **قرارداد** | **د قرارداد د پای یا ورکړې پړاو** |
| 1. د قرارداد هوکړه او شرایط<br>2. د شرکت ثبت او مالکیت<br>3. څانګړنې او طرحې | 1. د قرارداد چارواکي او د هغوي دندې<br>2. تدارکاتي میتود<br>3. د داوطلبۍ اسناد<br>4. د داوطلبۍ د ارزونې پایلې<br>5. د پروژې د طرحې راپور |
| **د قرارداد بشپړتیا** | |
| 1. د بدلونونو، تغیراتو او تعدیلاتو لیستې<br>2. د زیاتوالي لیست<br>3. د کیفیت د تضمین راپور<br>4. د وېش یادښت یا د تادیاتو تصدیقونه<br>5. د قرارداد تعدیلونه | |

CONFIDENTIAL